


# کیمیاګر

لیکوال: پاولو کویلو
ژباړن: فیض الحسن ځلاند

له کتابه:

په هغه لحظه کې هلک داسې احساس کړه چې د خپل ژوند د یوازینۍ ښځې په مخکې ولاړ دی او نجلۍ هم همداسې احساس کاوه. هلک په دې موضوع د نړۍ تر ټولو موضوعاتو ډېر باور درلود، په مینه! له مور او پلار څخه یې اورېدلي وو چې باید مین شي او خپله ښځه ښه وپېژني.

لمریز ۱۴۰۰

# کیمیاگر

لیکوال: پاولو کوئلو

ژباړن : فیض الحسن ځلاند

**کال: ۱۴۰۰ هـ ل**

# د لوی څښتن په پاک سپیڅلي نوم!

**د ژباړن لنډه پیژندګلوي:**

**فیض الحسن ځلاند د ارواښاد ډګروال حبیب الله زوی، د وردګو د سید آباد ولسوالۍ د شنیز درې د لېرم کلي څخه دی چې دا کتاب یې درېیمه ژباړه ده او اوس مهال ښاغلی ځلاند د فارسي پوهنځی لولي.**

## سریزه

د لوی څښتن په پاک سپیڅلي نوم؛

دا کتاب چې تاسې یې لولئ د مشهور برازیلي لیکوال پاولو کوئلو دی چې کتابونه یې ډېر زیات مشهور او محبوب دي او په ځانګړي ډول دا کتاب چې د نړۍ ډېرو او ژوندیو ژبو ته ژباړل شوی دی. دا کتاب دوه نورو ژباړونکو هم پښتو ته ژباړلی دی او فکر کوم درېیم ځل ښاغلي فیض الحسن ځلاند وژباړلو خو ځلاند صېب خبر نه و چې دا کتاب پخوا هم ژباړل شوی دی. کله چې یې ما سره دا خبره شریکه کړه نو ما کتاب وکوت او ښه خبره دا ده چې خوږ او روان ژباړل شوی دی او ځینې کتابونه که بیا بیا هم وژباړل شي او مختلفې بڼې ولري نو غوړي لا غوړ!

دا کتاب باندې غږېدل زما د وس کار ندی او نه هم د کتاب کښښ باید دلته راکم کړو، همدومره بس ده چې واویو لیکوال د تاریخ، ادیانو او فرهنګونو ډېره ښه مطالعه کړې او بیا یې ترې په دې اثر لیکلو کې کار اخیستی دی، د کیسې د کښښ سره سم یې هره پاڼه کې یوه داسې مکالمه ځای پرځای وي چې سړی وایي دا خو مې په سرو زرو لیکلي وای. په کتاب نور نه غږېږم خو د ښاغلي فیض الحسن ځلاند هڅې او خواری ډېر ستایل پکار دي چې دا کتاب یې ژباړلی او بیا یې وړیا د موږ علمي بنسټ او سیکارام په واک کې د وړیا خپرولو لپاره ورکړ. دا کتاب باید ډېر وختې خپور وای خو دا چې د وطن ناخوالو او د ژوند سیلۍ له یوه ځایه بل ځای ته لکه خس و خاشاک یوړو نو دا کتاب هم پوره دوه کاله وځنډېد چې باید نه وای. موږ علمي بنسټ سره د ښاغلي فیض الحسن ځلاند یو بل کتاب هم انلاین خپور دی چې د اوشو لخوا د مېډېټېشن په نوم لیکل شوی او ښاغلي ځلاند ژباړلی دی چې نوموړی کتاب وروسته د "کور" موسسې او مشر ښاغلي فرید بزګر لخوا چاپ شو. د ښاغلي ځلاند دا درېیمه ژباړه ده او د ژباړې تر څنګ پرې خدای ډېر ښه شخصیت، د درملنې د زده کړو لیوالتیا او د ادبیاتو لیونۍ مینه هم لورولې. د لوی څښتن له پاک دربار ورته د لا خدمت توفیق او د د دغه مزل دوام غواړو او د خپلې کوتاهۍ او د دغه کتاب د خپرېدو ځنډ له امله له ټولو لوستونکو او ښاغلي فیض الحسن ځلاند په ډېر عجز

ښښنه غواړم او که د کتاب ډیزاین، سمونې او یا هر څه کې وړه یا لویه تېروتنه شوې وي د هغه هم له تاسو درنو لوستونکو ښښنه غواړم او هیله لرم ما او ژباړن ته دا تېروتنې او خپل نظرونه راوستوي چې بل ځل یې له تکرار مخنیوی وکړو.

د یو سوکاله، هوسا او آباد افغانستان په هیله!

د موړ علمي بنسټ مشر

احمد سمون شریفي

## لومړی برخه

د هلکي نوم (سانتياګو) و، د ماښام تياري په راخوربدو وې چې يوې خرابې کليسا ته ورسېد. د کليسا چت ډېر وخت مخکې راغورځېدلی و او په يو کونج کې يې غټ چنار و چې مخکې يې لمنه د مقدسو لوښو د ايښودلو لپاره کارېدله..

پرېکړه يې پر دې شوه چې شپه به همدلته تېروي. ټول پسونه يې د ماتې دروازې له لارې کليسا ته ننوېستل او دروازه يې په يو څو لرګيو او دړو بنده کړه تر څو د شپې کوم څاروی بهر ونه وزي. په دې ساحه کې د لېوه چندان درک نه و خو يوه ورځ يې پسه ورک شوی او ټوله ورځ پسې سرګردان و، له همدې نه وېرېده.

له ځمکې يې دوړې او خاورې وشړلې، خپل چادر يې هوار کړ او آرام څملاست. هغه کتاب چې لږ وړاندې يې پای ته رسولی و تر سر لاندې کښېښود او ويې ويل: بايد تر دې نه هم غټ کتابونه ولولم، يوه ګټه يې دا ده چې لوستل يې ډېر وخت غواړي، دوهمه دا چې ښه بالښت هم کېدای شي.

کله چې راويښ شو، هوا لا تياره وه. سترګې يې د کليسا د مات مات چت له چاک څخه په پاس ځلېدونکيو ستورو ولړېدې. له ځان سره يې وويل: کاش لږ ډېر ويده شوی وای. بيا يې هماغه د تېرې اونۍ خوب ليدلی و او د تېر په څېر د خوب له پای ته رسېدو وړاندې راويښ شوی و. له ځای نه جيګ شو او خپل لرګی يې ورسره واخيست، ورغی چې ويده څاروي راويښ کړي. پوه شو چې همدا چې دی له خوبه راپاڅي، څاروي هم سره خوځېږي. د ژبې لاندې يې وويل: دا دوه کاله مې په ځای ځای کې څرولي دي او شپې ورځې مې ورسره تېرې کړي دي، دومره راسره عادت شوي دي چې آن د ويده

کېدو او راوېښېدو وخت مې هم پېژني. په فکر کې لاړ او دا ځل یې دا پایله واخیسته چې ښایي کیسه سرچپه وي یعنې دی د ځارویو د خوب او راوېښېدو له وخت سره عادت شوی وي.

په دې حال کې، ځینې پسونه لږ په ځنډ راوېښېدل. په خپل لرګي یې ښورول او راوېښول یې. کله کله به یې پسونو ته په نامه غږ ورکاوه او کله به یې هم د کتاب ځینې جالبې برخې په ډېر شوق ورته لوستلې، ته به وایې چې پسونه هم ورته ځیر او غوږ دي!

خو په دې وروستیو ورځو کې یې یوازې د هغې په اړه خبره کړې وې. هغه نجلۍ د سوداګر لور وه او په یو لیرې کلي کې اوسېده. د هغوی تر کلي ځلور ورځې لار وه. سوداګر د وړیو پلورنځی درلود او د دې لپاره چې ځوک چل ورسره ونه کړي غوښتل یې چې د پسونو وړی دده په مخ کې ورته وشکوي. یو هلک سانتیاګو ته د دې پلورنځي پته ورکړې وه او دی هم پروسږ کال هلته ورغلی و.

***

هلکی دوکاندار ته مخامخ کیناست او ویې ویل: غواړم یو څه وړی وپلورم. په پلورنځي کې ډېره ګڼه ګوڼه وه. دوکاندار ورته وویل چې باید تر مازیګره په تمه شې. د پلورنځي په پوړیو آرام کښناست او له خپلې خلطې څخه یې یو کتاب راواېست تر څو د انتظار وخت پرې تېر کړي. یو ښځینه غږ یې شاته واورېدل شو: زه نه پوهېدم چې شپانه هم لیک او لوست کولای شي. نجلۍ د اندلس د نجونو په څېر ښکارېده. خړ وېښتان او تکې تورې سترګې. هلک ځواب ورکړ: هو، ما له کتابونو څخه ډېر څه زده کړي دي.

دوه ساعته خوږ مجلس یې سره وکړ. د خبرو په جریان کې نجلۍ ورته وویل چې دا د دې سوداګر لور ده. همدارنګه یې د کلي د ژوند په اړه هم ډېرې خبرې وکړې. هلک هم د آندلس د دښتو او هغه ښارونه چې لیدلي یې وو، کیسې ورته پیل کړې. خود به یې کیسې کولې ځکه د پسونو پر ځای یې یوه په طبعه برابره اورېدونکې موندلې وه.

نجلۍ پوښتنه ترې وکړه: څنګه دې لوستل زده کړي..؟

هلک ځواب ورکړ: د نورو په شان، په ښوونځي کې.

- ښه نو، چې لیک او لوست دې زده دی ولې شپون شوې..؟

هلک ځان تېر راوست. پوهېده چې نجلۍ به دده دلیل درک نه کړي. بېرته یې د خپلو سفرونو خاطرات راتازه کړل. د خبرو په جریان کې د نجلۍ په تورو سترګو کې عجب ډار او هیجان مالومېده. هلک ته هم ګپ شپ خوند ورکړی و او هیله یې کوله چې دا ورځ هېڅ پای ته ونه رسېږي. کاش د نجلۍ پلار درې ورځې همداسې بوخت وي او دی همدلته پوخ واړوي. عجیب احساس ورته پېښ شوی و؛ په یو ځای کې او د دې تورو سترګو واله نجلۍ سره یوځای ژوند. بلآخره سوداګر راغی او له هلک نه یې

وغوښتل چې د څلورو پسونو وړې ورته وتراشي. د وړيو پيسې يې ورکړې او ترې ويې غوښتل چې بل کال بيا راشي.

اوس نو يوازې څلور ورځې پاتې وې چې هغه کلي ته ورسېږي. سخت په هيجان کې و او د نارامی احساس يې کاوه. له ځان سره يې فکر کاوه چې ښايي نجلی هېر کړی وي، هغه کلي او پلورنځي ته خدای زور شپانه ځي او راځي.
بيا يې پسونو ته مخ کړ او ويې ويل: څه بابا! مهمه نه ده، کولای شم له نورو ښو نجونو سره وپېژنم!
خو؛ په زړه کې يې دا حس کاوه چې هغه نجلی ارزښت ورته لري. پوهېده چې شپانه، سوداګران او نور ګرځند پلورونکي هرومرو په بل ښار کې داسې څوک لري چې په باندار يې د سفر ستړيا ورکيږي.
د لمر لومړی وړانګې په خپرېدو وې چې هلک خپله رمه د ختيځ خواته مرش کړه. له ځان سره يې فکر وکړ: پسونه هېڅکله پرېکړې کولو ته اړتيا نه لري، ښايي همدا وجه ده چې تل به له ما سره پاتېږي. له بلې خوا د پسونو يوازنی اندېښنه د اوبو او وښو په اړه وه! د هغوی له کتابونو، ښارونو او بلاوبترو سره کار نه و او ټول عمر يې همداسې عادي تېرېده. يوازې اوبه او واښه يې غوښتل او په ټول سخاوت يې خپلې وړی تر شپانه ځار کړې وې. يو يو وار خو يې غوښې هم په درد خوړل.
د پرون ماښام له پاتې شرابو يې يو غوړپ وکړ او خپل څادر يې لا هم تر سر تاو کړ. پوهېده چې څو ګړی وروسته لمر د آسمان مېنځ ته راځي او هوا دومره ګرمېږي چې نهشي کولای رمه له دښتې څخه پورې باسي. د اوړي په موسم کې ګرمي دومره ډېره وه چې د ټولې آسپانيا خلک به ټوله ورځ ويده وو. ګرمي تر ماښامه ختمېدله.
په ژوند کې د ده موخه سفر وه. د دې سفرونو او ګرځېدا له برکته د اندلس په کونج کونج کې بلد و. نيت يې دا و چې که له نجلی سره ووينې؛ دا ورته ووايي چې يو ساده شپون څنګه ليک او لوست زده کولی شي..؟ تر ۱٦ کلنی يې په ښوونځي کې ديني علوم لوستي وو ځکه مور او پلار يې غوښتل کشيش ځنې جوړ کړي تر څو په کور کلي کې د دې ساده کورنۍ سر پرې لوړ شي. د هغه آسپانوي ژبه، لاتين ژبه او الهيات زده وو خو له هماغه کوچنيوالي يې د سفر شوق درلود او دا له ديني علومو او ښوونځي څخه ورته مهم و. يو مازديګر يې خپل پلار ته وويل چې نور نه غواړي چې کشيش شي بلکه غواړي چې په سفر ووځي.
پلار يې ورته وويل: له نورو هېوادونو څخه دې کلي ته په سلګونه او زرګونه خلک راغلي دي خو کله چې تلل، هېڅ کوم ځانګړی فرق پکې نه و راغلی.
هلک ځواب ورکړ: خو زه غواړم د هغوی ښارونه ووينم!
پلار يې وويل: هغه خلک چې سفر ته ځي، پرېمانه پيسې لري، خو زموږ په منځ کې يوازې شپون سفر کولای شي!
- نو زه به هم شپون شم!

پـلار یـې نـور څـه ونـه ویـل. بلـه ورځ یـې زوی تـه یـوه وړوکـې خلطـه ورکـړه چـې پـه مـنځ کـې یـې درې زړې اسپانوي سکې وې. ویې ویل:

یوه ورځ مې دا سکې په پټـې کې پیدا کړې، غوښـتل مـې تاتـه یـې پـه میراث پرېـږدم خـو اوس! ځـه لاړ شـه او ځانتـه رمـه پـرې واخلـه. لاړ شـه وگرځـه خـو یـوه ورځ بـه پـوه شـې چـې زمـوږ کلـی او دښـتې تـر ټولـو کلیـو ښکلی او ښځې مو تر ټولو نورو ښځو ښکلې دي.

وروسته یې زوی ته د خیر دعاء وکړه او رخصت یې کړ.

لـمر رو پـه افـق کـې ځـان ښـکاراوه. هلـک لـه ځـان سره سـوچ کـاوه او ډېـر خـوښ و. تـر اوسـه یـې ډېـر ځایونـه او ډېـرې ښـځې لیـدلې وې خـو یـوه هـم بلـې تـه ورتـه نـه وه. د ده ټولـه شـتمني یـو غـټ څـادر، یـو کتـاب چـې کـولای یـې شـوای لـه بـل نـوي کتـاب سره یـې معاملـه کـړي او رمـه یـې وه. خـو څـه چـې ارزښـت درلـود هغـه دا وو چـې هـره ورځ سفر وکـړي او خپـل خوبونـه پـه حقیقـت بـدل کـړي. کـه کومـه ورځ د اندلس له دښـتو نـه بېـزاره شـو، کـولای یـې شـوای چـې رمـه خرڅـه او لـه سـیندونو اخـوا تېـر شي. پـه دې سره یـې کـولای شـوای نـور ښـارونه او نـور خلـک ووینـي او د خوښـې لپـاره نـور فرصـتونه لاس تـه راوړي. همداسـې چـې د لـمر راختلـو تـه یـې کتـل وې ویـل: هېڅکلـه مـې نشـوای کـولای خـدای د مدرسـې پـه څلورو دیوالونو کې وموم!

د سفر پـر وخـت بـه تـر شوني بریـده پـه بېلابېلـو لارو تللـو. پـه دې لاره ډېـر پخـوا تللـی و. لـمر تـه پـه کتـو یـې لـه ځـان سره وپتېیلـه چـې د غرمـې نـه وړانـدې بـه (طـاریف) تـه ورسـېږي. نیـت یـې درلـود چـې هلتـه خپـل کتـاب لـه یـوه بـل غـټ کتـاب سره بـدل کـړي او د شرابـو کـوزه یـې ډکـه کـړي. حتـی غوښـتل یـې لـږ پـه ځـان گـوتې ووهـي تـر څـو د نجلـی سره لیـدلو لپـاره تیـار شي. حتـی دې فکـر تـه یـې هـم اجـازه نـه ورکولـه چـې ښـایي لـه ده نـه یـو مالـداره شـپون یوکـال مخکـې کـلي تـه تللـی وي او نجلـی یـې ځـان تـه غوښـتې وي. لـمر تـه لـه بیـا کتلـو سره یـې گامونـه پسـې چابـک کـړل او وې ویـل: بایـد خـوب تـه مـې ورسـېږم، داسـې بـه ژونـد لا هـم راتـه ښـکلی شي. ناڅاپـه یـې پـه یـاد شـول چـې پـه طـاریف کـې یـوه زړه ښځه خوبونه تعبیروي.

***

زړې ښـځې هلـک شـاتنۍ کـوټې تـه بـوت. دا کوټـه لـه هغـې بلـې نـه د یـوې ښـکلې پـردې پـه واسـطه جـلا کـړل شـوې وه. پـه کوټـه کـې دوه چـوکۍ، یـو مېـز او یـوه د عیسـی علیـه السـلام مجسـمه وه.ښـځه کښېناسـته او هلـک تـه یـې هـم د کښېناسـتلو وویـل. وروسـته یـې د هلـک دوواړه لاسـونه ونیـول او آرام آرام یـې یـوه دعـا پیـل کـړه. دعـا یـې کولیـانو تـه ورتـه وه. دې مخکـې هـم لـه کولیـانو سره مخ شـوی و. هغـوی (کولیـان؛ یـو قـوم و.ژ) بـه تـل پـه سفر کـې وو خـو هـېڅ رمـه یـې نـه درلـوده. اورېـدلي یـې وو چـې کولیـان هـېڅ کاروبـار او معـاش نـه لـري بلکـه د نـورو پـه غولولـو پیسـې پیـدا کـوي. همداسـې یـوه بلـه

بابولاله هم وه چې له شيطان سره يې عهد کړی دی او کوچني ماشومان تښتوي کوي او غلامی ته يې اړ باسي.

هلک له کوچنيوالي څخه د کوليانو له نوم ډارېده. اوس يې چې بوډۍ لاسونه ونيول بيا هغه احساس پکې ژوندی شو خو د عيسی عليه السلام مجسمې ته په کتلو يې زړه ډاډه شو.

ښځې وويل: ډېره جالبه ده او بيا غلې شوه.

هلکی اندېښمن شو او لاسونو يې په لړزېدلو پيل وکړ. هلک په ډېر سرعت خپل لاسونه د بوډۍ له لاسونو راوايستل او ويې ويل: زه دلته نه يم راغلی چې بخت او طالع مې وگورې! خداييچې شي لومړی يې پر دلته راتگ پښېماني وښودله، زړه يې و چې د بوډۍ پيسې ورکړي او د هغه خوب په اړه چې دوه ځله يې ليدلی و هېڅ ورته ونه وايي او همداسې ترې لاړ شي.

بوډۍ وويل: زويه! ته دې د خوب د تعبير لپاره دلته راغلی يې او خوبونه د خدای ژبه ده. که خدای له مونږ سره زمونږ په ژبه خبرې کوي زه يې تعبيرولای شم او که د روح په ژبه دې خبرې وکړي يوازې ته يې په پيغام پوهېدلی شې. په هر صورت، زه خپله اجوره اخلم.

هلک وويل: ما دوه ځلې خوب وليده چې په کرونده کې مې له رمې سره يم، ناڅاپه يو ماشوم راپيدا شي او زما له پسونو سره په لوبو پيل کوي. زه نه غواړم چې هغه دا کار وکړي ځکه زما رمه له پردي وېرېږي.

بوډۍ وويل: د خوب په اړه دې نور ووايه! که کومه پيسه درنه خېژي خو هغه ده کنه چې ډېر وخت درسره ضايع نه کړم.

هلک ځواب ورکړ: هغه ماشوم د رمې سره لږ لوبې وکړې، وروسته يې ناڅاپه زما لاسونه ونيول او زه يې د مصر اهرامونو ته بوتلم. شپون لږ دمه وکړه چې پوه شي چې بوډۍ د مصر اهرامونه پېژني که نه خو بوډۍ هېڅ ونه ويل. ماشوم ما ته وويل چې که دلته راشې يوه لويه خزانه به ترلاسه کړې، په همدې مهال چې د خزانې دقيق ځای راښايي له خوب نه راپاڅېدم، دوه ځله.

بوډۍ حيرانه شوه او د هلک لاسونه يې بيا ونيول او ورته ځير شوه. له لږ سوچ وروسته يې وويل: اوس زه له تا نه هېڅ اجوره نه اخلم خو وعده وکړه چې که هغه خزانه دې ومونده يو پر لسمه برخه يې زما ده.

هلک وخندل. يوه د رضايت ښکاروونکې خندا. د دې رويايي خزانې په لالچ يې کولای شول دا شته يو څو پوله هم ورسره وساتي. بيا يې وويل: ښه نو، اوس زما خوب راتعبير کړه! بوډۍ دا ځل بيا په ټينگار وويل: لومړی قسم وخوره چې د خزانې يو پر لسمه برخه به زما وي.

شپانه قسم وخوړ او بوډۍ ورته وویل: دا خوب د دې نرۍ په ژبه دی او زه یې تعبیرولای شم خو ځکه چې تعبیر یې ډېر سخت دی، د خزانې یو پر لسمه برخه مې خپل حق وګڼه؛ اوس نو غوږ شه: ته باید د مصر- اهرامونو ته لاړ شې، که څه هم ما یې نوم لا نه دی اورېدلی خو که هغه ماشوم درښودلی وي حتما شتون لري، هلته به داسې خزانه پیدا کړې چې تا به ډېر شتمن کړي.

هلک لومړی حیران او وروسته غوسه شو، خو ورياد شول چې څه پیسې خو هسې هم نه پرې ورکوې، ورو یې وویل: د دې چټیاتو لپاره مې هسې وخت ضایع کړ! بوډۍ وویل: ما خو لومړی هم درته  وویل چې د خوب تعبییر دې سخت دی.

هلک وویل: ښه نو اوس مصر ته ځان څنګه ورسوم..؟

بوډۍ وویل: زما دنده د خوبونو تعبیر ده، نه په حقیقت بدلول.

- او که مصر ته لاړ نشم څه..؟
- زما پیسې به هم وسوځي، څه خیر لومړی ځل نه دی چې داسې راسره کیږي. د دې خبرې سره یې له هلک نه وغوښتل چې لاړ شي. د هغې په وینا د هلکي لپاره یې ډېر وخت ضایع کړی و.

هلک ناهیلی شو او ویې ویل چې هېڅکله به مې خوب تعبیر نه کړم. یوه دوکان ته لاړ چې یو څه وخوري. خپل  کتاب یې هم بدل کړ او یوې ګوښې ته ودرېد چې شراب وڅښي. هوا ګرمه وه او تنده یې په شرابو ماته کړه. رمه یې د یو ملګري په سرای کې درولې وه. هلک په دې ښار کې ډېر خلک پېژندل او همدا یې سبب و چې له سفر سره یې مینه درلوده. تل به له نویو ملګرو سره آشنا کېده خو ډېر وخت یې نه ورسره تېراوه ځکه یو نفر که هره ورځ ووینې نو دوی هم لکه د مدرسې ملګري درته ګرځي. که انسان هغه ډول نشي- چې نور یې غواړي تري خفه کیږي. ټول پوهېږي چې پلانکی باید څه ډول ژوند وکړي خو د خپل ژوند په اړه هېڅ پلان او نظریه نه لري.

پرېکړه یې وکړه چې د لمر تر لوېدو پورې صبر وکړي او وروسته له رمې سره دښتې ته لاړ شي. درې ورځې وروسته یې د سوداګر لور لیدله. د نوي کتاب په لوستلو یې پیل وکړ، په لومړی پاڼه کې یې د کومې جنازې د مراسمو تشریح لیکلې وه. د نومونو تلفظ ډېر ورته سخت وو. له ځان سره یې چورت وواهه؛ که کومه ورځ کتاب ولیکم، شخصیتونه یو یو معرفي کوم تر څو لوستونکي سرګردانه نه شي. دی د کتاب په لوستلو بوخت و چې یو بوډا یې ترڅنګ کېناست او د خلکو تصویر ته په اشاره یې وویل: هغوی څه کوي..؟ هلک داسې وښودله چې کتاب ته یې ځیر دی، په لنډه یې وویل: کار کوي. په حقیقت کې یې د سوداګر د لور په مخکې د پسونو د وړیو د شکولو په اړه فکر کاوه. په دې کار سره نجلی پوهېدله چې هلک له داسې سختو کارونو څخه هم وتلی شي. دا څو ورځې یې همدا پلان په ذهن کې ګرځېده. هڅه یې وکړه چې د وړیو د شکولو په اړه جالبې کیسې هم تر غوږ ورتیرې کړي ترڅو نوره یې هم راجذب کړي.

په همدې وخت کې بوډا هڅه کوله چې باندار ورسره واچوي خو هلکي وخت نه ورکاوه.  هلک ته يې وويل چې تږی یم. ده د شرابو بوتل وروړاندې کړ ترڅو لاس تړې واخلي خو بوډا په داسې اسانه لاس اخيستونکی نه و او بیا یې د کتاب د منځپانګې په اړه تړې وپوښتل. هلک کتاب په لاس ورکړ او دې کار يې دوې وجې درلودې، لومړی دا چې د کتاب د نوم له صحي تلفظ نه ډاډه نه و او دوهم دا چې بوډا سواد نه لاره نو خجالت کېده او مجبورېده چې نور له هلک لاس واخلي.

بوډا کتا ب په داسې شکل سره ښکته پورته کړ لکه له عجب څه سره چې مخ شوی وي وې ويل: هممم، ډېر اوږد او سترٍی کوونکی خو په ضمن کې اړين کتاب دی!

هلک حيران شو. ښه نو بوډا هم لوست کولای شي او دا کتاب يې وړاندې لوستی دی..؟

بوډا خبرې اوږدې کړې: دا کتاب هم د نورو کتابونو په څېر يو څه وايي. موضوع يې د خلکو بې لياقتي او د خپل برخليک په ټاکلو کې ناتواني ده. او د دې په ويلو سره چې د ( نرۍ تر ټولو لوی درواغ) باندې باور لري؛ پای ته رسي.

هلک حيران وپوښتل: د نړۍ تر ټولو لوی درواغ څه دي..؟

- د ژوند به يوه مرحله کې انسان داسې ځای ته رسېږي چې هغه څه چې وربانډې راځي نشي‐ کنټرولولای. بلاخره بيا هم برخليک !! دا د نړۍ تر ټولو لوی درواغ دي!!!

هلک وويل: دا بلا هېڅکله په ما نه ده راغلې، مور او پلار مې غوښتل چې کشيش شم خو زه په خپله خوښه شپون شوم.

بوډا وويل: ډومره ښه! ځکه چې سفر دې خوښ دی!

هلک له ځان سره وويل: هغه زما فکر لولي. په دې وخت کې بوډا کتاب سره اړولو او په ښکاره يې د بېرته ورکولو نيت نه درلود. هلک د بوډا کاليو ته متوجه شو. ډېر جالب ورته ښکاره شول، د عربانو په شان وو چې په هغې سيمه کې عادي وو. ځکه طاريف له آفريقا سره ډېر نږدې و، هلته د تګ لپاره بايد په کښتی کې له يوه تنګي څخه تېرېدلای. د ورځې هم په بازار کې عربان ښکته پورته کېدل او خپلې عجيبې غريبې دعاګانې به يې لوستلې.

هلک له بوډا نه وپوښتل: د کوم ځای يې..؟

بوډا وويل: د ډېرو ځايونو.

هلک وويل: هېڅوک نه شي کولای د ډېرو ځايونو اوسي، زه شپون يم او زښته ډېر ګرځېدلی يم خو هرځای زما ټاټوبی نه شي کېدای. زما د زېږېدنې ځای د زړې کلا سره دی.

بوډا وويل: زه د (سالم) يم.

هلک نه پوهېده چې سالم چېرته دی، خو د دې لپاره چې د بوډا په مخ کې  کم رانشي چوپ پاتې شو.

ځان يې په ميدان کې روانو کسانو ته په کتلو بوخت کړ. په ښکاره هرڅوک په خپل کار پسې وو. د هلک طاقت نه کېده او د دې لپاره چې کومه خبره ترې وباسي بيا يې وپوښتل: دا سالم څه ډول ځای دی..؟

بوډا ځواب ورکړ: هماغسې چې پخوا و.

هېڅ په ګوتو ورنغلل خو دومره پوه شو چې سالم په اندلس کې نه دی کنه تر اوسه خو به يې په اړه يو څه اورېدلي وای. بيا يې وپوښتل: په سالم کې څه کار کوې..؟

بوډا وخندل او وې ويل: په سالم کې څه کوم..؟ هاهاها زه د سالم پاچا يم.

هلک په زړه کې وويل: دا خلک هم کنه، داسې څه به درته ووايي چې په هماغه پسونو او وزو به شکر وکاږې.

بوډا زياته کړه: ته ما څه کوې، دا ووايه چې څو پسونه لرې..؟

هلک وويل: زما لپاره بسنه کوي.

بوډا وويل: لکه چې کار مو سخت شو، تر څو چې فکر کوې چې په کافي اندازه پسونه لرې زه څه مرسته نه شم درسره کولای.

هلک له دې خبرو نه ستړی شو، پاڅېد او وې ويل: کتاب مې راکړه! غواړم لاړ شم او رمه مې سره برابره کړم.

- د رمې لسمه برخه دې راکړه چې درته ووايم څنګه هغه ګنج پيدا کړې!

هلک ته يې خوب ورپه ياد شو، بيا يې چورت وواهه چې داسې نه چې سړی د هغې بوډۍ خاوند وي او بوډۍ په چل خپلې پيسې درنه اوباسي، خو مخکې له دې نه چې هلک ځواب ورکړي بوډا کړوپ شو او له ځمکې يې يو ډکی راواخيست، د سترګو په رپ کې يې له سينې څخه داسې رڼا وځلېده چې د هلک سترګې يې پټې کړې، کله چې هلک بېرته سترګې خلاصې کړې، ويې ليدل چې په ريګ دده نوم، د مور او پلار نوم يې، د ښوونځي نوم يې او حتی د هغه سوداګر د لور نوم چې خپله دده هم نه و زده او هغه خبرې چې دوی هغه ورځ پرې غږېدلي وو ليکل شوي دي.

بوډا ويلي وو چې د سالم پاچا دی، هلک په ډار او شرم پوښتنه وکړه: ولې يو پاچا له يو شپون سره خبرې وکړې..؟

- په څو دليلونو، خو تر ټولو مهم يې دا دی چې تا خپله شخصي- افسانه کشف کړې ده. هلک نه پوهېده چې شخصي افسانه څه ته وايي؟

- شخصيـ افسانه هغه څه دي چې له ماشومتوب راهيسې يې د کړلو په تکل وې. د ژوند په يوه مرحله کې، هر څه روښانه او شوني دي، هغوی نه له خيالبافۍ څخه وېرېږي او نه د هغه څه څخه چې کېدای شي پېښ شي. خو د وخت په تېرېدو سره يوه مرموزه قوه هغوی اړباسي چې له خپلې شخصي افسانې څخه لاس پرېمينځي، يعنې ورته وايي چې نه يې شې کولای.

د هلک سر د بوډا په خبرو نه خلاصېده خو غوښتل يې چې د دې مرموزې قوې په اړه په نور څه هم خبر شي، او که د سوداګر لور ته دا کيسه وکړي نو غوړي لا غوړي.

بوډا زياته کړه: هرڅوک چې يې يا هر کار چې له زړه يې غواړې ترسره کړې، هغه وخت ستا دا غوښتنه د نړۍ له روح څخه سرچينه اخلي او ته د دې کار د تر سره کولو لپاره ماموربږې. هغه کار که سفر وي يا هم د سوداګر له لور سره واده. يا هم د خزانې پلټنه. کله چې يو څه وغواړې ټول کاينات لاس په لاس کيږي ترڅو هغه ځيز تر تا دررسېږي. يو څه موده دواړه چوپ وو خو بوډا د چوپتيا حلقه ماته کړه او ويې ويل: ولې شپني کوې..؟

هلک وويل: ځکه غواړم سفر وکړم.

بوډا نانوای ته چې د خپل دوکان مخې ته ولاړ و اشاره وکړه او ويې ويل: هغه هم چې کله کوچنی و د سفر شوق يې درلود خو پرېکړه يې وکړه چې لومړی يوه نانوايي واخلي او يو څه پيسې زېرمه کړي، وروسته چې زوړ شي يوه مياشت افريقا ته په چکر لاړ شي. کمبخت نه پوهېږي چې انسان هر وخت کولای شي خپل خوبونه ريښتيا کړي. هلک وويل: بايد شپون شوی وای!

بوډا ځواب ورکړ: د هغه په اړه يې هم فکر وکړ خو نانوايان له غوره ټولنيز موقف څخه برخمن دي، هغوی کورونه لري په داسې حال کې چې شپون د شنه اسمان لاندې شپې رېوي. د نجلۍ مور او پلا ر هم هيله لري چې لور يې يوه نانوای ته ورکړي خو شپون ته نه!

هلک ته د سوداګر لور ورياد شوه او يوه د غم څريکه يې په زړه کې تېره شوه، نو که داسې وي په هغه کلي کې به نانوای هم وي!!!

بوډا د کتاب پاڼې واړولې او هغې پاڼې ته ورسېد چې هلک لوستله. لږ صبر يې وکړ او لږ وروسته هماغسې چې بوډا د ده تمرکز ورخراب کړی و د بوډا مطالعه ورخرابه کړه:

- ولې دې دا شيان راته وويل..؟
- ځکه چې د شخصيـ افسانې په عملي کولو پسې دې راوتلی يې او په داسې مرحله کې يې چې غواړې دا کار نور پرېږدې.
- او په داسې وخت کې مې ته مخې ته راشين کېږې..؟
- تل په دې شکل نه، په ډول ډول اشکالو. کله د يوې غوره نظريې په شکل، کله په يو او کله په بل شکل. بوډا ورته وويل چې تېره اونۍ د يو معدنچي د ژغورلو لپاره اړ شو چې ځان په تيږه بدل کړي.

معدنچي د زمردو د پیدا کولو لپاره ۵ کاله سخت کار کړی و او زرګونه تیږې یې لاندې باندې کړې وې خو په دې وروستي وخت کې یې ځان ته غوسه راغله او له کار څخه منصرف شو. که یوه بله تیږه؛ یوازې یوه بله تیږه یې ماته کړې وا ی زمردو ته رسېده. د دې لپاره چې معدنچي خپل هر څه له خپلې شخصي۔ افسانې څخه ځار کړي وو بوډا د عمل میدان ته دننه شو او ځان یې په تیږه بدل او د معدنچي پښو ته ولغړاوه. د معدنچي عصاب هسې هم خراب وو، له بلې خوا یې ۵ کاله وخت هسې د انګورو په تول تللی و، تیږه یې راجګه کړه او هغه بله تیږه یې پرې وویشته چې په نتیجه کې هغه تیږه ټوټه ټوټه او د نړۍ تر ټولو نه غوره زمرود پکې ښکاره شول.

بوډا زیاته کړه: نو که غواړې دخزانې په اړه دې پوه شې باید د رمې لسمه برخه دې راکړې.

هلک وویل: د خزانې لسمه برخه نه غواړې..؟

بوډا په ناخوښۍ ورته وویل: ( غوایی لا حلال نه دی، کاسه ورته پر سر ګرځوې). که همداسې وړاندې لاړ شې خزانې ته د رسېدلو شوق دې کمېږي.

هلک وویل چې داسې وعده یې مخکې یوې کولي میرمنې ته هم ورکړې ده.

بوډا سوړ اسوېلی واېست او ویې ویل: کولیان د دې کار استادان دي، باید پوه شې چې په ژوند کې هر څه یوه بیه لري. کتاب یې بېرته هلک ته ورکړ او زیاته یې کړه: که ریښتیا غواړې د خزانې په اړه دې پوه شې، سبا همدا وخت دې د رمې لسمه برخه راته راوله. مازدیګر دې پخیر. د دې له ویلو سره له میدان په یوه څنډه کې پناه شو.

***

کتاب ته یې زړه نه ورتلو. د هغه بوډا خبرو یې اندېښنه راپارولې وه ځکه پوهېده چې هغه ریښتیا وایي. نانوایي ته لاړ چې یوه ډوډۍ ځانته راونیسي۔، فکر یې وکړ چې د نانوای په اړه د بوډا خبرې ورته تکرار کړي خو بیا یې وویل چې کله کله دا ښه وي چې هر څه په خپل حال پرېږدې. نو هېڅ یې نه ویل. که یې څه ویلي وی نانوای به بیا د هغې موضوع په اړه سوچ کاوه په داسې حال کې چې اوس یې ژوند ښه جوړ دی او له دې ژوند سره یې عادت کړی دی.

یو څه موده په ښار کې ښکته پورته شو تر څو چې د ښار وروستی لویې دروازې ته ورسېد، هلته یوه کوټۍ وه چې خلکو به د آفریقا ټیکټونه اخیستل. هلک هم پوهېده چې مصر۔ په آفریقا کې دی. ټیکټ پلورونکي وویل: زه څه مرسته درسره کولی شم..؟

هلک په داسې حال کې چې شاته شاته تللو وویل: ښایي سبا!

دا فکر ورولوېد چې کـه یـو پسـه خـرڅ کـړي د تنگـي بلـې غـاړې سـاحل تـه پـرې رسـېدی شي. ټيکټ پلـورونکي چې د هلـک شـاته تـگ وليـد خپـل ملگـري تـه يـې وويـل: ههههـه، يـو بـل چـورتي! غريـب د سـفر پيسې هم نه لري!

کلـه چې د ټيکټ پلـورنځي مخـې تـه ولاړ و خپلـه رمـه ورپـه يـاد شـوه. پرېکـړه يـې وکـړه چې تـل شـپون پـاتې شي، پـه دا دوه کلونـو کـې د شـپنۍ پـه الـف بـې تـې ښـه سـم پـوه و. دا چې څنگـه وړی وشـکوي، څنگـه اميـندوارې وزې تـه پـام وکـړي، څنگـه رمـه د لېـوه لـه خطـر نـه وژغـوري او همدارنگـه د انـدلس پـه هـره دښـته او خرځای کې پوره بلد او د هر پسه په بيه يې هم پوهېده.

زړه يې وو چې لـه ترټولـو نـه پـه ليـرې لارې د ملگـري سرای تـه لاړ شي. د کـلا څنـگ تـه چې تېرېـده د کـلا ډېرينو زينو تـه يـې پـام شـو، پـه زينـو وخـوت او د کـلا پـه دېـوال کېناسـت. لـه هغـه جـگ دېـوال نـه يـې کـولای شـول چې د افريقـا دښـتې ووينـي. اورېـدلي يـې وو چې مغربيـان پخـوا لـه آفريقـا څخـه راغلـي او ټولـه اسـپانيا يې اشغال کړې ده.

له هغـه دېـوال نـه د ښـار لـوی ميـدان هـم ښـکارېده،چېرته چې يـې بـوډا ليـدلی و. پـه غوسـه يـې وويـل: لعنـت په هغه ساعت چې له بوډا سره مې وليدل.

هلـک د خپـل خـوب د تعبيـر لپـاره دې ښـار تـه راغلـی و خـو نـه بـوډۍ او نـه بـوډا کـوم ارزښـت ورکـړ. هغـوی يـوازيني خلـک وو چې نـه پوهېـدل شـپون يـې لـه رمـې سره څـومره تړلـی دی، خـود نـو؛ دوه کالـه وخـت يـې ورسره تېـر کـړ، پـه دې پـوهېږي چې کـوم څـاروی بـه يـې پـه راتلـونکې مياشـت کـې لنـگ شي، کـوم څـاروی يـې گـوډ دی، کـوم څـاروی تـر ټولـو څخـه لـټ دی...کـه لـه رمـې څخـه جـلا کېـدلی هغـوی بـه ډېـر تکليـف ليده.

ډېر تونـد بـاد پـه خوځښـت راغـی. خلکـو بـه دې بـاد تـه (د ختـيځ تونـد بـاد) ويـل. ځکـه مغربيـان لـه دې بـاد سره د مـديترانې لـه ختـيځ څخـه دلتـه راغـلي وو. هـره لحظـه د بـاد شـدت ډېرېـده. شـپون لـه ځـان سره وويـل: اوس د خزانې او رمې تر منځ بند پـاتې يـم، يـو بايـد خامخـا لـه لاسـه ورکـړم. يـا هغـه څـه چې شـديد عـادت يـې ورسره کـړی يـا هغـه څـه چې زړه يـې غـواړي. د سـوداگر لـور هـم پـه زړه کـې ورتـاو شـوه خـو لـه رمـې څخـه يـې ډېر ارزښت نه ورته درلـود. بيـا يـې فکـر وکـړ: زه چې لـه خپـل ښـار څخـه راغلـم مـور او پـلار مـې پرتـه لـه مـا پـه اوسـېدلو عـادت شـول او زه هـم همداسـې. رمـه بـه مـې هـم پرتـه لـه مـا عـادت شي. بيـا يـې پـه حسرـت د ښـار ميـدان تـه وکتـل. پـه هاغـه چـوکۍ چـې دی او بـوډا ناسـت وو يـوه ښـځه او خاونـد ناسـت وو او يـو بـل يـې ښکلول.

تونـد بـاد يـې پـه مخ ولگېـد، ويـې ويـل: کـاش زه هـم د بـاد پـه شـان آزاد وای! اوس يـې نـو اراده پخـه کـړه او د سـوداگر لـور، رمـه او د انـدلس دښـتې يـې نـور د پښـو زولنـې نـه وې. ټـول يـې ترخپلـې شخصيـ افسـانې ځارول.

راتلونکی ماسپښین سره له ٦ پسونو بوډا ته ورغی. ویې ویل:

عجیبه پېښه راوشوه! ملګري مې ټوله رمه واخیستله، ویل یې چې شپني پیلوم او دا یې په نېک فال ونیوه.

بوډا وویل: تل همداسې وي او دې ته (اصلي غوښتنه) وایي. کله چې د اول ځل لپاره ورقې (قطعې) کوې ډېر سوچ دې دا وي چې ګټې یې.

- ولې تل داسې کیږي..؟
- ځکه یوه قوه غواړي چې ته خپلې شخصيـ افسانې ته ورسېږې. د همدې لپاره یو ځل د بریا مزه درڅکي تر څو تا تحریک کړي.

د دې خبرې سره بوډا د پسونو معاینه پیل کړه. ویې لیدل چې یو پسه ګوډ دی. هلک خبرې ترې وړاندې کړې: مهمه نه ده، دا زما د رمې تر ټولو هوښیار پسه دی او ډېرې وړی هم کوي.
بیا یې وپوښتل: خزانه چېرته ده..؟

- د مصر د اهرام څنګ ته.

هلک حیران شو، همدا خبره بوډۍ هم ورته کړې وه خو هېڅ روپۍ یې هم نه وې ترې اخیستې.

- د ګنج د پیدا کولو لپاره باید نښې نښانې تعقیب کړې. خدای هرچاته د ژوند یو مسیر ټاکلی دی چې باید پرې تېر شي یوازې د خدای اشارې باید ولولې.

په همدې وخت کې یو شاپرک دده او بوډا ترمنځ تېر شو. هلک ته ور یاد شول چې نیکه یې ویلي وو چې شاپرک شګون لري.
بوډا وویل: نیکه دې ریښتیا وایي، شاپرک شګون لري. د هلک خوله خو هلته د تعجب نه وړینګه شوه چې بوډا د کمیس تنۍ پرانیستې او د بوډا په غاړه یو د طلا تر ټولو غوره امېل چې په قیمتي ډبرو هم ښکلی شوی و ښکاره شو. هلک هماغه د تیرې ورځې تېزه رڼا بیا ولیدله.
((ښه نو هغه ریښتیا پاچا دی او د غلو له ویرې یې بدل کالي اغوستي دي)).
بوډا دوه تیږې یوه توره او بله سپینه له خپل امېل نه راخلاصې کړلې او وې ویل: دا یوه (آوریم) او بله (تمیم) ده. توره تیره یعنې هو او سپینه تیره د نه معنا لري. کله چې د نښو په پوهېدلو کې عاجزشوې له دوی نه یې وپوښته. هڅه وکړه پوښتنې دې څرګندې او واضح وي خو پرېکړه کوونکی تل خپله اوسه.
خزانه په اهرام کې ده. خپله هم مخکې پوهېدې خو د پسونو د راوستلو مې ځکه درته وویل چې په پرېکړه کولو کې مرسته درسره کړې وي.
هلک دواړه تیږې په کوچنی خلطه کې واچولې. له دې نه وروسته یې خپله پرېکړې کولې.

- په خپله شخصيـ افسانه پسې دې اوسه او د نښو ژبه هم مه هېروه تر څو پایلې ته ورسېږې. مخکې له دې نه چې لاړ شم غواړم یوه کیسه درته وکړم:

((يـوه دوکانـدار خپـل زوی د هېـواد هوښـيار سـړي تـه واسـتاوه چـې د خوښـۍ راز وروښـايي. هلـک ۴۰ شـپې ورځـې پـه دښـتو کـې سرګردانـه و ترڅـو چـې د يـوې تپـې پـه سر د هوښـيار سـړي ښـکلي مـانۍ تـه ورسـېد.مانۍ تـه لـه دننـه کېـدو وروسـته يـې وليـدل چـې دا خـو سـم منـډيي دی! سـوداګران دي او خـدمتکاران دي چـې ښـکته او پورتـه کيـږي. هوښـيار سـړی هـم هلتـه ګوښـه ولاړ دی او لـه خلکـو سره خـبرې کـوي. د دې لپـاره چـې نوبـت نـه و بايـد دوه سـاعته پـه تمـه شـوی وای. کلـه چـې يـې نوبـت راورسـېد هوښـيار سـړي د راتلـو پـه اړه تـرې وپوښـتل. هلـک هـم ټکـی پـه ټکـی کيسـه ورتـه تېـره کـړه. هوښـيار وويـل چـې اوس وخـت نـه لـرم چـې د خوښـۍ د راز پـه اړه تاتـه خـبرې وکـړم، ورشـه پـه مـانۍ او بـاغونو وګرځـه او دوه سـاعته وروسـته راشـه او د دې سره يـې پـه يـوه کاچوغـه کـې دوه څـاڅکي غـوړي ورتـه واچـول او وې ويـل چـې پـام درنـه تـوی نـه شي. هلـک هـم سـترګې پـه غوړيـو ښـخې کـړې او پـه مـانۍ کـې تاوراتـاو شـو، دوه ساعته وروسته بېرتـه هوښيار سـړي تـه راغـی. هغـه ورتـه وويـل: ښـه نـو، پـه صـالون کـې دې ايـراني قـالينې وليـدلې..؟ باغچـه دې وليدلـه چـې مشرـباغوان ۱۰ کالـه زحمـت پـرې ايستلی..؟ د مانۍ لارې دې وليدلې..؟

هلـک پـه خجالـت وويـل: نـه صـاحبه، ټـول پـام مـې غوړيـو تـه و. هوښـيار ورتـه وويـل: ورشـه او دا ټولـه مـانۍ سـم زيروزبـر وګـوره او بيـا راشـه. هلـک دا ځـل لاړ او ټـول مـانۍ يـې ښـه تـر نظر نـه تېـره کـړ، پـه بـاغچو کـې يـې چکـر وواهـه او د کتـاب خـانې کتابونـه يـې هـم تـر سـترګو تېـر کـړل او وروسـته بېرتـه هوښـيار سـړي تـه راغـی. هوښـيار تـه يـې ټـول جريـان ووايـه. هوښـيار تـرې وپوښـتل: ښـه نـو هغـه دوه څـاڅکي غوړي څـه شـول..؟ هلـک چـې کـاچوغې تـه وکتـل تشـه تـوره وه. هوښـيار ورتـه وويـل: د خوښـۍ راز دا دی چې د نړۍ ټولې ښکلاوې هم وګورې او د غوړيو له څاڅکيو څخه هم غافل نه شې)).

شپون څـه ونـه ويـل. د بـوډا پاچـا پـه کيسـه يـې سرخـلاص شـوی و. يـو شـپون ښـايي لـه سفر سره شـديده علاقـه ولـري خـو لـه رمـې څخـه هـم بايـد غافـل نـه شي. بـوډا د خپلـو يوځـای نيولـو لاسـونو پـه وسـيله د هلک په سر جالب حرکات وکړل، وروسته يې خپل پسونه واخيستل او له هغه ځای څخه لاړ.

ډېـر لـږ وخـت پـاتې و چـې د مصرـ اهرامـونو تـه ورسـېږي، پـه يـو دوه راتلونکيـو ورځـو کـې. بـوډا د هغسـې امېل پـه لرلـو سره هـېڅ پسـه او دروغ ويلـو تـه اړتيـا نـه درلـوده. کلـه چـې هلـک د آنـدلس دښـتې ګـز او پـل کـولې ډېـر څـه يـې زده کـړي وو. دا يـې زده کـړي وو چـې څنګـه د سـتورو پـه مرسـته لار وبـاسي. هغـه پوهېـده چـې د کـوم مرغـه شـتون پـه سيمه کـې د مـار پـه شـتون دلالـت کـوي. همدارنګـه پوهېـده چـې کوم بوټۍ د اوبو پر شتون دلالت کوي او همداسې نور ډېر شيزونه يې زده کړي وو.

د طـاريف پـه تـر ټولـو لوړه سيمه کـې يـوه کـلا ده چـې جـګ جـګ دېوالونـه لـري. (ملـک صدق) د سـالم پاچـا د دې کـلا پـه دېـوال ناسـت و او لـيرې پـه سـاحل کـې ورو ورو پنـاه کېـدونکې کيښـتۍ تـه يـې کتـل. د نـارامی احسـاس يـې وکـړ او ويـې ويـل: هغـه هلـک ښـايي بيـا هېڅکلـه ونـه ويـنم، بايـد خپـل نـوم مـې ورتـه ويلـی وی چـې هېـر مـې نـه کـړي. بايـد ويـلي مـې وی چـې زه د سـالم پاچـا يـم، د دې خـبرې سره يـې آسـمان تـه وکتـل او وې ويـل: خدايـه! څنګـه چـې تـا ويـلي دي، دا خـبرې مـې پـه تکـبر کـې راځـي خـو يـو بوډا پاچا هم حق لري چې کله کله ځان ته غره شي.

***

هلک په حیرانتیا وویل: دا آفریقا هم څه عجیب ملک دی! هغه اوس د (طنجه) په ښار کې په یوه کوچني سماوار کې ناست و. خلک ډلې ډلې یوې خواته روان وو او ښځو خپل مخونه په تور نقاب کې پټ کړي وو، ملا د جومات منار ته وختوت او آذان یې وکړ. لږ وروسته خلک منظم په کتار ودرېدل او په یو غږ به مځکې ته ښکته کېدل او ټنډې به یې په ځمکه لګولې. په زړه کې یې وویل: دا خو کافران دي! بیا ماشومتوب وریاد شو چې په کلیسا کې به تل د (سپېڅلي سانتیاګوماتاموروس) تصویر راځړېدلی و چې تل به یې په لاس کې توره، پّه سپین آس سپور او همداسې به یې خلک په مځکې په ګونډو او سجده وو. وډار شو، کافرانو په تعجب ورته کتل. ډېر ژر یې د سفر نیت کړی و او یو څه چې دی یې له خپل خزانې څخه لیرې کاوه هغه عربي ژبه وه. د دې هېواد ډېری خلکو په عربي ژبه خبرې کولې. هوټلي ورنږدې شو؛ هلک د څنګ په مېز باندې ایښې څښاک ته ګوته ونیوله. له بده مرغه تریخ چای راوخوت. د هلک شراب ډېر خوښ وو. خو اوس دا موضوع چندان د اندېښنې وړ نه وه، دی پوهېده چې څوک چې په کافي کچه پیسې لري هرکار کولای شي او ده هم د رمې له پلورلو وروسته یو څه پیسې ګوتو ته کړې وې.

چای په نظر ډېر تریخ ورغی.

یوه سړي په اسپانوي ژبه ورته وویل: ته څوک یې؟

هلک وپوښتل: ته په اسپانوي ژبه پوهېږې؟

سړي غربي کالي اغوستي وو او د ځیرې رنګ یې دا ښودله چې د همدې سیمې اوسېدونکی دی. قد او سن یې هم د هلکي په اندازه وو. ویې ویل: دلته ډېری خلک په اسپانوي ژبه خبرې کوي، ځکه اسپانیا ډېره راته نیږدې ده، یوازې دوه ساعته لار ده.

هلک وویل: کېنه، زما په حساب هم ځان ته یو څښاک راوغواړه او ورته ووایه چې ماته لږ شراب راوړي، له چایو سره مې نه ده جوړه.

سړي وویل: د دې ځای د خلکو په دین کې شراب حرام دي. وروسته هلک ورته وویل چې باید اهرامونو ته لاړ شي، کم وو چې د خزانې خبرې یې هم ورسره شریکې کړې وای خو ځان یې ونیو. ښايي د دې لپاره به وه چې بیا به هغه هم په ګنج کې خپله ونډه غوښته. د بوډا خبره وریاد شوه چې ((مځکې له دې چې یو څه لاس ته راوړې چاته وعدې مه ورکوه.)) هلک ورته وویل: ته زما لارښود شه زه به تاته پیسې درکړم!

د دې سره د هلک پام هوټلي ته ورواوښت چې ددوی له مېز سره يې غوږونه څک نيولي وو، هلک د هغه په شتون کې د نارامی احساس کاوه او د دې سره يې يو نوی لاړښود پيدا کړی و او نه يې غوښتل چې دا چانس له لاسه ورکړي.

ځوان سړي ورته وويل: هلته د تګ لپاره بايد له (کوير) دښتې څخه تېر شې او د دې کار لپاره پيسې ضرور دي، لري يې که نه..؟

هلک له ځان سره وويل: «څه عجيبې پوښتنې کوي». بيا د بوډا خبره ورپه ياد شوه چې« هرکله چې يو څه د زړه له تله وغواړې، ټول کائنات لاس په لاس کيږي چې هغه څه ترتا دررسوي».

پيسې يې له جېب څخه راوايستلې او سړي ته يې وروښودلې. هوټلي د پيسو په ليدو نور هم رانيږدې شو او له ځوان سړي سره يې يوڅو عربي خبرې ردوبدل کړې. هوټلي په غوسه و. سړي وويل: «ځه چې ځو، راويې اېستلو». هلک آرامه ساه وکښله او پاڅېد چې د هوټلي حساب ورخلاص کړي خو هوټلي تر ګرېوان ونيو، هلک په تن قوي و او د مقابلې لپاره ورورانډې شو خو د دې لپاره چې په پردي هېواد کې و بېرته منصرف شو. نوي ملګري يې هوټلي ټېله کړ او دی يې ترلاسه ونيو او دواړه له هوټل څخه ووتل.

- غوښتل يې پيسې دې درنه شوړه کړي. طنجه د آفريقا له نورو ښارونو څخه فرق لري، دا بندري سيمه ده او زښته ډېر غله پکې پيدا کيږي.

د هلک باور به نوي ملګري باندې لا هم پوخ شو، له سخت وضعيت نه يې ژغورلی و. پيسو ته يې وکتل او بيا يې وشمېرلې. ځوان پيسې ځنې واخيستلې ويې شمېرلې او ويې ويل: تر سبا پورې اهراموته رسېږو خو لومړی بايد اوښان واخلو.

يوځای د طنجه له تنګو کوڅو څخه تېرېدل. هر چېرته د پلورلو لپاره مېوې، سامانونه او ګڼ شيان پراته وو. په لاره ډېر خلک لګيا وو او يو له بل سره يې چنې وهلې. سبزي يې د خنجرونو په منځ کې د پلورلو لپاره ايښې وه. هلک له ځوان نه سترګې نه اړولې ځکه ټول دار او ندار يې د هغه په لاس کې وو. له ځان سره يې فکر وکړ چې راځه پيسې بېرته ځنې وغواړه، خو بېرته منصرف شو او وې ويل چې دا کار ناځواني ده. هغه د دې پردي هېواد په هېڅ دود او رواج هم نه پوهېده.بيا يې په زړه کې وويل: بايد دوه سترګې څلور کړم. ځان يې له هغه ځوان نه قوي ګاڼه. ناڅاپه په دې بيروبار کې يې سترګې په يوه له حد نه ډېرې ښکلې تورې باندې ولږېدې چې په خپل عمر کې يې لا نه وه ليدلې. د تورې پوښ نقره يي و او لاستی يې تور و چې ډېرې ګرانبيه تيږې هم پرې نصب شوې وې. هلک له ځان سره وعده وکړه چې د مصر ـ نه د بېرته راتلو پر وخت به دا ښکلې توره ځان ته اخلي. خپل ملګري ته يې مخ راواړاوه چې د بيې بقالي پوښتنه يې وکړي خو خوله يې وازه پاتې شوه. پام يې شو چې تورې ته په څو ثانيو کتلو يې حواس له لاسه ورکړي او ملګری يې ترې پناه شوی. زړه يې تخته شو او لکه په سينه چې دي يې لس منه بار وراېښی وي ځای پرځای کښيناست. څو ثانيې يې بيا تورې ته وکتل چې د بيا

راپورته کېدو او شاوخوا کتلو جرئت پیدا کړي. شاوخوا یې منډیي و. خلک تلل او راتلل، پېرل او پلورل یې کول. د بېلابېلو خوراکو بوی په بازار کې تر پزو رسېده.... خو د نوي ملګري یې څه درک نه و.

په زړه یې تېره کړه چې څه مړه! ملګری دې هسې تصادفي درځخه جلا شوی دی، همدلته کېنه اوس به بېرته راشي. پرېکړه یې وکړه چې همدلته ورته خزه (کمین) شي. همداسې چې ناست و، یو ملا برج ته وختلو او آذان یې وکړ. بیا هم خلک راټول شول او یوځای یې لمنځونه وکړل، وروسته لکه د مېږیانو په شان خواره شول او ورو ورو یې خپل بار و بستې سره ټولولې.

لمر هم په ډوبېدو و. یو څه وخت یې د لمر پرېوتو منظرې ته کتل ترڅو لمر هم پناه شو. د نن سهار د لمر راختل ورپه یاد شول چې یوې بلې وچې ته یې د سفر موزې تړلې وې. هلته یو شپون و سره له ٦٠ پسونو. سره له دې د سوداګر د لور لیدلو ته هم سخت په شوق و، خو د دې ورځې د لمر ډوبېدو په وخت؛ په بل هېواد کې و. په یو پردي او ناشنا ماحول کې چې حتی ژبه یې هم نه وه زده. نور نو شپون نه و او نه یې کوم پسه درلود. یوه شانزده پولۍ یې هم نه درلوده چې هر څه له سره بېرته پیل کړي. له ځان سره یې وویل: یعنې دا هر څه د یو لمر راختلو او ډوبېدلو په موده کې ترسره شول..؟

ځان ته یې زړه وسوځېد چې ولې یې ژوند دومره ژر دومره ستر بدلون وکړ. له خجالت څخه په ژړا شو، په بازار کې مرغۍ هم پر نه واهه، او دی هم پردی و. اوښکې یې تویولې ځکه دده په نظر خدای یې په حق کې عدالت نه و کړی، د خوب د عملي کولو په جرم یې دا ورځ پرې راوستې وه!

په سلګیو یې وویل: کله مې چې رمه راسره وه خوښ وم او هڅه مې کوله اطرافیان مې هم خوښ وساتم، زه به یې چې له لیرې ولیدلم خلکو به لاسونه راته ښورول خو اوس یوازې او خپه یم! له دې وروسته هڅه کوم چې بې رحمه اوسم او په هېچا باور ونکړم ځکه زه یې وغولولم، «زه پر دې دنیا د غلبې لپاره لا ډېر کوچنی یم». خپله خلطه یې وازه کړله چې وګوري څه ورپاتې دي،یو څادر، پلن کتاب او هغه دوه تیږې چې بوډا ورکړې وې لا هم په خلطه کې وې. همداسې چې تیږو ته یې کتل، د خوښۍ احساس یې وکړ ځکه ٦ پسونه یې په دې ګرانبیه تیږو چې د یو امېل برخه وې ورکړې وو. کولای یې شول تیږې خرڅې کړي او د بېرته تګ ټیکټ پرې واخلي ویې ویل: دا ځل مې ټول پام کوم. تیږې یې له خلطې څخه راوایستې او په جېب کې یې کېښودې. هغه یوه بندري ساحه وه او یوازینی څه چې ځوان ملګري یې ریښتیا ورته ویلي وو دا وو چې دلته غله زښته ډېر دي. اوس پوه شو چې هوټلي ولې دومره نارامه و، هغه غوښتل هلک پوه کړي چې په هغه سړي باور ونه کړي. په آرامۍ یې په تیږو لاس تېر کړل، اوس یې یوازنی خزانه همدا دوه تیږې وې، دې تیږو بوډا وریاداوه.

اوس نو یوازې په بازار کې ولاړ و، د بوډا خبرې وریاد شوې چې دا تیږې آوریم او تمیم نومېږي، زړه یې و چې یوځل یې چک کړي. بوډا ویلي وو چې باید واضح پوښتنې وکړي نو یې وپوښتل:

آیا خزانه به مې لاس ته راوړم..؟

یوه تیره یې را وایستله، ځواب مثبت و . بیا یې بازار ته وکتل، دا ځل یې لږ د ناهیلی احساس وکړ. دا ځای عجیب نه و، نوی و. د دې سره سره دده هیله دا وه چې نوي ځایونه ووینې، که اهرام ته ورسي یانه.له هرشپون ځخه چې ده پېژانده، ده ډېر سفرونه کړي وو. ویې ویل:«آآآه! که خلک پوه شي چې د کښتۍ د دوه ساعته مزل وروسته څه عجیب عجیب ځایونه دي، هېڅکله به یې هم هېر نه کړي».

توره وریه یاد شوه، په ټول عمر کې یې تردې ځخه ښکلې توره نه وه لیدلې . دې فکر ځوراوه. پام یې شو چې ځان ته د یوه غله د قربانی په سترګه وګوري که د یو داسې نفر چې په خپله خزانه پسې ګرځي..؟

له ځان سره یې وویل: نه! زه په خپله خزانه پسې ګرځم!!!

***

د چا لاس یې پر اوږ احساس کړ. د بازار په منځ کې ویده شوی و او اوس د ژوند یوه بله سترې ورځ پیل شوې وه.شاوخوا یې وکتل او په خپله رمه یې غږ وکړ خو دستي یې پام شو چې په بل هېواد کې دی او رمه نوره نشته. د خفګان پر ځای یې د خوښۍ احساس وکړ ځکه نور اړ نه و چې د پسونو لپاره په اوبو او واښو پسې سرګردانه شي. د دې پرځای کولای شي ببغمه په خپله خزانه پسې وګرځي. لاس یې تش و خو باور یې درلود چې خزانه به یې پیدا کړي.

پاڅېد او په بازار کې یې قدم وهل پیل کړل. خرڅوونکو خپل څادرونه په ځمکه غوړول. هلک هم له یو خواږه پلورونکي سره د څادر په غوړولو کې مرسته وکړه. خواږه پلورونکي موسک و او په شوق د یوې نوې کاري ورځې د پیل لپاره چمتو ښکارېده. کله چې یې څادر ورسره وغوړاوه او سرې خپل وسایل پرې کېښودل د هغې ورځې لومړني خواږه یې هلک ته ورکړل. هلک هم په خندا سره په خوله کې واچول او په خپله مخه روان شو. له یو څه فاصلې تګ وروسته یې پام شو چې د څادر غوړولو په مهال خواږه پلورونکي عربي ویله او ده اسپانوي ویله خو بیا هم یوله بل سره پوه شوي وو. فکر یې وکړ چې ښایي داسې ژبه هم شتون ولري چې تورو ته اړتیا نه لري. بیا یې ورو ورو د طنجه ښار په وړو کوڅو کې قدمونه واخیستل او روان شو. یوازې داسې یې کولای شول نښانې ولولي، خو دا کار ډېر صبر غواړي او شپانه هم ډېر صابر خلک دي.

***

بلور پلورونکی بیا هم د هغه ډار سره راوېښ شو چې هر سهار ربه یې راویښاوه. ۳۰ کاله له دې ځای څخه نه و خوځېدلی. دا مغازه د یوې تپې په سر وه چې سرک پرې تېر شوی و او ډېره ګرانه وه چې ګیراک دې ورشي. اوس چې یې څه کولای شوی یوازې د بلوري لوښو اخیستل او خرڅول وو. پخوا یې ډېر خلک پېژندل، عرب سوداګران، فرانسوي او انګلیسي- ځمکپېژندونکي او آلماني عسکر چې ښې

پیسي یې درلودې. په هغو ورځو کې د بلوري توکو کاروبار ډېر په کش کې و. هغه یوازې دا غوښتل چې په راتلونکي کې مالدار شي او له یوې ښکلې ښځې سره واده وکړي. خو همداسې چې وخت تېرېده، د سبته ښار له طنجه ښار څخه ډېر غټ او د تجارت مرکز وگرځېد. طنجه له خپل پخواني کش وپش څخه ولوېد، گاونډي دوکاندارانو یې له هغه ځای نه کډه وکړه او یو څوتنه پاتې شول. نور نو څوک د ۴-۵ کوچنیو مغازو د لیدلو لپاره دې تپې ته نه راختل. خو بلور پلورونکي بله چاره نه درلوده، ۳۰ کاله یې دلته خواري کښلې وه او اوس نو د نوي کار د پیل لپاره ډېره ناوخته وه.

ټوله ورځ د تېرېدونکیو خلکو سیل ته ناست و. دا کار یې دا څو کلونه ښځي عادت گرځېدلی و. غرمې ته لږ وخت پاتې و چې یو هلک د مغازې مخې ته ودرېد. تجربه کار بلور پلورونکی د هلک له سترگو د هغه په مفلسۍ پوه شوه. د ډوډۍ خوړل یې یو څو دقیقې شاته کړل ترڅو هلک لاړ شي.

***

پر دروازه راځړېدلې تابلو کې ویل شوي وو چې دلته په څو ژبو خبرې کیږي. د دوکان څنگ ته ناست سړي ته یې وکتل او ویې ویل: که تاسې غواړئ زه به د ویترین شاته خیرن گیلاسونه پاک کړم، داسې که وي ولاکه یې په چا واخلې. سړی چوپ پاتې شو. هلک بیا وویل: په بدل کې یې ماته یو څه راکړه چې ویې خورم. هغه سړی لا هم چوپ و. هلک پوه شو چې لا یې پرېکړه نه ده کړې، د خلطې څخه یې خپل څادر راواخیست او د لوښو په پاکولو بوخت شو. په نیمه گړۍ کې یې ټول لوښي پاک کړل. په همدې وخت کې دوه گیراکان مغازې ته راغلل او څو بلوري لوښي یې واخیستل. کله چې یې کار پای ته ورسېد بلور پلورونکي ته یې وویل چې د خوراک لپاره یو څه ورته راوړي. دوکاندار وویل: راځه، یوځای به ډوډۍ وخورو. یوه دړه یې په دروازه راوځړوله او یوځای نږدې هوټل ته لاړل. کله چې د هوټل مېز ته کښېناستل دوکاندار وویل: اړینه نه وه چې لوښي صفا کړې، قرآن ویلي دي چې وږي ماړه کړو.

هلک وپوښتل: نو ولې دې پرېښودم چې دا کار وکړم..؟

سړي وویل: ځکه ټول لوښي خیرن وو، اړینه ده چې دواړه له فکر څخه منفي فکرونه وباسو. د ډوډۍ خوړلو وروسته دوکاندار هلک ته وویل: غواړم په مغازه کې مې کار راسره وکړې، کله چې ته په کار بوخت وې دوه گیراکان راغلل او دا نېک شگون دی. شپون چوپ پاتې شو، بلور پلورونکي بیا وپوښتل: کار راسره کوې..؟

شپون وویل: سمه ده، پاتې ورځ به هم کار درسره وکړم او ټول دوکان به درته پاک کړم، دومره پیسې راکړه چې مصر ته پرې لاړ شم.

دوکاندار په بریتو کې وخندل او وې ویل: که ټول کال هم کار راسره وکړې، ښه اجوره هم واخلې خو بیا به هم اړ وې چې مصر ته د تگ لپاره پور واخلې. زموږ او مصر ترمنځ په زرگونه کیلومتره د کویر دښته پرته ده.

یوه لحظه کامله چوپتیا حاکمه شوه، له بازار څخه هم هېڅ غږ نه راته، د پلورونکو او اخیستونکو ترمنځ هېڅ خبرې هم نه تیرې بیرې کېدې، هېڅوک برج ته نه ختل چې آذان وکړي. نه کومه هیله پاتې وه نه کوم جنجال. د خزانې او اهرام درک هم نه و. ته به وایې چې ټوله نړۍ په یوه ژوره چوپتیا کې تللې ده ځکه د هلک روح په چوپتیا کې غرق شوی و. ځای پر ځای کېناست او د هوټل په دروازې کې یې سترګې خښې کړې. هیله یې وکړه چې کاشکې مړ شوی وای او هر څه همدلته پای ته رسېدلي وای. بلور پلورونکي په اندېښنه د هلک سترګو ته وکتل، هاغه غرمنی شوق پکې نه ښکارېده. بیا یې وویل: زویه! زه تیار یم تاته دومره پیسې درکړم چې خپل وطن ته پرې ستون شې!

هلک پاڅېده، په سر یې لاس راکش کړ او وې ویل: زه له تاسو سره کار کوم!

بیا یې له یوې اوږدې چوپتیا وروسته وویل: د څو پسونو د اخیستلو لپاره پیسو ته اړتیا لرم.

***

## دوهمه برخه

هلک تقریبا یوه میاشت له بلور پلورونکي سره کار وکړ خو خوند یې ورنکړ. دوکاندار به ټوله ورځ د دخل سره ناست و؛ وا هلکه احتیاط کوه، مات یې نه کړې، هلته یې کېږده، دلته یې کېږده... خو له دې سره سره یې کار ته ادامه ورکړه، ځکه دوکاندار چې د منځنې سن خاوند و له ده سره ډېر ښه او منصفانه چلند کاوه. هلک د هر لوښي د پلورلو په بدل کې ښه غوره اجوره اخیستله او په لږ وخت کې یې ډېرې پیسې سپما کړې وې. یوه ورځ یې فکر وکړ چې که یوکال نور هم همداسې کار وکړي، کولای شي پسونه پرې واخلي.

هلک زاړه دوکاندار ته مخ کړ او وې وویل: غواړم لوښو ته یوه قفسچه جوړه کړم، داسې به یې هغه خلک وینې چې له دې تپې څخه تېرېږي. سړي وویل: تر اوسه مې دا کار نه دی کړی، ښایي کوم یو ورسره ټکر شي او ټول لوښي مات شي.

- ښه نو، زه هم چې کله شپون وم په دښته کې کله کله له مار سره مخ کېدم، کله به یو دوه پسونه هم له منځه لاړل خو دا د شپونانو د ژوند طریقه ده. دوکاندار ګیراک ته ورغی چې غوښتل یې درې ګیلاسونه واخلي. د خرڅلاو پروسه یې لږ ښه شوې وه. له دې وروسته چې ګیراک لاړ هلک ته یې مخ کړ او وې ویل: هلکه بازارونه ډېر ښه دي، کار هم په کش کې دی. ډېر ژر به دې پسونو ته بېرته وروګرځې. نور نو له ژونده څه غواړې..؟

هلک زړه نازړه وویل: «باید ښو ته ځواب ووایو»، بیا په خپله خبره پښېمانه شو ځکه دوکاندار د هغې موضوع په اړه نه پوهېده. بوډا باچا ورته ویلي وو چې دې ته «اصلي غوښتنه» وایي، ځکه ژوند غواړي چې ته خپلې شخصيـ افسانې ته ورسېږې. دوکاندار د هلک په خبره پوه شو، د هغه شتون په دې دوکان کې نېک شګون و او ده ته په دنده ورکولو هېڅ پښېمانه نه و. هلک ته یې له

حق نه ډېره تنخوا ورکوله. د دې لپاره چې د هلک پام د قفس له جوړولو څخه واړوي، ويې ويل: ښه نو، ولې غواړې د مصر اهرام ته لاړ شې..؟
هلک ځواب ورکړ: ځکه تل مې يې په اړه اوربدلي دي. د خوب په اړه يې څه ونه ويل، خزانه هم نوره په يوه دردوونکې خاطره بدله شوې وه. هلک هڅه کوله چې نور يې په اړه فکر ونه کړي.
دوکاندار وويل: دلته داسې څوک نه پېژنم چې يوازې د اهرامونو د ليدلو لپاره وغواړي له کوير دښتې څخه تېر شي، اهرام د تيږو ټوټې دي، کولای شې په کور کې يې هم جوړ کړې. هلک په داسې حال کې چې نوي گيراک ته يې کتل وويل: تا تر اوسه د سفر اراده نه ده کړې.
دوه ورځې وروسته دوکاندار د قفس په اړه هلک وپوښت او وې ويل: زه ډېر د تغير او تبديل سره موافق نه يم. زه او ته د دې گاونډي دوکاندار په څېر مالداره نه يو، هغه که تاوان هم وکړي په پيسو کې يې کمی نه راځي خو زه او ته بايد د خپلو غلطيو تاوان ورکړو. هلک په زړه کې وويل: په حقه يې.
دوکاندار وپوښتل: ته ولې غواړې دلته قفس نصب کړو..؟
هلک وويل: ځکه زه غواړم ژر مې رمه ترلاسه کړم، کله مو چې چانس شاوخوا وي بايد گټه ترې واخلو.
دوکاندار وويل: زموږ پيغمبر موږ ته قرآن پرېښود او پنځه کارونه يې راباندې فرض وگرځول ترڅو عمل پرې وکړو. ترټولو نه مهم يې د خدای په وحدانيت ټينگه عقيده ده. نور پنځه وخته لمونځ، روژه او زکات دي. تر دې ځايه چې راورسېد چوپ شو، همداسې چې د پيغمبر په اړه يې خبرې کولې سترگې يې له اوښکو ډکې شوې. هغه يو پارسا انسان او غوښتل يې چې ټول ژوند يې د اسلام له قانون سره سم تېر شي. هلک وپوښتل: پنځم واجب څه دی..؟
دوکاندار ځواب ورکړ: څنگه چې تا وړاندې وويل چې ما تراوسه د سفر اراده نه ده کړې، پنځم واجب د حج ادا کول دي. هر مسلمان بايد لږ تر لږه يوځل هم که کيږي د حج د اداء کولو لپاره مکې ته لاړ شي. مکه له اهرامونو څخه هم ليرې ده. په ځوانی کې مې ټوله هڅه دا وه چې دا دوکان جوړ کړم او پيسې پرې وسپموم، وروسته کولای شم حچ ته لاړ شم. د پيسو سپما مې پيل کړه خو هېڅ مې زړه نه کېده چې دوکان بل چاته پرېږدم او لاړ شم، ځکه زموږ کاروبار خورا نازک دی او ډارېدم چې څوک مې خانه خراب نه کړي. په همدې حال کې، زما د دوکان مخې ته ډېر خلک تېرېدل چې د حج نيت به يې درلود، هغوی ټول له ما څخه مالداره وو او له قافلې او نوکرانو سره به حج ته تلل. خوځينې مسافرين له ما څخه هم غريب وو. ټول حاجيان چې به مکې ته تللي وو له خپل سفر څخه به ډېر خوښ مالومېدل او هڅه به يې کوله چې د دې سفر يوه نښه ورسره وساتي. يو موچي کيسه کوله چې د حج لپاره د يو کال په موده کې د کوير له دښتې څخه تېر شو هېڅ د ستړيا احساس يې نه کاوه خو اوس چې تر طنجه پورې هم ځي ستړی کيږي.
هلک وپوښتل: ښه نو اوس ولې مکې ته نه ځې..؟

دوکانـدار وویـل: همـدا د مکـې سـوچ دی چـې زه یـې ژونـدی سـاتلی یـم. همـدا سـبب دی چـې د دې بـې ژیـې بلـوري لوښـو او هغـه ډار سره وخـت تېـروم. لـه دې نـه ډارېـږم چـې کـه یـوه ورځ مـې دا خـوب ریښـتیا شو، نـور بـه د ژونـد لپـاره هـېڅ دلیـل ونـه لـرم. پـه خیـال کـې مـې ګرځـي چـې د کـویر لـه دښـتې تېـر شـوی یـم او مکـې تـه تللـی یـم، لـه حـرم شریـف څخـه مـې طـواف کـړی، حجـر الاسـود مـې ښـکل کـړی او پـه حـرم کـې پـه لمنځونـو بوخـت یـم... لـه ډېـرو نـورو کیسـو وروسـته بلآخـره دوکانـدار هلـک تـه د نـوي قفـس د جوړولو اجازه ورکړه.

***

دوې میاشـتې نـورې هـم تېـرې شـوې، د لوښـو قفـس ریښـتیا هـم ښـه نتیجـه ورکـړې وه او ډېـر ګیراکـان یـې راجذب کـړي وو. هلـک حسـاب وکـړ چـې کـه شـپږ میاشـتې نـور هـم کـار وکـړي، وبـه کـړای شي چـې اسـپانیا تـه لاړ شي او شـپېته پسـونه واخـلي. حتـی د شـپېته نـورو اضـافي پسـونو پیسـې هـم ورتـه بچـت کېـدې. کـولای یې شول چې د کال نـه پـه کمـه مـوده کـې د رمـې شـمېر دوه چنـده کـړي. اوس یـې عـربي هـم لـږ لـږ زده کـړې وه او لـه عربـانو سره یـې بیـه بقالـه کـولای شـوای. لـه هغـې ورځـې راهیسـې یـې نـور لـه آوریـم او تمـیم څخـه ګټه نه وه اخیستې ځکه مصر تـه تـګ اوس ورتـه پـه یـو خـوب بـدل شـوی و. پـه هـر صـورت هلـک لـه ځـان نـه راضي و او تـل بـه یـې د هغـې ورځـې سـوچونه وهـل چـې پـه جـګ سر پـه طاریـف کـې لـه کښـتۍ څخـه ښـکته کیږي.

بوډا پاچا ورتـه ویـلي وو چـې بایـد پـوه شـې چـې څـه غـواړې. دی بـه تـل د نښـو پـه پیـدا کولـو او تعبیرولـو پسـې ځـیر و. یـوه ورځ یـې یـو سـپین ږیـری سـړی ولیـد چـې د تپـې څخـه یـې سرټکـاوه، ویـل یـې چـې دلتـه داسـې پـاک ځـای نشـته چـې څـوک راوخېـږي کېنـي او یـو ګـیلاس چـای وڅښـي. هلـک د دې خـبرې پـه اورېـدو سره اوچت دوکاندار ته وویل:

راځه چې یو بل کار وکړو، دا خلک چې دلتـه راخېـژي چـای بـه پـرې پلـورو. چـای بـه پـه ښیښـه یـې لوښـو کـې خلکو تـه ورکـوو ترڅـو خلکـو تـه هـم خونـد ورکـړي او کـه یـې خونـد ورکـړ د ښیښـه یـې لوښـو پـه اخیسـتلو پسـې متـې رابـډ وهـي. دوکانـدار څـه ونـه ویـل. د غرمـې لـه لمانځـه وروسـته یـې دوکـان وتـاړه او هلـک تـه یـې وویـل: راځه دلته کېنه چې چیلم وڅکوو! بیا یې هلک ته وویل: ته څه غواړې..؟

هلـک وویـل: مخکـې مـې هـم درتـه ویـلي وو چـې غـواړم رمـه مـې بېرتـه ترلاسـه کـړم او د دې کـار لپـاره پیسـو ته اړتیا لرم.

دوکاندا ر د چیلم سکروټه تـازه کـړه، کـش یـې ورکـړ او لـه لنـډې دمـې وروسـته یـې وویـل: کـه دا کـار پیـل کـړو کاروبار مو پراخېږي، او له دې سره زما په ژوند کې هم بدلون راځي.

هلک وویل: نو دا خو بده خبره نه ده،

- ما دلته ۳۰ کاله عمر تېر کړ، ګاونډیان مې ځیني لاړل کډه یې وکړه، ځینو تاوان وکړ او ځیني نورو هم له پخوا څخه ډېره ګټه وکړه، نه پوهېږم څنګه ځان له دې بدلون سره عادت کړم..؟ زه له دې وضعې سره عادي شوی یم او بدلون راوستل ما ته ډېر ګران کار ښکاري.

هلک نه پوهېده چې څه ووایي، دوکاندار ادامه ورکړه: تا د نعمت دروازې راته وازې کړې، او س په هغه خبرو پوهېږم چې مخکې مې نشوای درک کولای. ناشکري ښه نه وي، نور څه نه غواړم. اوس پوهېږم چې څومره نعمتونه لرم خو له پخوا څخه ډېر د ناخوښۍ احساس کوم ځکه پوهېږم چې ډېر کارونه شته چې کولای شم تر سره یې کړم خو نه یې کوم.

د لمر تر لوېدو پورې یې چیلم وڅکاوه، په خپل منځ کې یې په عربي خبرې کولې او هلک له دې بابته ځان ته ډېر خوښ و. په داسې حال کې چې د چیلم سکروټې یې مړې کولې، د چای پلورلو نظریه یې ورسره ومنله.

خلک به تپې ته په ډېر کړاو راجګېدل، ستړي ستومانه به وو خو چې د تپې په سر د چای مغازه به یې ولیدله، ورتلل به او د نعنا خوندور چای به یې په ښکلیو ښیښه یي لوښو کې څښه.

یوه وویل: ولا دا کار مې هېڅ په ذهن کې هم نه راتاوېده، بیا یې درې ښکلي بلوري ګیلاسونه واخیستل ترڅو بېګاه ته یې مېلمستیا دسترخوان پرې ښکلی شي. بل وویل: په بلوري لوښو کې چای ډېر ښه خوند کوي ځکه د چای عطر ساتي. په ډېر کم وخت کې د دې چای پلورنځي خبره په ښار کې خوره شوه. هرڅوک به راتلل چې دا خوندور چای یوځل وڅښي. ورو ورو نور دوکانونه هم دا کار تقلید کړ خو د هېچا کار ونه چلېده.

کار داسې ځای ته ورسېد چې بلور پلورونکی اړ شو چې دوه نور کارکوونکي هم وګوماري، د بلوري لوښو ترڅنګه به یې ډېر چای هم راوارداوه. هغه سړي او ښځې چې غوښتل یې نوي او متفاوت شیزونه تجربه کړي، دلته راتلل. په همدې ډول څونورې میاشتې هم تېرې شوې.

هلک د لمر راختلو وړاندې له خوبه پاڅېد، له کومې ورځې چې آفریقا ته راغلی و ۱۱ میاشتې او ۹ ورځې کېدې. خپل سپین عربي کالي یې واغوستل. دا کالي یې د همدې ورځې لپاره تیار کړي وو. نوې چپلې یې په پښو کړې او په آرامۍ سره په زینو کې راښکته شو.

سباناری یې وکړ او په دروازه کې مخامخ لمر ته کېناست او په چیلم څکولو بوخت شو. په چوپتیا یې له چیلم څخه لوخړې جګولې. هېڅ فکر یې نه کاوه، یوازې باد ته چې د کویر ددښتې بوی ورسره یوځای و، غوږ و. چیلم یې پای ته ورسېد. په جېب کې یې لاس ننوېست او یو موټې پیسې یې راوایستې، اوس یې نو دومره پیسې درلودې چې ۱۲۰ پسونه، اسپانیا ته د تګ ټیکټ او له افریقا څخه اسپانیا ته د اموالو د تجارت جواز پرې واخلي.

پـه تمـه شـو ترڅـو دوکانـدار راويښ شـو او دوکـان يـې واز کـړ. وروسـته يـې يوځـای څـو ګيلاسـه چـای وڅښـلو. د چـای څښـلو پـه جريـان کـې يـې دوکانـدار تـه وويـل: زه نـن لـه دې ځـای نـه ځـم، مـا مـې د رمـې د بېرتـه اخيستلو پيسې پيدا کړي او تا مکې ته د تګ.

دوکانـدار څـه ونـه ويـل. هلـک بيـا وپوښـتل: کېـدای شي ماتـه مـو د خيـر دعـاء وکـړئ..؟ پـه دې دومـره مـوده کې مو ډېره مرسته راسره وکړه!

دوکانـدار خپلـه پيالـه ډکـه کـړه او وې ويـل: زه پـه تـا ويـاړم، تـا زمـا دوکـان پـه ښـو ودراوه څـو پـوهېږې..؟ زه مکې تـه د تـګ اراده نـه لـرم او تـه هـم د خپلـې رمـې د بېرتـه اخيسـتلو اراده نلـرې. هلـک لـه ځـای نـه پاڅېـد او ويې ويل: چا دا خبره کړې ده..؟

دوکاندار وويل: «بس پرېږده يې». او له دې سره يې هلک ته د خير دعاء وکړه.

***

هلک يې کوټې تـه لاړ او خپـل تـوکي يـې راټـول کـړل او  پـه دريـو کڅـوړو کـې يـې واچـول. کله چې لـه کـوټې څخـه وتلـو سـترګې يـې د شـپنې د وخـت پـر  کڅـوړه ولګېـدې چـې د کـوټې پـه کـونج کـې پرتـه وه. کڅـوړه غونجې شـوې وه ځکـه دا ډېـر وخـت هـېڅ ګټـه تـرې نـه وه اخيسـتل شـوې. کلـه چـې يـې غوښـتل څـادر يـې لـه کڅـوړې څخـه راوبـاسي دوه تيـږې هـم لـه کڅـوړې څخـه ولوېـدلې، آوريـم او تمـيم. نااڅاپـه بـوډا وريـاد شـو، دې فکـر ډېـر وځـوراوه. دا يـو کـال يـې د بـوډا پـه هکلـه هـېڅ فکـر نـه و کـړی او يـوازې د پيسـو غونـډولو پـه سـوچ کـې و. بـوډا ويـلي وو چـې « هېڅکلـه دې لـه خوبونـو څخـه مـخ مـه اړوه، نښـې تعقيـب کـړه». هلـک آوريم او تميم راواخيستلې او يوځـل بيـا يـې بـوډا پـه خپـل څنـګ کـې احساس کـړ. يـو کـال يـې کـار کـړی و او نښو نور ويل چې بايد لاړ شي.

ويې ويل: نور بايـد بېرتـه لاړ شـم او هغـه کـار پيـل کـړم چـې مخکـې مـې کـاوه، خيـر دی کـه پسـونو مـې عـربي ژبـه رازده نکـړای شـوی يـوه بلـه ډېـره اړينـه ژبـه يـې رازده کـړه؛ او مـا هـم دې دوکـان  تـه پـه دوهـم ځـل رونـق ورکولـو کـې ګټـه تـرې واخيسـته. هغـه د «شـوق» ژبـه ده، د عاشـقانه او موخـه لرونکـي کـار ژبـه. د طنجـه ښـار نـور ورتـه پـردی نـه و او حـس کولـه يـې څنګـه چـې پـه دې ښـار برلاسـی شـو، پـه ټولـه نـړی هـم همداسـې برلاسی کېدای شي.

هلـک دا کڅـوړه هـم د نـورو خواتـه کېښـوده او دوکـان تـه ښـکته شـو. دوکانـدار لـه بهـرني خاونـد او مېرمنـې سره پـه خـبرو بوخـت و. يـو څـو نـور ګيراکـان چـې د چـای پيـالې يـې پـه لاس کـې نيـولې وې، پـه دوکـان کـې ښـکته پورتـه ګرځېـدل. پـه دوکـان نـن لـه ټولـو ورځـو څخـه ډېـر بيروبـار و. هلـک ولاړ و او د لـومړي ځـل لپـاره يې پام شو چې د دوکاندار وېښـته بـوډا پاچـا تـه ورتـه دي، بيـا يـې طنجـه ښـار تـه د راتـګ پـه لمـړی ورځ د هغـه خـواږه پلـورونکي موسـکا هـم پـه يـاد شـوه، هغـه هـم ډېـره د بـوډا پاچـا موسـکا تـه ورتـه وه. هلـک لـه ځـان سره وويل: لکه چې هغـه دلتـه راغلـی او لـه ځـان نـه يـې نښـې پريښـې. پرتـه لـه خـدای پامـانی لـه هغـه ځـای څخـه

ووت ځکه ډارېده چې د نورو خلکو په مخکې ژړا ورنشي. پر ځان باور يې ډېر غښتلی شوی و او فکر يې کاوه چې په ټوله نړی برلاسه کېدای شي. په ډاډ يې وويل: «اوس بېرته پخوانيو دښتو ته ورځم او رمه به ساتم». له خپلې پرېکړې څخه لږ ناخوښه ښکارېده. پوره يو کال يې د دې خوب د پوره کولو لپاره کار کړی و خو اوس دا خوب لږ لږ بې ارزښته ورته ښکارېده، ښايي دا به يې ريښتينې موخه نه وه! بيا يې له ځان سره وويل: څوک پوهېږي، ښايي سبا ورځ له دې بلور پلورونکي څخه هم ډېر مالداره شم. په همدې سوچونو کې هغه هوټل ته ورسېد چې لومړی ورځ ورته راغلی و.

-ښايي دا به هم يوه نښه وه. د هغه غله درک نه و، هوټلي يو ګيلاس چای ورته راوړ. هلک له ځان سره وويل: کولای شم چې لاړ شم او شپني له سره پيل کړم، دا کار مې هېر کړی هم نه دی خو ښايي بيا د مصر اهرامونو ته د راتګ لپاره چانس ونه مومم، هغه بوډا ريښتيا هم پاچا و او زما له تېر ژوند څخه هم خبر و، هغه ډېر هوښيار سړی و.

د اندلس تر دښتو يوازې ۲ ګړی لار وه خو د مصر تر اهرام پورې خدای زور لاره پاتې وه. بيا يې وويل: پوهېږم چې ولې غواړم بېرته مې رمې ته ورشم، زه مې پسونه درک کوم. کوم جنجال او سرخوږی نه راته جوړوي او په عين حال کې ډېر ښه ملګري هم کېدای شي، خو نه پوهېږم چې د خزانې د پيدا کولو لپاره مې لاړ شم که نه؟ که خزانه پيدا هم نکړم کولای شم بېرته مې وطن ته لاړ شم. هم پيسې لرم هم وخت، نو ولې مې پټخزانه پسې لاړ نه شم؟

ناڅاپه يې خوښي په بدن کې وځغلېدله. ځکه هر وخت چې وغواړي بېرته کولای شي شپني پيل کړي، کولای شي په هغه دوکان کې بيا شاګرد شي. ښايي په نړی کې نورې خزانې هم وي خو ده خوب ليدلی و او له پاچا سره يې ليدلي وو، داسې غوره معامله نو هرچا ته هم نه پېښېږي!

د هوټل نه د راوتلو په وخت کې ورياد شول چې يو بلور پلورونکي خپل سامان د هغه کاروانونو په مرسته انتقالاوه چې د کوير له دښتې څخه به تېرېدل. آوريم او تميم يې په لاس کې ونيول. د دې تيرو له برکته يې يوځل بيا د خزانې په لوري ګامونه اخيستي وو. بوډا ورته ويلي وو: « زه تل د هغه چا سره مرسته کوم چې په خپله شخصي افسانه پسې ګرځي».

***

انګرېز په يوه وران ديوال ناست و. له هغه ځايه د خوشايو او څارويو ډېر بد بويونه راتلل چې دی يې پاذاب کړی و. همداسې چې د کيمياګری اړوند د يو کتاب پاڼې اړولې وويل: فکر مې نه کاوه چې کار مې دې ځای ته راورسېږي، دا لس کاله تحصيل لکه چې د انګورو په تول لاړ!

له ټولو نه وړاندې يې سپرانتويي ژبه زده کړه او وروسته يې د بېلابېلو مذاهبو په اړه مطالعه پيل کړه. سره له دې چې سپرانتويي ژبه يې ښه زده وه او د نړی د مذاهبو په اړه يې هم پرېمانه معلومات درلودل خو غم دا و چې په کيمياګری يې سر نه خلاصېده، ټوله هڅه يې د يو کيمياګر د لټون لپاره وه. دا

کیمیاګران هم عجیبه ډله وه، یوازې د ځان غم به ورسره و او بس. انګرېز د پلار ټول میراث د کیمیا او کیمیاګر د پیدا کولو لپاره مصرف کړی و. ډېر عمر یې په کتابتونونو کې تېر کړی و او د کیمیا ډېر نادر او ګرانبیه کتابونه یې پېرلي وو. څو کاله وړاندې یو عرب کیمیاګر د اروپا په سفر راوتی و. ویل کېدل چې له ۲۲۰ کلونو څخه یې ډېر عمر درلود او ویل کېدل چې د ځوانی اکسیر یې کشف کړی دی. لومړی یې دا کیسه یوه افسانه ګڼلې وه خو د دې ترڅنګ یې ډېر اغېز هم پرې کړی و. وروسته یې یوه ملګري چې د عربي ملک څخه راستون شوی و ورته ویلي وو چې هلته د «الفیوم» په سیمه کې یو بوډا کیمیاګر دی چې فوق العاده کارونه کولای شي، هغه کولای شي چې هر ډول اوسپنه په طلا بدله کړي. دې خبرې یې اراده لا هم پسې غښتلې کړه. کله چې یې دا کیسه واورېده عاجل یې خپل اړین کتابونه او وسایل راخیستي او د سفر په اراده راووت. او اوس د دې کنډوالې پر سر ناست و. د کنډوالې څخه لږ لرې یو کاروان د کویر له دښتې څخه تېرېدو ته چمتووالی نیوه. دا کاروان د لارې په جریان کې له الفیوم څخه هم تېرېده.

انګرېز په زړه کې وویل: بلآخره دا لعنتي کیمیاګر پیدا کوم!

یو ځوانکی عرب د یوې لویې غوټې سره راغی، سلام یې وکړ او وې ویل: تاسو چېرته ځئ..؟

انګرېز ځواب ورکړ: دښتې ته، او بیا یې د کتاب مطالعه له سره پیل کړه. نه یې غوښتل له چا سره خبرې وکړي. باید هغه څه یې ښه زده کړي وی چې مخکې یې لوستي وو،ځکه کیمیاګر حتما پوښتنې ترې کولې او باید موضوعات یې ښه په یاد وای.

عرب ځوان یو کتاب راوایست او په لوستلو یې پیل وکړ. انګرېز د سترګو لاندې وروکتل، ویې لیدل چې کتاب په اسپانوي ژبه دی. په زړه کې یې وویل: ههه، لکه چې اسپانوي یې له خپلې عربي څخه غوره ده، که د دې هلک موخه هم الفیوم وي، که مې کوم اړین کار نه درلود د سفر په جریان کې لږ مجلس ورسره کولی شم.

هلک همداسې چې په کتاب کې یې د کوم مړي د خاورو ته د سپارلو د مراسمو رسم لیده، وویل: جالبه ده! یو کال دا کتاب راسره دی خو له دوهمې پاڼې مخکې نه یم تللی. نور نو کوم پاچا شتون نه درلود چې تمرکز یې ورخراب کړي، خو بیا یې هم خپل حواس نه شوای کنټرولولی.

تر اوسه د خپلې پرېکړې په اړه شکمن و. خو په یوه څه ډېر ښه پوهېده چې پرېکړه کول یو نوی پیل دی. کله چې یو نفر غواړي یوه توند جریان ته ځان وسپاري، ډېری وخت داسې څه ورته پېښېږي چې ده به یې آن تصور هم نه وي کړی. کله مې چې د خزانې په لټون پسې راووتلم، کیسه مې آن د بلور پلورونکي تر دوکان پورې ورسېده، اوس خو مې دا نیت دی او له دې کاروان سره یوځای کېږم، چې چېرته به مې یوسي؟ یوازې خدای ښه پوهېږي.

څنګ تـه ناسـت انګرېـز ملګـري يـې کتـاب لوسـت، لـه مـخ نـه يـې ښـکارېدله چـې ښـايي چنـدان د ملګرتيـا سـړی نـه وي. کلـه چـې هلـک ورننـوت، يـو تـروش نظـر يـې ورتـه وکـړ.دواړه پوهېـدل چـې کـولای شي يـو لـه بـل سره خـبرې وکـړي يـا يـوه ملګرتيـا ټينګـه کـړي خـو انګرېـز خـبرې کـول نـه خوښـول. هلـک خپـل کتـاب وتـاړه، نـه يـې غوښـتل چـې دی هـم د انګرېـز غونـدې ښـکاره شي نـو آوريـم او تمـيم يـې لـه جېـب څخـه راوښکلې او ورسره بوخت شو.

انګرېز چيغه کړه: آوريم او تميم!

هلک په چابکۍ تيږې په جېبو ومنډلې او وې ويل: د خرڅلاو نه دي!

- دومره ارزښت نـه لـري، يـوازې د کرېسـټال تيـږې دي او پـه هـر ځـای کـې پيـدا کيـږي خـو نـه پـوهېږم چـې ستاسو په ملکونو کې به وي که نه.
- دا ماته يوه پادشا په ډالۍ کې راکړې.

انګرېز پرتـه لـه دې چـې څـه ووايـي، لاس يـې جېـب تـه ښـکته کـړ او دوه همداسـې تيـږې يـې تـرې راوايسـتلې او بيا يې وويل: يوه پادشاه؟

هلـک پـه دې نيـت چـې خـبرې اتـرې پـای تـه ورسـوي وويـل: حتـی بـاور نـه کـوې چـې يـو پاچـا لـه ماغونـدې سړي يعنې شپانه سره وليدل!؟

- نه نه، شپانه لـومړني خلـک وو چـې پاچـاهۍ تـه يـې احـترام وکـړ پـه داسـې حـال کـې چـې نـورو پاچـا لا پـه رسميت نه پېژانده نو د حيرانتيا خبره نه ده چې يو پاچا له يو شپون سره خبرې وکړي.

او بيـا يـې پـه ډار د دې لپـاره چـې هلـک يـې پـه مقصـد پـوه نـه شي وويـل: دا موضـوع پـه انجيـل کـې هـم راغلـې ده. هماغـه کتـاب چـې آوريـم او تمـيم ماتـه راپېـژني. يـوازنی وسـيله چـې خـدای د هغـه پـه وسـيله وړاندوينې ته اجازه ورکړې ده. پادريان دا تيږې د طلا په امېلونو کې ځای پر ځای کوي.

د هلک په ځان کې ناڅاپه خوښي راپيدا شوه.

انګرېز وويل: ښايي دا هم يوه نښه وي.

هلک ورته رانږغ شو او وې ويل: تا ته چا د نښو په اړه ويلي..؟

انګرېـز خپلـه مجلـه وتړلـه او وې ويـل: پـه ژونـد کـې هـر څـه يـوه نښـه ده. يـوه نړيوالـه ژبـه شـتون لـري چې اوس تقريبـا هېـره ده. زه هـم پـه هماغـه نړيوالـه ژبـه پسـې ګـرځم. بايـد داسـې يـو نفـر راپيـدا کـړم چـې پـه دې ژبه پوهېږي، هغه يو کيمياګر دی.

د هغـه ځـای خاونـد د دوی خـبرې قطـع کـړې او ويـې ويـل: تاسـو دوه ډېـر نېکمرغـه ياسـت، دغـه کـاروان نـن الفيوم ته روان دی.

هلک وويل: زه خو مصر ته ځم..؟

انګرېـز وويـل: الفيـوم پـه مصر ـ کـې دی، تـه څـه ډول عـرب يـې چـې پـه دې هـم نـه پـوهېږې. وروسـته لـه دې چـې چـاغ عـرب سـړی لـه دروازې ووت انګرېـز وويـل: دا ښـه د ښـه شـګون ده. کـه مـې کـولای شـول يـو ډېـر لـوی دائـرة المعـارف مـې د (چـانس) او (تصـادف) پـه اړه ليکله.نړيوالـه ژبـه هـم پـه همـدې دوه کلمـو ليکـل شوې ده. بيا يـې ادامـه ورکـړه: دا هـېڅ تصـادف نـه دی چـې لـه تـا سره مـې آوريـم او تمـيم وليـدل، آيـا تـه هـم په کيمياګر پسې ګرځې..؟

هلـک وويـل: زه مـې پـه خزانـه پسـې ګـرځم. لـه دې سره يـې پـه خـبرې پښـېمانه شـو خـو داسـې ښـکارېدله چې انګرېز چندان اهميت ورنکړ وې ويل: زه هم په يو ډول په خزانه پسې يم!

هلک وويل: زه حتی نه پوهېږم چې کيمياګري څه ده..؟

په همدې وخت کې پنډ عرب ورته د بهر راوتلو آواز وکړ.

***

يو ږيرور تور سـترګي سـړي وويـل: زه د کـاروان سـالار يـم، هرڅـوک چـې لـه مـا سره ځـي مـرګ او ژونـد يـې زمـا په لاس دی. کوير دښته لکه يوه هوسبازه ښځه ده چې کله کله سړي آن د جنون ترپولې رسوي.

تقريبـا ۲۲۰ تنـه بـه هلتـه راغونـډ شـوي وو. د څـارويو-خـرو، اسـونو، اوښـانو، قـاطراو چرګـانو- شـمېر ۴۰۰ تـه رسېده. ښځې او ماشومان هـم ولاړ وو. څـو تنـه تـوره پـه مـلا ټوپـک پـرلاس سـړيان هـم ښـکارېدل. د انګرېـز سره د کتـابونو څـو بکسـونه وو،. شـور او زوږ هلتـه ډېـر و او د کـاروان سـالار اړ و چـې خپلـې خـبرې څـو ځلـه تکرار کړي.

- دلتـه ګـڼ خلـک دي، هرڅـوک خپـل ديـن او خـدای لـري، خـو زمـا رب الله دی او قسـم خـورم چـې هرکـار مـې چـې لـه وسـه کيـږي کـوم يـې ترڅـو داخـل پـر کـوير بريـالی شـم. اوس نـو ټـول پـه هغـه خـدای قسـم وخورئ چې منئ يـې، چـې پـه هـرډول شرايطـو کـې زمـا لـه امرونـو څخـه سرغړونـه ونـه کـړئ. پـه کـوير کـې سرغړونه يعنې مرګ.

لـه ټـولګې نـه ګـڼ آوازونـه جـګ شـول، هرچـا پـه خپـل خـدای قسـمونه خـوړل. هلـک پـه عيسـی مسـيح قسـم وخوړ خو انګرېـز چـوپ پـاتې شـو. دا غږونـه ډېـر شـول دومـره چـې د يـو عـادي عهـد مطـابق نـه وو، ټولـو د ځـان د سلامتۍ لپاره دعاوې کولې.

د شيپور په شـان جـګ آواز واورېـدل شـو، ټـول خلـک لـه ځـايو نـه جـګ شـول. هلـک او انګرېـز پـه هغـه اوښـانو سـپاره شـول چـې اخيسـتي يـې وو. د هلـک زړه د انګرېـز پـه اوښ بـد شـو، هغـه ځکـه چـې د کتـابونو څخـه ډک ډېر زيات صندوقونه يې پرې بار کړي وو.

انګرېز خبرې له هماغه ځايه راونيولې چې پرې کړې يې وې: هېڅ تصادف نه دی، زه دلته ځکه راغلی يم چې يو ملګري مې اورېدلي وو چې...

خو اوس کاروان حرکت کړی و او د انګرېز خبرې اورېدل ناشوني وو. هلک پوهېده چې څه غواړي وايي؛ له ځان سره يې فکر وکړ: يو مرموز زنځير هر څه له يو بل سره پيوندوي، هماغه زنځير چې سبب شو هغه شپون شي، تکراري خوبونه ووينې، پاچا ووينې، د آفريقا نيږدې ښار ته لاړ شي، پيسې يې ترې وتښتوي، دوکان ته لاړ شي، او نور...

په زړه کې يې وويل: څومره چې دې شخصي- افسانې ته نيږدې کېږې، په هماغه اندازه دې دا شخصي- افسانه د ژوند دليل جوړېږي.

کاروان د ختيځ طرف ته روان و، سهار به يې حرکت کاوه تر څو به چې لمر تر ټولو نه لوړې نقطې ته ورسېد، بيا به ودرېدل او د لمر د لوېدو په وخت به يې حرکت کاوه. هلک د انګرېز سره ډېر کم غږېده، د انګرېز فکر و سوچ ډېر له کتابونو سره و.

هلک په چوپتيا سره د انسانانو او حيواناتو دا مزل کاته چې د کوير له دښتې تېرېده. هر څه د لومړی ورځې سره فرق درلود، اوس نو هغه ګډوډي، چيغې، د ماشومانو ژړا، د حيواناتو غړونه، هېڅ هم نه وو. په کوير کې يوازې يوازې د لايزال باد آواز او د اوښانو د سمونو غږ اورېدل کېده. آن لارښوونکو به هم يو له بل سره په آرامۍ خبرې کولې.

يوه شپه يوه ښاروان وويل: زه په ځلونو له دې ريګونو څخه تېر شوی يم، خو کوير دومره پراخه ده چې انسان د حقارت احساس کوي او اړ دی چې خوله وتړي. هلک تر اوسه له کوير څخه نه و تېر شوی خو په خبرو يې سر خلاص شو. کله به چې يې سيند او اور ته کتل د هغوی د جاوداني قدرت تر اثر لاندې کېده او چوپ به کېناست.

بيا يې وويل: له رمې نه مې ډېر شيان زده کړل، همدارنګه د بلوري لوښو څخه. له کوير څخه هم ډېر څه زده کولای شم، کوير زړه او باتجربه ښکاري.

باد هېڅ نه درېده، هلک ته وریاد شول چې په طاریف کې و او همدا باد يې په مخ لږېده. بيا يې د پسونو وړی وریادشوې، هغه پسونه چې اوس په اوبو او وښو پسې د اندلس په دښتو کې ګرځي. هغه کار چې تل يې کاوه.

له ځان سره يې وويل: هغه نور نو زما رمه نه ده، ښايي له نوي شپون سره يې روږدي شوي وي او زه يې هېر کړی اوسم. څومره ښه! د پسونو غوندې مخلوق چې له سفر سره عادت دي، پوهېږي چې تل بايد لاړ شو. د سوداګر لور هم وریاد شوه، په زړه يې تېره کړه چې اوس به يې حتما واده کړی وي، له يوه

نـانوای یـا شـپون سره چـې لوسـتل کـولی شي او جالـب جالـب حکایتونـه ورتـه وایـي. د دې لپـاره چـې د ځاروان پـه خـبرو یـې سرخـلاص شـوی و د خوښـۍ احسـاس یـې کـاوه. ښـایي نړیوالـه ژبـه بـه یـې زده کولـه، هغـه ژبـه چـې د انسـانانو لـه تېـر او اوس وخـت سره یـې سروکـار درلـود، مـور بـه یـې دې تـه د زړه گـمان او احساس وایه.

پـه دښته کـې لـه رنگونـو او تیـرو پرتـه بـل څـه نـه وو. کـه بـه کـاروان لـه یـوې تیـرې سره مـخ کېـده بایـد لـرې کـړې یـې وای. کـه یـوې ډېرینـې سـیمې تـه بـه رسـېده اړ بـه وو چـې لـه یـوې بلـې لارې لاړ شي. کلـه بـه د ځارویو سـمونه پـه شـگو کـې ننوتـل او اړ بـه وو چـې داسـې مسیر پیـدا کـړي چـې ځمکـه یـې لږ کلکـه وي. پـه ځینـې ځـایونو کـې بـه کـوچني سـیندونه وچ شـوي وو او مـالگې بـه یـې خـورې ورې وې. ځـارویو بـه پـه دې ځـایونو پښـې نـه ایښـودلې او ځاروانـان اړ وو چـې بـار تـرې راښـکته کـړي او تـر یـو ځایـه یـې خپلـه یـوسي. کـه کوم لارښود به مریضېده یا هم مړه کېده، ځاروانانو به پچه اچوله او نوی لارښود به یې ټاکه.

دې ټولـو یـو عمـده دلیـل درلـود، کـه کـاروان پـه بېلابېلـو لارو او هرحالـت تـگ کـاوه مهمـه نـه وه. مهمـه دا وه چـې کـاروان خپلـې مـوخې تـه ورروان دی. کلـه بـه چـې مسـافرانو سـهاروختي یـو ځلېـدونکی سـتوری لیـده پوهېـدل چـې پـه سـمه لاره روان دي او د اوبـو، نخلسـتان او کورونـو پـه لـور روان دي، یـوازې چـا چـې دې ټولو کارونو ته پام نه کاوه انگرېز و. ځکه ډېر وخت یې په مطالعه بند کړی و.

د هلک سره یې هم کتاب و او د سفر پـه لومړیـو ورځـو کـې یـې هڅـه کـړې وه چـې ویـې لـولي خـو بـاد تـه غـوږ نیـول او د کـاروان سـیل ورتـه جالـب و. کلـه چـې لـه خپـل اوښ سره بلـد شـو او کـولای یـې شـوی اړیکـه ورسره ټینگه کړي کتاب یـې گوښـه کېښـود. کتـاب یـو اضافي بـار و خـو پـه دې یـې هـم بـاور درلـود چـې هرکلـه کتـاب پرانیزي یو نوی شی زده کوي.

لـږ لـږ د هغـه ځـاروان سره شـناخته شـو چـې دده لـه اوښ سره بـه پیـاده روان و. د شـپې بـه چـې کلـه د اور شاوخوا کېناستل هلک به د شپنۍ د وخت کومه کیسه ورته کوله.

یـوه شـپه ځـاروان د خپـل ژونـد پـه اړه وویـل: زه د قـاهرې شـاوخوا اوسـېدم، د مېـوو بـاغ او اهـل و عیـال مـې درلـود. فکـر مـې کـاوه چـې ژونـد بـه مـې نـو پـه دغـه رقـم روان وي. یـو کـال حاصـلات ډېـر ښـه وو، د کـورنۍ سره مـې حج تـه لاړم او هغـه فریضـه مـې ادا کـړه چـې لا مـې نـه وه ادا کـړې. اوس نـو کـه مـړ کېـدلای هـم سـوچ مـې نـه پـرې خرابېـده. یـوه ورځ ځمکـه ولړزېـده او د نیـل سـیند طغیـان وکـړ. دا هماغـه څـه وو چـې تـل مـې فکـر کـاوه چـې یـوازې پـه نـورو راځـي او پـه مـا هـېڅ نـه راځـي. گاونـډیان ډارېـدل چـې د زیتونـو ونـې بـه سېل یوسي او ښځه مې ډارېدله چې بچي لـه لاسـه ورنـه کـړو. لـه ځـان سره مـې وویـل چـې لکـه چـې هـر څـه تباه شول!

ځمکې مې له لاسه ورکړې او اړ شوم چې د پيسو پيدا کولو لپاره بل کار پيل کړم. اوس وينې چې ځاروان يم خو دې مصيبت ماته راوښودل چې بايد د الله کلام درک کړو. که انسان وکړای شي چې هر څه چې غواړي يې لاسرسی ورته ولري، هېڅکله به له ناشناختهو څخه ونه ډار شي. موږ ډارېږو چې مال او شته مو له لاسه ونه وځي خو د دې په درک چې زموږ ټولو د ژوند افسانې په يوه واحد لاس ليکل شوې دي دا ډار کموي.

کله کله به د لارې په جريان کې د بل کاروان سره مخ شول. تل به يوې قافلې يو څه درلودل چې د دا بلې ډلې به ورته اړتيا وه، ځکه چې ټول شيان په واحد لاس ليکل شوي دي. د شپې به د اور شاوخوا راغونډ شول او ځاروانانو به يو بل د خطرناکو طوفانونو احوال ورکاوه او يو بل ته به يې د کوير د دښتې کيسې کولې. کله به د لارې پر سر يوه ډله عجيب خلک راښکاره شول چې خپل مخونه به يې په جاکټونو پټ کړي وو، دا خلک صحرايي خلک وو او کاروانونه به يې ترڅار لاندې نيولي وو. هغوی به د غلو او نورو بدوي قبايلو به اړه کاروانيانو ته احوال ورکاوه. په چوپتيا کې راتلل او په چوپتيا کې تلل. تل به يې تور لباس اغوسته او له سترګو پرته به يې ټول مخ پټ کړی و. يوه شپه چې هلک او انګرېز د اور څنګ ته ناست وو يو ځاروان ورغی او ويې پوښتل: «آوازه ده چې د قبايلو تر منځ جګړه نښتې؟»

درې واړه چوپ شول، هېڅ خبرې ونه کړې. هلک د ډار يو موج په خپل زړه کې حس کړ. بيا يې نړيواله ژبه تجربه کوله.

انګرېز وپوښتل چې آيا به خطر کې خو به نه وو!؟

- کله چې په کوير دښته پښې ږدې، نور نه شې کولای شا ته لاړ شې. بايد ټول پام دې مخې ته وي باقي کار د خدای دی.

کله چې ځاروان لاړ هلک انګرېز ته مخ کړ او وې ويل: بايد کاروان ته ډېر پام وکړئ. سره له دې چې له ډېر پېچ او خم سره مخ شوو خو بيا هم د خپلې موخې لپاره لارې لنډوو.

- ته هم بايد د کائناتو په اړه ډېره مطالعه وکړې، کتابونه له کاروانونو سره ورته والی لري.

ډېری مسافرينو خپل سرعت ډېر کړ. مخکې به د ورځې چوپ وو خو اوس د دې پرځای چې اور بل کړي او کيسې سره وکړي چوپ به وو. يوه ورځ د کاروان سالار وويل چې نور د شپې اور بل نه کړي چې د چا پام ورته راوانه وړي.

د شپې به مسافرين د ځارويو په منځ کې څملاستل چې د کوير د شپې يخ يې ونه وهې. د کاروان سالار به څو ساتونکي په همدې شاوخوا کې د پيرې لپاره درول.

یو شپه انګرېز ته خوب نه ورتلو. هلک ته یې ورغبرګ کړل چې راځه په ریګي تپه کې قدم ووهو. سپوږمۍ پوره وه. په هغه شپه هلک انګرېز ته د خپل ژوند کیسه وکړه. انګرېز د هغه د خبرو د دې برخې نه اغېزمن شو چې د بلور پلورونکي دوکان دده له ورتګ سره ډېر کش پیدا کړ.

- دا هماغه اصل دی چې په هر څه واکمن دی. په کیمیاګرۍ کې د نړۍ روح ورته وایي، هرکله چې یو څه په خپل ټول وجود وغواړې د نړۍ روح ته نېږدې کېږې او د نړۍ روح تل مثبته انرژي لري.

همداسې یې دوام ورکړ: یوازې انسان ته دا قوت نه دی ورکړل شوی بلکه په نړۍ کې هر څه روح لري. له جامداتو یې درونیسه تر نباتاتو او حیواناتو. آن یو فکر هم روح لري.

په دې خاورینه کره کې هر څه سره اوړي رااوړي یعنې تل د تغیر په حال کې دي. ځکه ځمکه روح لري. موږ د هغه روح برخه یو ځکه نو ډېر لږ د ځمکې کار ته متوجه کېږو چې زموږ لپاره یې کوي. ښایي په هغه دوکان کې دې پام شوی وي چې حتی ښېښه یې لوښیو هم ستا د بریا لپاره همکاري کوله.

هلک همداسې چې سپینو شګو او سپوږمۍ ته ځیر وو په خپلو چورتونو کې ډوب شو: ما کاروان د کویر له زړه څخه د تېرېدو په حال کې ولید، کاروان او کویر په یوه ژبه خبرې کوي او همدا دلیل دی چې کویر کاروان ته د تېرېدو اجازه ورکوي. د کاروان ګامونه ګوري آزمایي چې د تګ وخت دی که نه. هرکله چې یې وخت راورسېږي واحه (د دښتو په منځ کې آبادي) ته رسېږو. که هېڅوک په ژبه سره پوه نه شي او په خپل شجاعت سفر ته ملا وتړي دا سفر به ډېر له کړاو نه ډک وي. هغوی ودرېدل او سپوږمۍ ته ځیر شول. هلک بیا وویل: دا د نښو جادو ده! ما ولیدل چې لارښودانو به څنګه د کویر نښې تشخیصولې او څنګه د کاروان روح د کویر له روح سره خبرې کولې.

انګرېز وویل: «غوره به وي چې کاروان ته ډېر پام وکړو».

هلک وویل: «ماته هم غوره ده چې ستاسو کتابونه ولولم».

***

ډېر عجیب وغریب کتابونه وو. د سیماب، مالګې، ښامار او پاچایانو په اړه یې پکې لیکلي وو چې د هلک هېڅ سر نه پرې خلاصېده خو داسې ښکارېدله چې په دې کتابونو کې تکرار شوي: هر څه د یو واحد څیز مظهر دی.

په یو کتاب کې لیکل شوي وو چې د کیمیاګرۍ په اړه ترټولو اړین متن یو څو خطه دی او په زمرودي مخ ثبت شوی دی.

انګرېز د دې لپاره چې هلک ته یو څه ورښیي ځان ته لږ غره شو او وې ویل: دا د زمرودو لوحه ده.

هلک وپوښتل: نو ولې باید دومره کتابونه ولولو..؟

انګرېز وویل: د دې لپاره چې د همدې څو خطونو په مانا پوه شو خو په ښکاره یې په خپله خبره یقین نه و.

یوازینی کتاب چې د هلک پام یې ورواړاوه د مشهورو کیمیاګرانو په اړه و. هغوی ټول عمر د فلزونو د تصفیه کولو په څېړنځایونو کې تېر کړی و. د هغوی په عقیده که یو فلز څو کاله د حرارت لاندې وي، خپل خاصیت له لاسه ورکوي او هغه څه چې ترې پاتېږي د نړۍ روح دی. د نړۍ روح دوی ته دا شونتیا ورکوي چې ټوله نړۍ وپېژني ځکه د نړۍ روح د ټولو موجوداتو د اړیکې ژبه ده. هغوی دې کشف ته اکسیر اعظم وویل. د اکسیر اعظم یوه برخه مایع او یوه برخه یې جامده د تیږې له جنسه ده.

هلک وپوښتل: آیا نه شی کولی چې د انسانانو او نښو په کتلو دا ژبه درک کړی؟

انګرېز په غوسه وویل: ته غواړې هر څه همداسې ساده زده کړې، کیمیاګري یو جدي کار دی او په هره مرحله کې باید د دې علم د استادانو په پل، پل کېږدو.

هلک پوه شو چې د اکسیر اعظم مایع برخې ته « د ځوانۍ اکسیر» وایي. د ځوانۍ اکسیر مرضونه ښه کوي او کیمیاګر ته تل پاتې ځواني وربښي. د اکسیر اعظم جامدې برخې ته « د کیمیاګري تیږه» وایي.

- د کیمیاګری د تیږې پیدا کول د هرچا کار نه دی، کیمیاګرانو خپل کلونه وخت په څېړنځایونو کې تېر کړ چې او په هغه اور کې به یې سترګې ګنډلې چې اوسپنه به یې تصفیه کوله. هغوی به ډېری وخت د اور سره کېناستل او داسې به یې کبر او ځانخوښونه له منځه تلله. کیمیاګران پوه شول چې د فلزاتو تصفیه ددوی د نفسونو د تزکیې سبب هم ګرځي.
هلک ته بلور پلورونکی وریاد شو. ویلي یې وو: «د لوښو څخه ګرد او دوړې لرې کول ښه کار دی ځکه منفي فکرونه در څخه لرې کوي». هلک ورو ورو دې پایلې ته رسېده چې ورځنی ژوند کولی شي انسان ته کیمیاګري ورزده کړي.
انګرېز وویل: د دې سره سره، کیمیا یو جالب خاصیت لري چې ډېر کم څه یې کولی شي فلز په طلا بدل کړي.
د دې خبرو په اورېدو لا د کیمیاګری علاقه مند شو. فکر یې کاوه چې په لږ صبر کولی شي هر څه په طلا بدل کړي. هلک د هغو خلکو ژوند ولوست چې په دې کار کې بریالي شوي وو. لکه؛ «هلوتیوس»، «الیاس»، «فالکانلی» او «جابر». جالبې کیسې یې درلودې او ټولو خپلې شخصي-افسانې ته لاسرسی پیدا کړی و. هغوی سفر کړی و، د هوښیارانو سره یې مجلس کړی و، د خلکو په وړاندې یې جالبې معجزې کړې وې او د کیمیا او د ځوانی د اکسیر خاوندان وو خو کله چې

هلک وغوښتل چې د اکسیراعظم د لاس ته راوړلو طریقه وګوري کاملا ګنګس شو. هغه یوازې لکه د درهمو نقشونه، رمزداره لارښوونې او مبهم خطونه وو، نور هېڅ.

یوه شپه هلک له انګرېز نه وپوښتل: دا کیمیاګران ولې هر څه دومره جدي نیسي..؟
هلک پوهېده چې انګرېز غوسه دی او خپل کتابونه یې یادېږي.
- فکر وکړه؛ که هرڅوک وکړای شي چې سرب په طلا بدل کړي آیا طلا به خپل ارزښت له لاسه نه و ورکړي؟
یوازې هغه چې پشتکار لري او په زړه او ځان هر څه لولي او ژوره مطالعه کوي کولای شي اکسیر اعظم ته لاسرسی پیدا کړي. همدا ده چې زه د کویر زړه ته راغلی یم، زه په هغه کیمیاګر پسې ګرځم چې د دې رمزونو په پیدا کولو کې له ما سره مرسته وکړي.
- دا کتابونه څه وخت لیکل شوي..؟
- پېړۍ مخکې.
- په هغه وخت کې خو د چاپ ماشینونه نه وو، نو داسې کومه لاره نه وه چې خلک دې په کیمیاګرۍ پوه شي. هغوی ولې له دې مبهمو نښو او لیکنو څخه ګټه اخلي..؟
انګرېز مخامخ ځواب ورنکړ او وې ویل: دا څو ورځې مې چې کاروان تر څار لاندې نیولی کوم نوي څه مې نه دي کشف کړي. په یوازې څه چې پوه یم هغه دا ده چې ورځ په ورځ د جګړې خبرې په ګرمېدو دي.
بلآخره هلک کتابونه بېرته انګرېز ته وسپارل. انګرېز وپوښتل چې آیا نوي څه دې زده کړي که نه؟ بیا په ډېر شوق د هغه ځواب ته په تمه شو. هغه غوښتل دداسې چا سره خبرې وکړي چې د نیږدې پېښېدونکې جګړې په اړه فکر کوي.
هلک وویل: زده مې کړل چې دا نړۍ روح لري، هر څوک چې دا روح درک کړي کولی شي د هر څه په ژبه پوه شي. ډېرو کیمیاګرانو وکولی شول چې خپله شخصي- افسانه پیدا او د اکسیر اعظم په کشف کامیاب شي.
خو له دې څخه هاخوا؛ پوه شوم چې دا مطالب تر دې حده آسانه دي چې کولی شو په یوه زمردي لوحه یې ولیکو.
انګرېز ناهیلی شو. کلونه کلونه څېړنو، جادویي نښو، عجیب او غریبو خبرو او څېړنیزو توکو په هلک تاثیر نه و کړی. بیا یې په زړه کې وویل: روح یې دومره د کوچیاني احساساتو لاندې دی چې نشي- کولی دا خبرې درک کړي. وروسته یې کتابونه وتړل او په بکسونه کې یې کېښودل. بیا یې وویل: ورشه د کاروان سیل وکړه، ما هېڅ ترې زده نه کړل.

هلک هم ځان د کویر په سیل او د هغو ربګونو په لیدنه بوخت کړ چې د ښاریو له سمونو څخه بادېدل.
ځان ته یې وویل: هر څوک د زده کولو ځانګړې طریقه لري، زموږ دواړو د زده کړې طریقې هم سره ورته نه دي. خو موږ دواړه په خپلې شخصي افسانې پسې یو، د همدې لپاره احترام ورته لرم.
کاروان به شپه او ورځ روان و. هغه پټ مخي صحرایان به ډېر راتلل او کوم ښاروان چې له هلک سره ملګری شوی و ویل چې د قبایلو تر منځ مخکې جګړه پیل شوې ده او که واحه (د دښتو ترمنځ آبادي) ته ورسېږو طالع به مو ښې وي.
ښاروي ستړي وو او نارینه به ډېر کم له یو بل سره غږېدل. چوپتیا، د شپې تر ټولو نه بده ځانګړتیا ده. د اوښ غړانګې به چې مخکې یو عادي څه وو، خلک په ډار کې اچول ځکه د شبخون نښه وه خو داسې نه ښکارېده چې ښاروان دې له جګړې څخه وډار شي.
یوه شپه چې نه سپوږمی وه او نه اور بل و، ښاروان په داسې حال کې چې یوه خرما یې خولې ته اچوله هلک ته وویل: زه ژوندی یم، کله چې یو څه خورم ټول پام مې یوازې په خوراک فکر کوم. کله چې په لاره ځم ټول پام مې په ګامونو وي. که ناچاره شم او جګړه راپېښه شي، د مرګ لپاره به مې ښه ورځ وي. ځکه په تېر یا راتلونکي کې مې نه اوسم، زه یوازې په «اوس زمانه» کې یم. که وکړای شې چې ټول حواس دې په «حال» متمرکز کړې، د خوښۍ احساس به وکړې. هلته به وګورې چې په کویر کې هم ژوند شتون لري، ستوري آسمان روښانه کوي او قبیلې یو له بل سره جګړې کوي. ځکه د انسان له تېر څخه دي. که باور وکړې چې ژوند همدا اوس دی چې تېروو یې هره ثانیه به دې د جشن غونډې وي.
دوې شپې وروسته هلک په داسې حال کې چې د خوب تیاری یې نیوه، سترګې یې په هغه ستوري پسې ښار وې چې دوی ته یې د حرکت لوری ورښوده.
فکر یې وکړ چې افق د نورو شپو په نسبت لږ ښکته ښکارېده، ورته ښکاره شوه چې ستوري په خپله کویر کې ګوري.
ښاروان وویل: هغلته واحه (د دښتو منځ کې آبادي) ده!
هلک وویل: نو ولې نه ورځو..؟
ښاروان وویل: ځکه چې اوس باید ویده شو.

***

هلک د لمر راختلو سره راویښ شو. په کوم ځای کې چې تېره شپه ستورو سترګکونه وهل، د خرما ونې کتار د کویر په منځ کې ولاړې وې.
انګرېز هم راویښ شو او وې ویل: بلآخره راورسېدو.

هلک چوپ و. د کوير له چوپتيا سره عادت شوی و او ونو ته په کتلو يې د خوښۍ احساس کاوه. تر اوسه اهرامونو ته ډېره لاره پاتې وه او يوه ورځ به ننۍ ورځ هم په خاطره ورته بدلېدله خو اوس د حال شېبه وه، ځاروان چې کومه د جشن خبره کړې وه، ده هم غوښتل چې له تېر ژوند نه درس واخلي، په حال کې ژوند وکړي او د راتلونکي لپاره سوچ وکړي. که څه هم چې د خرماوو د ونو سيل هم يوه ورځ په خاطره ورته بدلېده خو اوس اوبه، سيوری او پناه ځای ډېر ورته اړين وو. پرون شپه د اوښ غړانګو د وحشت او ډار پيغام ورکاوه او اوس د خرما ونو کولای شول د يوې معجزې پيغام ورکړي.

فکر يې وکړ: «نړی په ډېرو ژبو خبرې کوي».

کيمياګر په نويو رانوتلو خلکو او ځارويو کې سترګې ګنډلې وې او په زړه کې يې ويل: «همداسې چې وخت په چټکتيا تېرېږي کاروانونه هم ځي او راځي». دوړو او ګردونو د لمر مخه ډب کړې وه. د واحې خلک د نويو راغليو ښه راغلاست ته ورغلل. ماشومانو د بيروبار په ليدو لاره ورکه کړه. د قبيلې مشر د کاروان مشر ته ښه راغلاست ووايه او ډېر وخت يې روغبړ ورسره وکړ.

خو دا هېڅ يو يې هم کيمياګر ته مهم نه وو، په خپل عمر کې يې د ډېرو کاروانونو تګ او راتګ ليدلی و خو کوير همداسې ثابته او پرځای وه. ډېر شاهان او ګدايان يې ليدلي وو چې پر دې دښته يې قدمونه ايښي وو. له ماشومتوب څخه د دې ريګونو سره عادت شوی و، که هر څه به باد په ترتيب سره ځای پر ځای کول. تل يې د هغه مسافرانو له خوښۍ څخه خوند اخيست چې په اونيو اونيو به يې له شنه آسمان او خړو ريګونو پرته هېڅ نه وو ليدلي او اوس به يې د شنه نخلستان په ليدو د خوښۍ احساس کاوه. فکر يې وکړ: « ښايي خدای کوير د دې لپاره جوړه کړې وي چې انسانان د خرماوو په قدر پوه شي».

خپل فکرونه يې په رښتينو واقعيتونو متمرکز کول. پوهېده چې د کاروان سره به هرو مرو داسې څوک وي چې دی بايد ځينې رمزونه وروښيي. دا يې ښښو ورته ويلي وو. تر اوسه يې هغه نه پېژانده خو باتجربه سترګو يې تشخيصول. کاش چې هغه يې هم لکه تېر زده کوونکی مستعد هلک وای!

له ځان سره يې وويل: ولې بايد دا څيزونه سينه په سينه انتقال شي؟ يقينا د دې لپاره نه دي چې دا د رازونو يوه برخه دي، خدای په آسانۍ خپل رازونه مخلوقاتو ته ښکاروي. د دې حقيقت توجيه يوازې دا کېدای شي چې حقايق ځکه سينه په سينه انتقالېږي چې له پاک ژوند څخه يې سرچينه اخيستې او دا ډول ژوند په يو تصوير يا کلماتو کې نه ځايېږي. خلک د کلماتو او تصويرونو خوا ته ور جذبېږي او بلآخره د نړۍ ژبه هېرې ته ورسپاري.

***

هلک چې هر څه لیدل باور یې نه پرې کېده؛ د هغه څه پر اساس چې ده د جغرافیې په کتابونو کې لوستي وو واحه باید یوه څاه او څلور طرف ته یې د خرما ونې وي او بس. خو دا واحه د اسپانیا له ځینو ښارونو څخه هم لویه وه. په دې واحه کې ۳۰۰ د اوبو څاه ګانې او شاوخوا ۴۰۰۰۰ د خرما ونې وې او رنګارنګ خېمې د ونو په مینځ کې درېدلې وې.
انګرېز چې د کیمیاګر لیدلو ته بیړه درلوده وویل: د یو زر او یو شپې د کیسو په څېر ده!

کوچني هلکان شاوخوا تړې راتاو شول او په کنجکاوۍ یې ځارویو او مسافرینو ته کتل. د واحې خلکو غوښتل ژر تر ژره پوه شي چې په لاره کې د جګړې څه درک و که نه؟ ښځو د سوداګرانو څخه د ګرانبیه ټوکرو او تیږو د اخیستلو لپاره له یو بل څخه مخکښې کوله. د کویر چوپتیا له منځه تللې وه، مسافرانو په زوره زوره خندل، پرته له دمې خبرې یې کولې او ډول ډول نارې به یې ایستلې. لکه د ارواحو له نړۍ څخه چې بېرته د ژوندیو نړۍ ته راغلي وي. چورتونه یې ښه سم وو او ځان یې خوښ احساساوه.
هغوی ټولو پر کویر د سفر پر مهال اړین احتیاط کړی و خو ځاروان هلک ته وویل چې واحه یوه بې پرې ساحه ده، ځکه اوسېدونکي یې تر ډېره ښځې او ماشومان دي. د کویر په لراوبر کې څو واحې شتون لري خو جګړه ماران په کویر کې له یو بل سره جګړې کوي او واحه یو امن ځای شمېرل کیږي.
د کاروان سالار په ډېر زحمت خلک په ځان راټول کړل او اړینې لارښوونې یې ورته وکړې. کاروان د جګړې تر پایه په واحه کې تم کېده. هغوی مسافر وو نو د واحې د اوسېدونکو په څادرونو کې به اوسېدل او په تر ټولو غوره شکل د هغوی قدر او عزت کېده. دا د مېلمه پالنې دود دی. وروسته یې د کاروان له ساتونکو څخه وغوښتل چې خپلې وسلې هغو خلکو ته وسپاري چې د قبیلې مشر ټاکلي دي.

بیا یې ادامه ورکړه: «دا قانون دی، په واحه کې وسلوال او سرتېریو ته پناه نه ورکول کیږي».

انګرېز له لاسي بکس څخه یو لوی تاو تاو شوی خنجر چې د کروم یوه لایه پرې غوړېدلې وه راوایست او د وسلې د راټولولو مامور ته یې وسپاره. هلک ډېر حیران شو او وې ویل: وسله د څه لپاره؟
انګرېز وویل: ترڅو چې وکولای شم په بل چا باور وکړم.
هلک یې د خزانې په اړه سوچ وکړ. هر څومره چې د خپل خوب د ریښتیا کېدو طرف ته نیږدې و، همغومره ډېرې ستونزې په مخ کې ورته راټوکېدلې. د خوب د رښتیا کولو د مزل په دوران کې یې څو ځلې صبر او حوصله آزمایل شوې وه نو نه یې شوی کولی چې په بیړه یو کار ترسره کړي. که یې بیړه کړې وای هغه نښې یې نه شوای لیدلی چې خدای ورته ښودلې.

- خدای دا نښې زما په لاره راسره مخ کوي.

دې فکر حیران کړ. تر دې وخته یې نښو ته یوازې د دنیوي څیزونو فکر کړی و، لکه خوراک، څښاک، دنده پیدا کول یا هم مینه غوښتل!

هېڅکله یې دا فکر نه و کړی چې نښې هغه ژبه ده چې خدای د هغه په وسیله لاره درښیي.

له ځان سره یې تکرار کړل: «صبر ولره. لکه څرنګه چې ښاروان ویلي دي؛ د خوراک په وخت کې وخوره او د تګ په وخت کې لاړ شه!

په لومړی ورځ ټول خلک آن انګرېز هم د ډېرې ستړیا له وجې ویده شول. هلک یې له ملګري څخه بېل شو. هغه ته یې د څلور پینځه نورو ځوانانو په خېمه کې ځای وټاکه. هغه ځوانان صحرایان وو او په ډېر شوق سره د لویو ښارونو په اړه د کیسو اورېدلو ته په تمه وو.

هلک یې د شپنی له دورې ورته پیل کړه. کله چې د بلور پلورونکي تر دوکان پورې خبره راورسېده انګرېز سر خېمې ته رادننه کړ او وې ویل: له سهار راهیسې درپسې ګرځم، مرستې ته دې اړتیا لرم. غواړم د کیمیاګر ځای پیدا کړم.

لومړی یې هڅه وکړه چې خپله یې پیدا کړي. حتما دوی به کیمیاګر د نورو عادي خلکو سره توپیرولی شو. ښایي په هغه خېمه کې چې کیمیاګر اوسېږي شپه او ورځ اور بل وي. هغوی ډېر زیات وګرځېدل خو متوجه شول چې واحه له هغه نه ډېره لویه ده چې دوی یې فکر کړی و. په سلهاوو خېمې په دې واحه کې درېدلې وې.

دواړه د ځاه په غاړه کېناستل. انګرېز وویل: ټوله ورځ مو چټې لاړه!

- غوره ده چې له چانه پوښتنه وکړو.

د انګرېز نه خوښېدل چې څوک پوه شي چې دی ولې دلته راغلی دی. نه یې شوای کولای پرېکړه وکړي. بلآخره یې خپله پرېکړه وکړه او له هلک نه یې وغوښتل چې ستا زما نه ښه عربي زده ده، ته له چا څخه پوښتنه وکړه.

هلک هم د هغې ښځې خوا ته راغی چې ټول ځان یې په تورو کالیو کې پټ و او غوښتل یې خپل سطل ډک کړي. هلک وویل:

- مېرمنې غرمه مو پخیر! تاسو پوهېږئ چې د دې واحې د کیمیاګر کور چېرته دی؟

ښځې چې تراوسه د کیمیاګر نوم نه و اورېدلی هېڅ ونه ویل او خپل ځآن یې وایست خو مخکې له تګ نه یې هلک ته توصیه وکړه چې د سیه‌پوش ښځو سره خبرې ونه کړي، ځکه دوی مېړونه لري او باید رسم و رواج ته یې احترام وشي.

انګریـز نـاهیلی شـو، فکـر یـې کـاوه چـې دا ټولـه لاره هسـې چټـې راغـلي دي . ملګـری یـې هـم پـه خپلـه شخصي- افسانه پسې راوتلی و او کله چې څوک په خپله شخصي- افسانه پسې ګرځي ټول کائنات لاس پـه لاس کیـږي چـې شـخص خپـل مطلـوب تـه ورسـېږي. دا د بـوډا پاچـا خـبره وه او هغـه هېڅکلـه دروغ نـه ویل.

هلـک وویـل: سـتاسره د پېژنـدګلوی څخـه مخکـې مـاهم د کیمیـاګر نـوم نـه و اورېـدلی، ښـایي دې خلکـو تـه هم تر اوسه داسې کوم نوم نه وي اورېدلی.

د انګریـز سـترګې وځلېـدلې او وې ویـل: ریښـتیا وایـې! ښـایي دلتـه هېڅـوک هـم نـه پـوهېږي چـې یـو کیمیـاګر څه ډول سړی وي، باید پوه شو چې د دې ځای خلک څوک تداوي کوي.

څو نـورې ښـځې چـې هغـوی هـم تـور کـالي اغوسـتي وو څـاه تـه راغلـل خـو د انګریـز لـه ټینګـار سره سره هلـک ورنغـی. وروسـته یـو سـړی راښـکاره شـو، هلـک وپوښـتل: تـه پـوهېږې چـې د دې خلکـو تـداوي او عـلاج څـوک کوي؟

د سـړي لـه څېـرې څخـه ښـکارېدله چـې لـه پردیـو څخـه وېرېـږي، وې ویـل: اللـه! اللـه مـوږ تـه شـفا راکـوي، تاسو په کوډګرانو پسې ګرځئ، بیا یې د قرآن څو آیتونه وویل او لاړ.

لـږ وروسـته یـو بـل عـرب سـپینږیری راغـی چـې کـوچنی ډولچـه یـې پـه لاس کـې وه. هلـک یـې سـوال ورتـه تکرار کړ. عرب بوډا وپوښتل: ولې غواړې چې داسې یو سړی ووینئ؟

هلـک وویـل: ځکـه ملګـري مـو د دې لپـاره پـه میاشـتو میاشـتو کړاوونـه ګـاللي دي. بـوډا لـږ دمـه وکـړه او بیـا یـې وویـل: «کـه داسـې کـوم څـوک دلتـه شـتون ولـري بایـد ډېـر زورور وي، حتـی کـه د قبیلـې مشرـان هـم وغـواړي چـې هغـه ووینـي بایـد هغـه پخپلـه د لیـدنې وخـت وټـاکي. د جګـړې تـر پایـه صـبر وکـړئ، وروسـته لـه دې ځای نه لاړ شئ. د دې ځای د خلکو په ژوند کې مداخله مه کوئ. وروسته لاړ.

انګریز له خوښۍ نه ښکته پورته غورځېده، ځکه سم راغلي وو.

یوه پېغلـه دوی تـه نیـږدې شـوه. منګـی یـې پـه اوږه ایښـی و او سر یـې پـه یـوه ټکـري پـټ کـړی و خـو مخ یـې لـوڅ و. هلـک مخ تـه ورغـی چـې د کیمیـاګر پـه اړه سـوال تـرې وکـړي. پـه دې مهـال کـې ده داسـې احسـاس کـړه لکـه وخـت چـې درېـدلی وي او د نـړی روح دی لـه ځمکـې څخـه پورتـه کـوي. د نجلـی تـورو سـترګو تـه یـې پـام شـو او بیـا یـې شـونډو تـه پـام شـو چـې د موسـکا او خنـدا تـرمنځ وې. پـه دې وخـت کـې یـې د نړیـوالې ژبـې تـر ټولـو اړینـه برخـه زده کـړه چـې د نـړی ټـول خلـک د خپـل زړه پـه وسـیله دا ژبـه درک کـولی شي، دا ژبـه د مینـې ژبـه وه. د ټـول بشرـیت نـه پخـوانی او د کـویر نـه هـم ډېـره پخـوانی ژبـه. مینـه خپـل ټـول زور او تـوان پـه یـوه وخـت کـې کـاروي، کلـه چـې سـترګې سره مخـامخ شي. نجلـی وموسـل. یقینـا دا هـم یـوه نښـه وه، داسـې نښـه چـې هلـک پرتـه لـه دې چـې پـوه شي ورتـه پـه تمـه و، هغـه نښـه چـې دی د کتـابونو، پسـونو، بلورونو او د کویر په چوپتیا کې پسې ګرځېده.

په هغه لحظه کې هلک داسې احساس کړه چې د خپل ژوند د یوازینی ښځې په مخکې ولاړ دی او نجلی هم همداسې احساس کاوه. هلک په دې موضوع د نړی ترټولو موضوعاتو څخه ډېر باور درلود، په مینه! له مور او پلار څخه یې اورېدلي وو چې باید مین شي او خپله ښځه ښه وپېژني.

کله چې د نړی ژبه زده کړي، هغه څوک به ډېر په اسانی وپېژني چې درته په تمه دي. هغه که په کویر کې وي یا په یو بل ښار کې. او کله چې دا دوه کسان سره ووینې او سترګې یې سره ولګېږي؛ تېر هم خپل ارزښت له لاسه ورکوي او راتلونکی هم، هغه څه چې ارزښت لري همدا اوس لحظه ده.

انګرېز هلک ورو وسکوندېه. هلک متوجه شو او وې ویل: نوم مو څه دی؟

نجلی خپلې سترګې ترې واړولې او وې ویل: فاطمه.

- دا نوم زموږ ځینې خلک هم په خپلو لوڼو ږدي.
- دا زموږ د پیغمبر د لور نوم دی، زموږ جګړه ماران دا نوم هر چېرته ورسره وړي.

ښکلې نجلی د خپلې خاورې جګړه ماران ډېر په غرور یادول.

انګرېز بیا غوسه  شو او چنګک یې وروا‌چاوه. هلک ناچاره د داسې چا په اړه ترې وپوښتل چې د دې ځای خلک تداوي کوي.

نجلی وویل: هو، هغه داسې سړی دی چې د نړی په ټولو رازونو پوهېږي، هغه د کویر له پېریانو سره هم اړیکه لري.

نجلی جنوب اړخ ته اشاره وکړه او وې ویل چې هغه سړی هلته اوسي. بیا یې خپل منګی ډک کړ او لاړه. انګرېز هم غیب شو؛ په کیمیاګر پسې ورغلی و!

هلک ډېر ځنډ د څاه  په غاړه ناست و، یاد یې شول چې په طاریف کې چې کله تونډ باد لګېده، دې باد د فاطمې بوی ورته راوړی و او پرته له دې چې د دې نجلی له وجود نه خبر وي، پرې مین و. پوه شو چې مینه د نړی هره بنده دروازه درته وازوي او کولای شم په مرسته یې هر ډول خزانه پیدا کړم.

بله ورځ هلک د فاطمې د لیدو په هیله د څاه خوا ته راغی. په حیرانی یې ولیدل چې انګرېز هم هلته ولاړ دی او د کویر سیل کوي.

- د مازدیګر راهیسې ورته په تمه وم، همدا چې ستوري په ځلېدو شول راغی. ورته ومې ویل چې په څه پسې راغلی یم. له ما څخه یې پوښتنه وکړه چې آیا تر اوسه مې کوم سرب په طلا بدل کړی که نه. ورته ومې ویل دا هغه څه دي چې زه یې د زده کړې لپاره دلته راغلی یم. راته  ویې ویل چې باید هڅه وکړم او بس. وروستنی څه چې یې وویل هغه دا وو چې ځه هڅه وکړه!

هلک څه ونه ویل. انګرېز بېچاره دا دومره کړاوونه ګاللي وو او دلته راغلی و ترڅو واوري چې هڅه وکړه.

هلک هم وویل: نو لاړ شه ټوله هڅه دې وکړه.

انګرېز وویل: دا هماغه کار دی چې غواړم همدا اوس یې پیل کړم.

د انګرېز لـه تـګ څخـه وروسته فاطمـه راغلـه او خپـل منګـی یـې ډک کـړ. هلـک ورتـه وویـل: زه دلتـه راغلـی یم چې یـوازې یـوه خبـره درتـه وکـړم، یـوازې یـوه خبـره؛ «زه غـواړم چـې تـه مـې ښـځه شـې، زه لـه تـا سره مینـه لرم». د وارخطایي له وجې د نجلی له لاس نه منګی ولوېد او اوبه یې ټولې توی شوې.

هلـک ادامـه ورکـړه: حـاضر یـم چـې هـره ورځ همدلتـه درتـه پـه تمـه اوسـم،زه د هغـې خزانـې پـه لټـه راوتـی وم چـې د اهرامونـو څنـګ تـه دی. ټـول خلـک جنـګ یـو مصیبت ګڼـي خـو زه یـې ځکـه نعمـت ګـڼم چـې زه یـې ستا خواته راوستلم.

نجلـی وویـل: یـوه ورځ بـه جنـګ پـای تـه ورسـېږي. هلکـي شـاوخوا د خرمـا ونـو تـه وکتـل. سـوچ یـووړ. بیـایې هم کولای شول چې شپني وکړي. فاطمه له هرې خزانې څخه ورته ګرانه وه.

لکـه فـاطمې چـې د ده فکـر لوستی وي وویـل: د کـویر نارینـه پـه خزانـو پسـې ګرځـي او مېرمنـې یـې هـم پـرې ویاړي! بیا یې خپل منګی له اوبو ډک کړ.

هلـک بـه هـره ورځ د فـاطمې د لیـدلو لپـاره څـاه تـه راتـه. نجلـی تـه یـې د خپـل تېـر وخـت پـه هکلـه هـر څـه وویل. د هغه بلور پلورونکي کیسه، د بوډۍ کیسه، د هغه پاچا کیسه...

ورو ورو دواړه سره آشـنا شـول، هـره ورځ بـه یـې بلاناغـه ۱۵ دقیقـې لـه فـاطمې سره کتـل. پرتـه لـه دې ۱۵ دقیقـو ټولـه ورځ اوږده او سـترې کـوونکې ښـکارېده، پـه واحـه کـې یـې چـې ۱ میاشـت پـوره شـوه، د کـاروان سالار ټول مسافران ځان ته وروغوښتل او ویل یې:

- پتـه نـه لـري چـې جګـړه بـه څـومره دوام وکـړي د همـدې لپـاره نـه شـو کـولای چـې سفر وکـړو، جګـړه کېـدای شي یـو یـا څـو کالـه اوږده شي. د دواړو اړخونـو پوځونـه غښـتلي دي او د جګـړه هـم دواړو لوریـو تـه مهمـه ده. دا جګـړه د خیـر او شر لپـاره نـه ده، بلکـه یـوازې د واک پـر سر ده. او کلـه چـې داسـې جګـړه پیـل شي، بیا په ډېر ځنډ سره پای ته رسي، ځکه خدای له دواړو لوریو سره دی.

مسـافرین بېرتـه خپلـو اسـتوګنځیو تـه راسـتانه شـول. د مـازدیګر مخـې تـه هلکـی هـم فـاطمې تـه ورغـی. د سـهارنی راټولېـدنې کیسـه یـې ورتـه وکـړه. فـاطمې وویـل: دوهـم ځـل مـې چـې لیـدو تـه راغلـې راتـه ودې ویـل چـې مینـه درسره لـرم، وروسـته دې د نـړی د روح او د کائنـاتو د ژبـې پـه اړه څـه راتـه وویـل، د دې لپـاره زه هـم ستا د وجود یوه برخه ګرځېدلې یم!!

هلـک د فـاطمې پاسـته غـږ تـه غـوږ غـوږ و، دا غـږ د خرمـاوو د ونـو پـه پـاڼو د لږېـدونکي نـرم بـاد نـه ښـه ورتـه ایښېده.

نجلی بیا وویل:

کلونـه کلونـه پـه دې واحـه کـې درتـه پـه تمـه وم،تېـر مـې هېـر تـه سـپارلي دي. د صـحرا سـنتونه او رواجونـه، کـوم چـې نارینـه یـې لـه خپلـو ښـځینه وو نـه تمـه لـري مـې هـم هېـر کـړي دي؛ لـه ماشـومتوبه مـې خـوب لیـده چې کویر ماته یوه فوق العاده ډالۍ راکړې ده او هغه ډالۍ ته یې!

هلک غوښتل د نجلی لاسونه ونیسي خو نجلی منګی په لاس کې نیولی و.

بیا نجلی وویل:

تـا دې خـوب راتـه ووایـه، د هغـه بـوډا پاچـا او خزانـې پـه هکلـه دې راتـه وویـل، د ښـو ښـانو پـه هکلـه هـم همداسې. نو زه اوس له هېڅ نـه نـه ډارېږم، زه ستا د خـوب یـوه برخـه یـم، ستا د برخلیک هغـه برخـه چـې تـه یې شخصي افسانه بولې.

پـه همـدې دلیـل درتـه وایـم چـې لارې تـه دې دوام ورکـړه، کـه اړ یـې چـې د جګـړې تـر پایـه صـبر وکـړې، صبر وکـړه. خـو کـه اړینـه وي چـې ژر ولاړ شـې، ژر ولاړ شـه! د صـحرا رېګونـه د بـاد سره اخـوا دېخـوا کیـږي خو کویر هماغه کویر ده! زما او ستا مینه هم د کویر غوندې پایداره ده.

که دې ریښتیا هم د خوب یوه برخه اوسم، یوه ورځ به مې بېرته خواته راشې.

هغـه ورځ، کلـه چـې لـه نجلی نـه بېـل شـو، خواشـینی او خپـه و. د هغـو شـپنو پـه اړه یـې فکـر کـاوه چـې ښـځې او بچـي یـې درلـودل او ده پېژنـدل. هغـوی بـه خپلـې مېرمنـې پـه سـختۍ راضي کـولې ترڅـو لیـرې څړځـایونو ته ولاړ شي. په ریښتیا هم، عشق د عاشق پر پښه ډېر کلک ځنځیر ورتړي.

دا موضوع یې په راتلونکي ملاقات کې فاطمې ته وریاده کړه.

هغـې وویـل: صـحرا زمـونږ سـړي ورکـاږي، ډېـری بېرتـه ژونـدي هـم نـه راځـي. مـوږ ښـځې لـه دې سره عـادت یـو. ځینـې نارینـه بیـا بېرتـه ژونـدي راګرځـي او نـورې ښـځې خوشـحالیږي. ځکـه فکـر کـوي چـې یـو وخـت بـه د دوی نارینـه هـم راشي. تـل بـه مـې دې ښـځو تـه کتـل او د هغـوی د خوښـۍ پـه شـان د خوښـۍ هیلـه مـې کولـه. اوس یـې نـو وخـت دی چـې بـس د هغـوی پـه شـان زه هـم د یـوه نارینـه پـه تمـه کښـېنم. زه د صـحرا نجلـۍ یـم او پـه دې ویـاړم. غـواړم چـې خاونـد مـې د صـحرا د رېـګ پـه څېـر آزاد وي چـې هـر چېـرې یـې زړه وغـواړي لاړ شي او خپلـه موخـه ترلاسـه کـړي. د اړتیـا پـه وخـت کـې، بایـد دې تـه هـم چمتـو وم چـې آن کېدای شي بیا یې بېخي ونه وینم.

***

هلـک پـه انګرېـز پسـې ورغـی غوښـتل یـې چـې د فـاطمې پـه اړه خـبرې ورسره وکـړي. عجیـب څـه یـې ولیـدل؛ انګرېـز د خېمې بهـر ځـان تـه یـو منقـل جـوړ کـړی و چـې پـه لرګیـو فعـال و. پـه سر یـې یـو لابراتـواري ښوی لوښی و. کله چې به انګرېز کویر ته کتل، سترګو به یې ځلا کوله.

- دا د کـار لـومړی پـړاو دی، بایـد ګـوګړ تجزیـه کـړم. پـه دې کـار کـې د بریـا لپـاره بایـد لـه مـاتې څخـه ونـه ډار شـم. لـه مـاتې څخـه ډار زه د اکسـیر اعظـم لـه کشـف څخـه لـرې کـړی وم. اوس هغـه کـار پیلـوم چـې بایـد لـس کالـه وړانـدې مـې کـړی وی. خـو لـږ تـر لـږه خـوښ یـم چـې ۲۰ کالـه وروسته مـې دا کـار نـه دی کـړی، لس کاله بیا هم نسبتا کم وخت دی.

بیا یې پر اور نور لرګي ورواچول. هلک هم همالته ولاړ و، تر دې چې د لمر غروب سوررنګی شو. زړه یې غوښتل چې کوير ته ووځي او وګوري چې د کوير چوپتیا دده د سوالونو لپاره کوم ځواب لري که نه..؟

لږ اخوادېخوا وګرځېد، د باد غږ ته یې غوږ ونیوه، کوچنی تیږې یې تر پښو لاندې کړې، یو څنګ ته یې صدف پیدا کړ، پوه شو چې کویر ډېـــــر مخکې سیند وه. همالته په نیږدې تیره کېناست.

د خپل سر سره یې حرکت حس کړ، پاس یې وکتل چې دوه بازان په اسمان کې غوټې وهي. بازانو ځانونه د باد غېږې ته سپارلي وو، که څه هم ددوی پرواز دومره ځانګړې طرحه نه درلوده خو هلکي ته یې یو ځانګړی احساس ورکړ.

دده په نظر دې حرکت یې یوه معنا درلوده چې ده نشوای درک کولای. خوب ورغی؛ زړه یې ویل چې وينې پاتې شي، خو ډېر تینګ خوب نیولی و. له ځان سره یې وویل: ورو ورو د نړی ژبه زده کوم. هر څه په نړی کې مفهوم راته پیدا کوي. شکر یې کاږه چې مین دی.

- کله چې مین شې. هر څه معنا درته پیدا کوي.

ناڅاپه په اسمان کې يوه باز په بل ورغوټه کړه. يو ډېر ژر تېرېدونکی تصویر د هلک په سترګو کې نقش شو:

څو بریدګر د لوڅو تورو سره د واحې طرف ته منډې وهي، تصویر ډېر ژر ورک شو خو د هلک زړه یې ولړزاوه، د خلکو نه یې د سراب په هکله هم اورېدلي او هم یې خپله لیدلي وو. غوښتل یې دا صحنه له سترګو وباسي او خپلو سوچونو ته وروګرځي، خو کوم څه د زړه له تله د دې کار اجازه نه ورکوله.

بوډا پاچا ویلي وو: تل نښو نښانو ته پام کوه! هلک بیا هغه څه ذهن ته راوستل چې لیدلي یې وو، او ډاډه و چې همداسې کوم څه به پېښېږي.

له ځایه راپاڅېد او د خرما ونو ته راغی. بیا یې د ډول ډول موجوداتو ژبې ته پام شو، کویر امن وه، هغه څه چې په خطر کې وو واحه وه.

ښاروان د یوې ونې ډډ ته ناست و او د لمر پرېوتل یې کتل. هلک یې ولید چې د ریګ له تپې نه راښکته شو.

هلک وویل: بریدګر برید کوي! ماته الهام وشو!!

ښاروان وویل: کویر د نارینه و زړونه له دې تصویرونو ډکوي.

هلک د بازانو په اړه ورته وویل چې لیدلي یې وو.

ښاروان د هلک په خبرو پوه شو، هغه پوهېده چې د ځمکې پر سر هرشی کولای شي د بلې تېرې یا راتلونکې پېښې حکایت بیان کړي. کویر دداسې خلکو نه ډک و چې د نړی روح ته د دننه کېدلو په وسیله به یې روپۍ ګټلې، دې ډلې ته به یې غیب ویونکي ویل. ماشومان او بوډاګان به سخت ترې وېرېدل. د قبیلې خلکو به مشوره نه ورسره کوله، ځکه شونې نه ده چې يو څوک دې پوه شي چې په دې

جګړه کې به مړ کیږي او بیا هم ورشي. د جګړې نارینه وو دا خوښوله چې پرته له دې چې پر پایله پوه شي جګړې ته حاضر شي. الله راتلونکې لیکلې ده او څه چې خیر وي هغه انسان ته ورپیښوي. د همدې پر بنسټ د قبیلې نارینه وو خوښوله چې د حال لپاره ژوند وکړي ځکه حال ډېر جالب دی. باید دې ته یې پام وي چې د دښمن توره چېرته ده؟ آس یې چېرته دی؟ په څه ډول ضربه ووهي چې ژوندی پاتې شي...

ښاروان عسکر نه و خو له غیب ویونکو سره یې خبرې کړې وې، ځینو یې ریښتیا ویلي وو او ځینو هسې بوس بادول. یو ځلې تر ټولو بوډا غیب ویوونکي (چې تر نورو ډاروونکی هم و) ورنه پوښتلي وو چې ولې دومره له خپل راتلونکي سره علاقه لري؟

ده ورته ویلي وو: ځکه کولای شم ډېر کارونه وکړم او هغه کارونه چې نه غواړم وشي لغوه کړم.

هغه ویلي وو: بیا به نو هغه ستا د راتلونکي یوه برخه نه وي.

- د خپل راتلونکي په پوهېدلو سره کولای شم ځان هر څه ته تیار کړم چې راباندې راځي.
- که پوه شي چې کوم ښه څه درته پېښېږي نو خوښ به شې او که پوه شې چې غم دی، نو سر له اوسه جنجال درته زېږوي.
- غواړم پر راتلونکي مې پوه شم ځکه انسان یم او انسانان هم د خپل راتلونکې په اساس ژوند کوي.

غیب ویونکی په تور اچولو کې ډېر تکړه و. په ځمکه به یې واچاوه او د غورځېدلو شکل به یې تفسیراوه. نن یې تور وانه چاوه. یو څو ښاخونه یې په یوه ټوټه کې وپېچل او په خلطه کې یې واچول. ویې ویل: زه د خلکو د راتلونکي په وړاندوینه پیسې ګټم، د ونو د ښاخونو د شکلونو اړوند علم مې زده دی، هغه ځای ته نفوذ کولای شم چې هر څه لیکل شوي دي او هلته کولای شم هر څه ولولم، تېر، حال، راتلونکی. کله چې خلک مشوره راسره کوي زه راتلونکې نه لولم، یوازې ګمان یې کوم. راتلونکی له خدای سره اړه لري او یوازې په استثنایي حالاتو کې یې ښکاروي. زه څنګه راتلونکې اټکلولی شم؟ د حال زمانې د نښو پر اساس. که ځیر شې ډېرې نښې ګوتو ته درځي. که حال زمان ښه پرمخ بوزې، راتلونکې به هم ښه وي. د راتلونکي په چورت کې مه اوسه، بېغمه اوسه خدای له خپلو بنده ګانو سره مینه لري.

ښاروان په زړه کې وویل: خدای د راتلونکي یوه برخه هلکي ته ورښودلې ده... ژر یې هلک ته مخ وروااړاوه او ورته ویې ویل:

ورشه د قبیلې مشران راخبر کړه چې بریدګر راروان دي!

- هغوی به راپورې وخاندي!
- هغوی د صحرا خلک دي او له نښو نښانو سره سر و کار لري.
- ښایي تر ما وړاندې لا خبر وي.

- هغوی دې ته ارزښت نه ورکوي، هغوی په دې گروهه دي چې که خدای وغواړي چې خبر شي، کوم څوک یې خبروي. ډېر ځله داسې پېښې شوي دي خو دا ځل دا خبروونکی ته یې!
هلک ته فاطمه وریاد شوه؛ پرېکړه یې وکړه چې د قبیلې مشرانو ته به ورځي.

***

د واحې په منځ کې لویه سپینه خېمه ولاړه وه. هلک د خېمې ساتونکي ته ورنیږدې شو او ویې ویل:
غواړم د قبیلې مشرانووینم؛ له کویر نه مې څه نښې راوړې دي.
ساتونکی پرته له دې چې څه ووایي خېمې ته دننه شو. لږ ځنډ وروسته له یوه ځوان عرب سره بېرته راغی. عرب ځوان سپین او طلایي رنگه جامې اغوستې وې. هلک ټوله کیسه له سره تر پایه ورته تېره کړه. ځوان عرب له هلک نه وغوښتل چې لږ په تمه شي او بیا دننه لاړ.
شپه شوه. څو جنگیالي سړي او سوداگران خېمې ته دننه شول او لږ وروسته بېرته راووتل. د واحې څراغونه یو په بل پسې مړه کېدل. واحه هم د کویر په شان په چوپتیا کې ډوبه وه. یوازې د سپینې خېمې څراغونه لړېدل. په دې ټول وخت کې هلک د فاطمې په هکله فکر کاوه خو د هغې د وروستیو خبرو په مفهوم نه پوهېده.
بلآخره د ډېر انتظار وروسته ساتونکي هلک ته اجازه ورکړه چې خېمې ته ننوزي. هلک چې څه ولیدل ډېر یې حیران کړ. هیڅ یې په ذهن کې هم نه راتلل چې په کویر کې دې داسې یوه خېمه وي. ځمکه په داسې قالینو فرش وه چې ده یې لا ثاني نه وه لیدلې. پاس د خېمې له چت نه د طلا ځخه جوړ شوي چراغونه راځړېدل چې په هر یوه کې یوه شمعه بله وه. د قبیلې مشران لږ وړاندې په نیم دایروي شکل ناست وو او ابرېشمي بالښتونو ته یې تکیه کړې وه. خدمت کوونکي د چای او ډوډی سره ورته لر او بر کېدل. نورو به د چلم سکاره تازه کول، د خېمې دننه د چلم دود ډېر ښه بوی کاوه.
د قبیلې مشران ۸ تنه وو خو هلک په ړومبي نظر پوه شو چې کوم یو تر ټولو مهم دی، هماغه چې سپین او طلایي جامې یې اغوستې دي او وچ په منځ کې ناست دی. ده لا وړاندې هم خبرې ورسره کړې وې.
یوه مشر وویل: دا څوک دی چې له نښو نښانو خبرې کوي؟
هلک وویل: زه یم. بیا یې ټوله کیسه ورته وکړه.
بل مشر وویل: موږ سلگونه کلونه کیږي چې دلته اوسو. ولې کویر دا راز یوه پردي ته ښکاره کړي..؟
هلک وویل: ځکه زما سترگې لا له کویر سره روږدې نه دي؛ زه کولای شم هغه څه ووینم چې تاسو یې نه شی لیدلی ځکه ستاسو سترگو دا خوی اخیستی.
په زړه کې یې پرې زیاته کړه: ریښتیا، زه د نړی روح هم لږ لږ پېژنم.
درییم مشر وویل: واحه یوه بې طرفه ساحه ده، څوک په واحه برید نه کوي.

هلک وويل: ما چې څه وليدل تاسو ته مې وويل، که مو زما خبره زړه ته نه لوېږي اړ نه ياست چې کوم کار وکړی.

مشران په بحث لګيا شول. د هلک په عربي ژبه چندانې سر نه خلاصېده خو کله چې يې غوښتل ووځي خو ساتونکي ورته وويل چې پاتې شي. هلکی وډار شو، هر څه ګډوډ روان وو. پښېمانه و چې ولې مې څاروان ته کيسه وکړه.

د خېمې په منځ کې يو بوډا ناست و، ناڅاپه يې سسته موسکا وکړه. هلک لږ زړور شو. بوډا تر اوسه په بحث کې ګډون نه و کړی او حتی بېخي يې لا څه وېلي نه وو خو هلک د نورو له ژبې سره بلد و.د خېمې له سوله ييزې فضا څخه پوهېده چې ښه کار يې کړی دی.

بحث پای ته ورسېد. مشران چوپ شول تر څو د بوډا خبرې واوري. بوډا هغه ته مخ کړ، جدي مخ يې نيولی و او په داسې لهجه چې هلک متوجه شي خبرې يې پيل کړې:

- دوه زره کاله مخکې په يوه ډېره ليرې سيمه کې، يو سړی چې په خپلو خوبونو يې باور کاوه ځاه ته يې واچاوه. زموږ سوداګران ورغلل او ويې پېره او له ځان سره يې مصر ـ ته راوست. موږ ټول پوهېږو چې څوک چې په خپلو خوبونو باور ولري د تعبير له عهدې يې هم راوزي.

کله چې فرعون د چاغو او ډنګرو غواګانو خوب وليده، همدې سړي مصر ـ له وچکالۍ او هلاکېدو څخه وژغوره. نوم يې يوسف و. هغه هم همدا ستا غوندې په پردي ملک کې مسافر و. او ښايي ستا په سن به هم و.

بيا يې وويل: موږ تل سنت او دود ته احترام کوو. په هغه وخت کې هم سنت مصر ـ له وچکالۍ وژغوره او هم يې خلک ډېر شتمن کړل. سنت او دود انسانانو ته ورښيي چې څنګه له کوير نه تېر شي او څنګه خپلو زامنو ته ودونه وکړي. همدا سنت وايي چې واحه يوه بې طرفه ساحه ده. ځکه د جنګ دواړه اړخونه واحې لري او دواړو ته زيان رسېدای شي.

کله چې بوډا غږېده، د چا بنګ هم نه اورېدل کېده. له بلې خوا سنت وايي چې بايد د کوير پيغامونه ومنو. په هر څه چې پوهېږو کوير رازده کړي دي.

بوډا يوه اشاره وکړه او ټول پاڅېدل. غونډه پای ته رسېدلې وه. چلمونه ګل شول او ساتونکي هم تيارسۍ ودرېدل. هلک هم ځان تګ ته تيار کړ. بوډا بيا وويل: په واحه کې د سلاح نه ګرځولو تړون سر له سبا څخه لغوه دی. ټوله ورځ دښمن ته په تمه کښېنو، د لمر لوېدلو وروسته به ټول خپله خپله وسله ماته راتسليموي. څوک چې د دښمن لس کسه ووژني يوه د طلا سيکه ورکول کيږي.

خو ترڅو چې جنګ ونه نښلي وسله به هم نه کارېږي. بيا يې هلک ته مخ کړ او وې ويل: که تر سبا شپې آن يوه وسله هم ونه ډزېده، پر تا به يې را اړوم.

هلک له خېمې نه راووت او د خپلې کوچنی خېمې په لوري يې لاره سيخه کړه. تر هغه ځايه شل دقيقې لاره وه.

کوم څه چې شوي وو یو یو په ذهن کې ورګرځېدل. ډېر خطرناک قمار یې وهلی و خو له هغې ورځې چې رمه یې پلورلې او په خپله شخصي- افسانه پسې راوتی و داسې خطرناکو کارونو ته یې لاس اچاوه. په چوپتیا یې لاره لنډوله. هېڅ یې د خواشینی احساس نه کاوه، که سبا مړ شوی هم وی پروا یې نه وه، څه چې د خدای رضا وي.

لږ تر لږه تردې دمه یې په یوه مغازه کې کار کړی و، د کویر سکوت یې تجربه کړی و، او اړینه یې لا دا چې د فاطمې سترګې یې لیدلې وې.

ناڅاپه داسې باد راوالوت چې ده یې په ټول عمر کې ثاني نه وه لیدلې. په ځمکه یې وغورځاوه. دوړو او خاورو شاوخوا ساحه ونیوله او سپوږمی هم پکې پناه شوه. دده مخې ته یو آس په دوو پښو ولاړ و او ډاروونکې شنا‌اا یې اورېدل کېده.(د آس غږ)

کله چې دوړې لږ سره ورکې شوې هلک اصلي نفر سهي کړ. د ده مخې ته یو تور کالي پر تن سړی چې یو باښه یې هم په اوږه ناست و ولاړ و. لونګۍ یې تړلې وه او پرته له سترګو یې ټول مخ پټ و. سړی د کویر پیغام راوړونکی و خو پیغام یې دا ځل ډېر ډاروونکی مالومېده.

سړي توره راواېستله، فولادي تېغ یې د سپوږمی رڼا ته پرکا کوله. لکه ځان ته چې حریف ګوري؛ په اوچت غږ یې وویل: چا جرئت کړی چې د باښه پرواز معنا کړي..؟

داسې ښکارېده چې آواز یې په دې ۴۰۰۰۰ د خرما ونو کې تاو راتاو کیږي.

هلک وویل: ما دا جرئت وکړ!

چې غږ یې وانه ورېد بیا یې وویل: دا جرئت ما وکړ! بیا یې سر ټیټ کړ چې د تورې وار پرې راشي.

هلک بیا له ځان سره وبنګېد: ډېر خلک به بچ شي، شکر چې د نړی په ژبه پوهېږم.

توره د هلک په سر راښکته نشوه، ناپېژاند توره ورو ورو راښکته کړه تر څو د هلک ټنډې ته راورسېده، د هلک له ټنډې یو څاڅکی وینه توی شوه.

دواړه مات او مبهوت ولاړ وو. هلک حتی نه غوښتل چې وتښتي، په زړه کې یې یو عجیب خوند احساساوه. د خپلې ځانګړې افسانې لپاره او د فاطمې لپاره مړ کېده. نښې رېښتیا وې. دښمن ته مخامخ ولاړ و خو تېښتې ته یې اړتیا نه لیده. ناپېژاند سړي توره په پوښ کړه او ویې ویل: اړینه وه چې زړورتیا دې وګورم، د نړی د ژبې د زده کړې لپاره زړورتیا ډېره اړینه ده!

هلک لږ سره نبغ شو، ناپېژاند داسې خبرې کولې چې ډېر کم خلک پرې پوهېدل. هغه دوام ورکړ:

- څنډ مه کوه، خیر دی که له ډېر لرې ځای هم راغلی یې. له کویر سره مینه ولره خو باور مه پرې کوه، که تر سبا لمر لوېدو پورې دې سر په اوږو و، ما پیدا کړه.

د سړي په لاس کې اوس د تورې په ځای یوه قمچینه ښکارېدله، آس یې هه کړ او په دوه پښو ودرېد، فضا بیا دوړو او خاورو ونیوله.

هغه همداسې په تراټ روان و، هلک پسې چیغه کړه: چېرته ژوند کوې؟

سړي د جنوب اړخ ته لاس ونيو. هلک پوه شو چې د کيمياګر سره يې ملاقات کړی دی.

***

په سبا سهار دوه زره تنه جنګياليو د الفيوم په نخلستان کې مورچې ونيوې. مخکې له دې چې لمر ټيک د اسمان منځ ته راشي، په افق کې ۱۵۰۰ سواره راښکاره شول. غوښتل يې د واحې له شمالي دروازې څخه رانننوزي. داسې ښکارېده چې سواره خلک د سولې پيام راوړونکي دي خو تر سپينو ازادو کاليو لاندې يې وسلې پټې کړې وې. کله چې سپين څادر ته رانږدې شول خپلې وسلې او ټوپکې يې راوايستې او په خالي څادر يې بريد وکړ. د واحې جنګيالي هم لاس په کار شول، د کوير له لوري يې جنګيالي رامحاصره کړل. د نيم ساعت په جريان کې د هغوی له ډلې يوازې يو تن ژوندی پاتې و. ماشومان او ښځې د واحې په بل اړخ کې وو او په دې کيسه له سره خبر نشول.

ژوندی پاتې نفر د بريدکوونکو سالار و. مازديګر يې مشرانو ته راوست. ترې وپوښتل شول چې ولې دې سنت مات کړ؟

هغه ځواب ورکړ: جنګيالي مې د ډېرې دوامداره جګړې له امله ډېر وږي، تږي او ستړي وو، نيت مو وکړ چې واحه ونيسو ترڅو سرتېري  بېرته جنګ ته د تللو شيمه ولري.

د قبيلې مشر وويل: ستا لپاره خواشينی يم، خو سنت بايد مات نشي. په ډېر ذليل مرګ به دې مړ کړو.

د دې پر ځای چې په توره يا مرمۍ يې کړ کړي؛ د خرما په يوې ونې يې راوځړاوه. د کوير باد د قومندان بې روحه جسد اخوا دېخوا زنګاوه.

د قبيلې مشر- هلک وروغوښت او ۵۰ د طلا سکې يې ورکړې. د يوسف کيسه يې بيا ورته وکړه او ترې ويې غوښتل چې د واحې مشاور شي.

د لمر پرېوتلو وروسته کله چې لومړني ستوري په اسمان کې وځلېدل، هلک د جنوب خوا ته حرکت وکړ. له لېږ پلي تګ وروسته سترګې يې په هغه ساحه ولګېدې. هغه عربان چې له هغه ځای نه تېرېدل ويل يې چې دا د پېريانو کور دی. خو هلکی کښېناست او په تمه شو.

سپوږمی سمه لا نه وه راښکاره شوې چې کيمياګر په بيږه د هغه خواته ورغی. د دوو مړو بازانو لاښونه يې په اوږو راځړېدل. هلک وويل: زه دلته يم! کيمياګر وويل: ته اوس نبايد دلته وې، يا دې شخصي- افسانې دلته راکښلی يې؟

- دا جګړه چې د قبايلو تر منځ نښتې ده، ناشونې ده چې له دښتې څخه تېر شم د همدې لپاره دلته راغلم. کيمياګر يې له آس نه کوز شو او هلک ته يې اشاره وکړه چې خيمې ته ننوزي. خيمه يې د واحې د نورو

خېمو په څېر کوچنی وه. هلک په خېمه کې د کیمیاګری په سامان پسې سترګې واړولې خو خاص څه ور تر سترګو نشول. یوازې یوکتاب، نغری او یو څو فرشونه چې اسرارآمېزې طرحې یې درلودې.

- - کېنه، د باز غوښه د یو څنباک سره ښه چسپېږي.

هلک په شک کې و چې دا هماغه پروني بازان دي کنه خو پوښتنه یې ونکړه.

کیمیاګر اور بل کړ، څو دقیقې وروسته خواږه بوی ټوله خېمه ونیوله، د چلم نه یې ډېر ښه بوی کاوه.

هلک وپوښتل: ولې دې غوښتل ما ووینې..؟

کیمیاګر وویل: د نښو لپاره! باد ماته وویل چې ته راځې او مرستې ته اړتیا لرې.

- هههه، د چا احوال چې باد دروړی زه نه یم یو انګرېز دی چې در په درپسې ګرځي.
- هغه باید لومړی ځینې نور کارونه وکړي خو په سمه لار روان دی، فکر کوي چې لومړی باید کویر ښه وپېژني.
- له ما سره څه کار لرې؟
- څوک چې یو څیز د زړه له تله وغواړي، ټول کائنات لاس په لاس کیږي ترڅو خپلې موخې ته ورسېږي.

دې خبرې هلکی د بوډا پادشاه په یاد واچاوه. د هلک په ذهن کې راوګرځېدل چې یو بل نفر دې مخې ته راپیدا شوی چې غواړي تا خپلې ځانګړې افسانې ته ورسوي.

- نو غواړې ماته لارښوونه وکړې؟
- هر څه چې اړین دي، تا له مخکې زده کړي دي. یوازې غواړم د خزانې مسیر دې در وښایم.
- خو د قبایلو ترمنځ جګړه ده!
- ښه پوهېږم چې په کویر کې څه کیسه روانه ده!
- ما مې خزانه مخکې له دې موندلې ده، یو اوښ لرم، د بلور پلورلو له دوکان نه مې هم یو څه پیسې بود کړې، او په ضمن کې د طلا ۵۰ سیکې هم لرم. په خپل هېواد کې مالداره سړی شمېرل کېږم.
- خو دا هېڅ یو دې د اهرمونو څنګ ته نه دی موندلی!
- فاطمه هم لرم، هغه له هرې خزانې نه راته مهمه ده.

دواړه په چوپتیا کې په خوړلو بوخت شول. کیمیاګر د بوتل سر واز کړ او د هلک په ګیلاس کې یې سوررنګې مایع واچوله، داسې شراب یې نو په ټول ژوند کې نه وو څښلي!

هلک وپوښتل: دلته شراب حرام نه دي؟

کیمیاګر وویل: هر څه چې خولې ته ننوځي، بد او شریر نه وي، هغه څه چې له خولې راوځي بد او شریر وي.

کیمیاګر هغه لږ ډاراوه خو د شرابو نېشې ډار ترې والوزاوه. ډوډۍ چې خلاصه شوه له خېمې نه بهر د سپوږمۍ رڼا ته کښېناستل. سپوږمۍ داسې ځلېدله چې ستوري پیکه ورسره ښکارېدل.

کیمیاګر وویل: وڅښه او خوښ اوسه! د هغه سرتیري په څېر چې جګړې ته تیاری کوي. نن شپه خوب وکړه چې تازه شې.  په یاد ولره چېرته چې دې زړه وي خزانه دې هم هلته ده. باید د ګنج د پیدا کولو لپاره لاس په کار شې  ترڅو هغه څه چې دې د لارې په اوږدو کې لیدلي درته مفهوم پیدا کړي.

سبا دې اوښ وپلوره او آس واخله، اوښ خاین دی. د خدای زور لېرې سفر کوي پرته له دې چې د لوږې او تندې اثر پکې ښکاره شي خو بیا یوناڅاپه په ځمکه رالوېږي او مرداریږي خو آس په کرار کرار ستړی کیږي او پرې پوهېدای شې چې څومره ګټه ترې اخیستلی شې.

بله شپه هلک د یو آس سره د کیمیاګر د خیمې په وړاندې ولاړ و. کیمیاګر هم راغلی و. په آس یې سپور شو او باښه ګی یې په اوږه کښېناوه او هلک ته یې وویل:

په کویر کې د ژوند ځرک راوښیه، یوازې هغه څوک چې په دې نښو پوهېدلی شي خزانه هم موندلی شي.

په رېګونو کې روان شول. د سپوږمۍ رڼا لار ورته ښکاروله.

هلک په زړه کې وویل: نه پوهېږم چې کولی شم په کویر کې ژوند پیدا کړم که نه! تر اوسه کویر نه پېژنم.

غوښتل یې موضوع کیمیاګر ته ووایي خو ترې ډارېده. هغې ډېرې ته ورسېدل چې هلک هلته دوه بازان لیدلي وو. اوس هلته یوازې باد او چوپتیا حاکمه وه.

ویې ویل: نه پوهېږم څنګه په کویر کې ژوند پیدا کړم؟ ډاډه یم په کویر کې هم ژوند  شته خو نه پوهېږم چېرته ؟

کیمیاګر وویل: ژوند، ژوند په ځان پسې راکاږي.

هلک یې د خبرې په مانا پوه شو، د آس واګې یې سستې پرېښوې. آس په چارګامه روان و. کابو نیم ساعت به وړاندې روان و او کیمیاګر هم ورپسې. د واحې خرما په زحمت لیدل کېدې. یوازې سپوږمۍ وه چې بره په اسمان کې ځلېدله. ناڅاپه یې آس سست شو. هلک کیمیاګر ته وویل: دلته ژوند شتون لري، د کویر له ژبې سره نه یم بلد خو آس مې د ژوند ژبه ښه پېژني.

دواړه له آسونو راښکته شول. کیمیاګر چوپ و. ورو ورو مخکې لاړل تر څو د تېږو په منځ ته ورسېدل. ناڅاپه کیمیاګر ودرېد، د تیږو په منځ کې یوسوری و. کیمیاګر لومړی د لاس پنجه او بیا تر مټ پورې ټول لاس ورننوېست، کوم څه دننه حرکت کاوه. هلک د کیمیاګر سترګې په ډېر زحمت لیدلې، مالومېده چې په ډېره سخته هڅه کې دی. لږ وروسته یې په یوه حرکت لاس له غاره راووېست، په لاس کې یې

د مار لکۍ وه. هلک له کیمیاګر نه لرې ودرېد. مار په ډېره تونډی سره ځان تاب و پېچ کاوه، د فش فش غږ یې د کوېر چوپتیا ماتوله. یو کبری مار و چې زهرو یې انسان په یوه دقیقه کې واژه.
هلک وویل: له زهرو سره یې پام کوه، د دې سره سره چې کیمیاګر لاس د مار په غار کې ننه کړی و ښایي نېش به یې هم وهلی وي خو څېره یې آرامه ښکارېده. انګرېز ورته ویلي وو چې کیمیاګر ۲۲۰ کلن دی، نو پوهېږي به چې د کوېر له مارانو سره څه وکړي.
کیمیاګر د آس طرف ته ورغی او خپله توره یې له پوښ نه وایستله. د تورې په څوکه یې په رېګ کې یوه دایره رسم کړه او مار یې د هغې دایرې دننه واچاوه، مار آرام شو.
هلک ته یې وویل: مه ډارېږه له دې دایرې څخه نه راوزي. تا په کوېر کې ژوند پیدا کړ او دا هغه نښه وه چې زما په کار وه.
هلک وویل: ولې دا کار دومره اړین و؟
ویې ویل: ځکه چې اهرامونه د کوېر په زړه کې دي.
هلک نه غوښتل د اهرامونو په اړه خبرې وکړي. له پرون شپې راهیسې ستړی او خپه و. له پرون راهیسې یې په زړه کې یو احساس ځای نیولی و چې د خزانې لټون د فاطمې د پرېښودو په مانا ده.
کیمیاګر وویل: په کوېر کې خپله لارښوونه درته کوم.
هلک ځواب ورکړ: فکر کوم چې باید په واحه کې پاتې شم، ما فاطمه موندلې ده او یوازې څه چې ارزښت ورکوم د هغې شتون دی او له هرې خزانې نه راته اړینه ده.

- فاطمه د صحرا نجلی ده، پوهېږي چې نارینه باید لاړ شي تر څو یوه ورځ بېرته راشي. هغې هم اوس خپله خزانه لاس ته راوړې ده او هغه خزانه ته یې. هغه اوس له تا تمه لري چې هغه څه چې غواړې یې ترلاسه یې کړې.
- اممم، نو که وغواړم پاتې شم څه؟
- پرېږده ووایم چې څه کېږي، د واحې مشاور به شې. دومره طلا لرې چې په کافي کچه پسونه او اوښان پرې اخیستی شې. له فاطمې سره واده کوې او نېکمرغي به مو یو کال دوام کوي. د خرما د باغ هره ونه به وپېژنې، د هغوی لوېدل به ووینې چې د دې دنیا په همېشني تغیر باندې دلالت کوي. د واده په دوهم کال کې بیا خزانه دریادېږي، ځکه نښې نښانې همدا وایي خوته پام نه ورته کوې. د خپلو معلوماتو نه به د واحې د چارو د تنظیم او د خلکو د چارو د آسانتیا لپاره کار واخلې. د قبیلې مشران به دې ستایي او اوښان به دې مال او دولت در ډېروي.

د واده په درېیم کال هم نښې نښانې د خزانې په اړه غږېږي. د شپې به په واحه کې قدم وهې او فاطمه به د دې لپاره د خواشینی احساس کوي چې ته دې تر خپل لټون تېر شوی یې. ځان به پړ ورته ښکارېږي. تاسو له یو بل سره مینه لرئ، دا به دریاد شي چې هغې هېڅکله له تا څخه نه وو غوښتي چې دلته پاتې شې ځکه هغه د صحرا ښځه ده او پوهېږي چې باید د خپل خاوند په تمه اوسي. هغې ته

به څه ونه وایي خو ډېر ځلونه به دریاد شي چې ښه دې کولی شول چې لاړ شي خو لاړې نه. په څلورم کال کې نښې نښانې لاس درنه اخلي ځکه پام نه ورته کوې. د قبیلې مشران پوهېږي او له مقامه دې لیرې کوي. اوس به نو ته یو ستر سوداګر او مالداره سړی وې. ټول عمر به دې په همدې کې تېر کړې چې ولې دې په خپلې شخصي افسانې پسې نه لاړې او اوس ډېر ناوخته ده.

په یاد ولره چې مینه تا له خپلو موخو څخه نه راګرځوي، که دې مینې له اصلي موخو څخه راوګرځولې، پوه شه چې مینه دې ریښتینې نه وه.

کیمیاګر دایره پاکه کړه، مار په یوه چټک حرکت د تیږو خواته لاړ. هلک ته بلور پلورونکی وریاد شو چې هیله یې درلوده مکې ته لاړ شي. بیا انګرېز وریاد شو چې په کیمیاګر پسې یې پوندې شنې شوې وې. په حسرت یې کویر ته وکتل، کویر!!! چې هغه یې خپلې مینې ته راکش کړی و.

دواړه په آسونو کېناستل. اوس نو د هلک نوبت و چې د کیمیاګر په تعقیب واحې ته لاړ شي. له واحې نه غږونه راتلل، هلک هڅه کوله د فاطمې غږ پکې وپېژني.

بیا هغه کبری مار وریاد شو، یو پردي سړي چې یو باښه ګی یې هم په اوږه کېنولی، له ده سره د مینې، ژوند، خزانې او نورو په اړه خبرې کړې وې.

- له تا سره ځم، د دې خبرې له ویلو سره یې په ځان کې آرامښت حس کړ.
- کیمیاګر لنډ وویل: سبا د لمر ختلو نه مخکې روانېږو!

ټوله شپه ناکراره و. د سپېدو چاودلو نه دوه ساعته وړاندې یې په خېمه کې یو هلک راویښ کړ او ترې ویې غوښتل د فاطمې د اوسېدو ځای ورونښایي. یوځای د خېمو په طرف روان شول. خپل ملګري ته یې د یوه پسه د اخیستلو طلا ورکړه.

بیا یې ورته وویل: دننه ورشه او فاطمه راویښه کړه، ورته ووایه چې زه د باندې ورته په تمه یم!

هلک دا کار هم وکړ او بیا یې د یوه پسه طلا بچت کړه. هلک ترې وغوښتل چې دوی دواړه یوازې پرېږدي.

ځوان عرب بېرته د خپلې خېمې خواته راغی چې ویده شي، د دې لپاره چې د واحې له مشاور سره یې مرسته کړې وه ځان ته خوشاله و. د دې ترڅنګ یې د دوو پسونو د اخیستلو پیسې هم ترلاسه کړې وې.

فاطمه د خېمې سره رابښکاره شوه، دوه تنه د خېمو په څنګ کې ګرځېدل، د دې سره سره چې د هلک دا کار سنت ماتول وو خو اوس د دې خبرو وخت نه و.

- زه ځم، غواړم پوهه شې چې بېرته راځم، مینه درسره لرم ځکه...
- هېڅ مه وایه، ته مین یې ځکه چې مینه کوې، مینه کول دلیل او برهان ته اړتیا نه لري.

هلک يې خبره پسې ونيوله: ما يو خوب وليد، بيا مې له يو پاچا سره وليدل، بلوڑي لوښي مې وپلورل او بيا له دښتې نه راتېر شوم، بيا چې قبايلو د جګړې اعلان وکړ د کيمياګر په لټون د څاه غاړې ته راغلم او ته مې وليدې، يعنې ټول کائنات لاس په لاس شول تر څو زه تا پيدا کړم.

د دې خبرې سره يې يو بل په غېږ کې ونيول! لومړی ځل و چې يو بل يې دومره نيږدې سره محسوسول.

- بېرته راځم!
- مخکې له دې چې تا ووينم تل به مې په ډېر شوق سره د کوير سيل کاوه خو اوس به ستا په تمه کوير ته ګورم، پلار مې هم يوه ورځ له دې ځای څخه لاړ او بېرته مې مور ته راغی.

نور يې څه سره ونه ويل، هلک فاطمه د هغوی تر خېمې پورې راوستله.

- همداسې چې پلار دې بېرته د مور خواته راغی، زه هم بېرته ستا خواته راځم.

د فاطمې سترګې له اوښکو ډکې شوې، هلک وويل: ته ژاړې؟

فاطمې مخې راواړاوه او ويې ويل: سمه ده چې زه د صحرا ښځه يم، خو له هر څه لومړی، ښځه يم!

بېرته يې مخ واړاوه او خېمې ته ننوته. کله چې هوا روښانه شوه د ورځنيو کارونو د ترسره کولو لپاره بهر راووتله. دا کارونه يې دا څو کاله کول خو نن هر څه بل شان ورته ښکارېدل. هلک نور په واحه کې نه و. په همدې خاطر واحې پخوانی معنا ورته بايللې وه. دې ته واحه نور د ۴۰۰۰۰ د خرما ونو او ۳۰۰ څاګانو واحه نه وه چې زيارت کوونکي به راتلل او د اوږده سفر وروسته به يې هلته استراحت کاوه بلکه يو متروک او ړنګ ځای ورته ښکارېده.

له اوس نه وروسته دښته ورته مهمه وه، تل به يې ورته کتل او هڅه به يې کوله چې پوهه شي چې هلک به د ستوريو په کوم مسير په خپله خزانه پسې روان وي. خوږې مچې به يې د باد په لاس لېږلې چې ګوندې باد يې د محبوب مخ لمس کړي اوورته ووايي چې هغه درته په تمه ده، لکه يوه ښځه چې خپل خاوند ته په تمه وي. له نن وروسته کوير يوه مانا ورته درلوده؛ د محبوب د بيا راتلو هيله!

***

کله چې يې په بيابان کې سفر پيل کړ، کيمياګر هلک ته مخ کړ او ويې ويل: څه چې دې شاته پرېښي دي، په اړه يې فکر مه کوه. هر څه د نړۍ په روح کې ليکل شوي دي او هلته به د تل لپاره پاتېږي. هلک چې تر اوسه د کوير له چوپتيا سره عادت شوی و وويل: نارينه تر ډېره د بېرته راتللو تمه لري، نه د تللو.

کیمیاګر وویل: څوک چې یو څه مومي، که کاملا غوره څیز وي هېڅکله له منځه نه ځي او کولای شي هر وخت بېرته راوګرځي خو که یو څه مومي چې د یو ستوري د چاودنې په اندازه پړک او ژر تېرېدونکې وي، په بېرته راتګ کې هېڅ نه مومي.

کیمیاګر د کیمیاګرۍ په ژبه له هلک سره غږېده. د هلک پام شو چې موخه یې فاطمه ده.

ډېره ګرانه وه چې په هغه څه فکر ونه کړي چې شاته یې پاتې دي. دښتې سره له دومره چوپتیا او یکنواختۍ د خیال نړۍ ته بوت. تر اوسه یې کولای شول د خرماوو ونې، څاه ګانې او د محبوبې څېره ووینې، کولای یې شول چې انګرېز ووینې چې په خپلو آزمایښتونو کې مصروف دی. هلک فکر وکړ چې کیمیاګر ښایي بېخي مینه نه وي کړې.

کیمیاګر چې یو باښه‌ګی یې هم په اوږه کېنولی و، په تاخت و. باښه‌ګی له دښتې سره سخت بلد و او کله به چې دوی دواړه دمې ته ودرېدل هغه به په ښکار پسې والوت. لومړی ورځ یې یو سوی راوړ او دوهمه ورځ یې دوه نور الوتونکي ښکار کړي وو. د شپې به یې آسونه چو کړل او پټ به یې اور بل کړ. د کویر شپه ډېره سړه وه او هر څه چې میاشت نړۍ کېدله هوا نوره هم تیاره کېدله. یوه اونۍ یې سفر ته ادمه ورکړه. یوازینۍ خبره چې ترمنځ یې ذکر کېدله دا وه چې باید احتیاط وکړي چې د قبایلو تر منځ جګړه کې ګیر نه شي. جګړه همداسې روانه وه او کله کله به باد د وینو بوی د هغوی تر سپږمو رارساوه. د سفر په اوومه ورځ کیمیاګر پرېکړه وکړه چې د نورو شپو پرخلاف وختې دمه وکړي. باښه‌ګی هم په ښکار پسې لاړ. کیمیاګر د اوبو مشک هلک ته ورکړ او وې ویل: تقریبا د سفر پای ته نږدې یې، د خزانې د پلټلو مبارکي درکوم.

- د لارې په منځ کې خو مو هېڅ راته ونه ویل. فکر مې کاوه غواړې یو څه راوښایئ چې ستاسو زده دي. مخکې په کویر کې له داسې سړي سره مخ وم چې د کیمیاګرۍ انبار کتابونه ورسره وو خو په ټکي مې یې سر نه شو خلاص.
- د زده کولو لپاره یوازې یوه لاره ده، عملي. هر څه چې ضرور وو د سفر په اوږدو کې دې زده کړل. یوازې یو بل څیز پاتې چې باید زده یې کړې.

هلک هڅه وکړه چې هغه یو څیز هم زده کړي خو کیمیاګر په افق کې په خپل باښه ګي پسې کتل.

- ولې تاسو ته کیمیاګر وایي؟
- ځکه چې یو کیمیاګر یم.
- نور کیمیاګران هم هڅه کوي له وسپنې طلا جوړه کړي خو بریالي نشول، د کار کوم ځای یې ستونزه لري..؟
- د هغوی موخه یوازې طلا وه، خپله ځانګړې افسانه نه. پرته له دې چې قصد ولري ور ورسېږي.
- په نور څه باید پوه شم؟

کیمیاګر همداسې افق ته کتل. باښه‌ګی له یوه ښکار سره راغی، یو ځای یې ژور کړ او اور یې پکې بل کړ تر څو څوک لمبې ونه ویني.

کیمیاګر د ډوډی په تیارولو بوخت و. ویې ویل: زه یو کیمیاګر یم ځکه باید وای. کیمیاګري مې له خپل نیکه څخه زده کړې ده او هغه هم له خپل پلار نه زده کړې وه. خلاصه پلار او نیکونه مې ټول کیمیاګران وو. په ډېره مخکې زمانه کې به اکسیر اعظم په زمردي لوحه لیکل کېده خو ورو ورو داسې زمانه راغله چې خلکو به خبره سمه نه منله او رسالو، تفسیر او فلسفي مطالعو ته یې پیل وکړ. بیا یې حس کړه چې دوی تر مخکینیو نه په ښو لارو چارو خبر دي خو زمردي لوحه لا هم شتون لري.

- په زمردي لوحه څه لیکلي دي..؟

کیمیاګر په ۵ دقیقو کې په رېګونو څو خطونه رسم کړل او ویې ویل: دا هماغه څه دي چې په زمردي لوحه لیکلي دي. هلک هڅه وکړه چې له خطونو په څه پوه شي خو په ناهیلی یې وویل: دا ټول په رمز لیکل شوي دي، دغسې خطونه د انګرېز په کتاب کې هم وو.

کیمیاګر وویل: غلط شوې، دا خطونه په آسمان کې د هغو دوو بازانو د پرواز په څېر دي. هغه پرواز یوازې په عقل او منطق نشي درک کېدلی. زمردي لوحه د نړۍ روح ته مخامخ لاره ده.

هوښیاران پوهېدل چې دا نړی د جنت یو تت تصویر ده. د دې نړی شتون د یوې بې نقصه او پوره نړی پر شتون دلالت کوي. خدای دا نړی جوړه کړه تر څو انسانان د لیدلو وړ وسایلو له لارې غیر مادي اصولو ته ورسېږي او دهغه په حکمتونو پوه شي. زما موخه له (عمل) نه همدا ده.

- اړینه ده چې په زمردي لوحه پوه شم؟
- که د کیمیاګری په آزمایښت ځای کې وای د زمردي لوحې دپېژندلو لپاره ښه لاره به دې مطالعه کړې وای خو اوس چې په دښته کې یو ځان پکې غرق کړه؛ دښته د نړی یو صحیح درک درکوي. یوازې د رېګ یوه ذره په نظر کې ونیسه، د خلقت ټول راز به پکې ووینې.
- څنګه په دښته کې غرق شم؟
- زړه ته دې غوږ ونیسه، هغه له هر څه نه خبر دی ځکه د نړی له روح نه راغلی دی او یوه ورځ به بېرته هماغته ځي.

دوې نورې ورځې یې هم په چوپتیا سره تېرې کړې. کیمیاګر ډېر محتاط شوی و ځکه هغې سیمې ته نږدې کېدل چې تر ټولو خونړۍ جګړې پکې کېدلې.

څومره چې وړاندې تلل، هلک هڅه کوله چې خپل زړه ته غوږ ونیسي. څه آسانه کار نه و. زړه به یې کله له غم او درد نه ویل. کله به د لمر د راختلو نه دومره هیجاني کېدلو چې هلک به اړ کېده خپلې اوښکې پټې کړي. کله به چې یې زړه د خزانې په اړه غږېده تونډ تونډ به دربېده. کله به چې هلک په شوق سره بې پایه افق ته کتل، دربېدل به یې کم شول خو زړه یې هېڅ نه آرامېده، که څه هم کیمیاګر او هلک به غلي وو.

په هغه ورځ چې کله یې خېمه وهله، هلک وپوښتل: ولې باید خپل زړه ته غوږ ونیسو؟

- ځکه زړه چې دې هرچېرته وي خزانه دې هم همالته ده.
- خو زما زړه بې تابه دی، په يوې صحرايي نجلی پسې تړلی دی، د شپې چې کله رايادېږي خوب مې له سترګو تښتي. له ما څخه تل سوال کوي.
- همم، ډېر ښه. يعنې ستا زړه ژوندی دی. څه چې درته وايي غوږ ورته ونيسه!

په راتلونکيو دوو ورځو کې له يو څو وسلوال خلکو سره مخ شول او په افق کې يې هم يوڅو ډلې وليدې. هلک ورو ورو ډارېده ، د هغو خلکو کيسې يې په ذهن کې ګرځېدلې چې په خپله خزانه پسې راوتلي وو خو هېڅکله بېرته ژوندي نه وو ستانه شوي. بيا به يې فکر وکړ چې څه نو، شته لرې، ميينه لرې، که مړ هم شې پروا نه کوي. کله چې د دمې کولو لپاره ودرېدل هلک کيمياګر ته وويل: زما زړه خاين دی، نه غواړي زه مې لارې ته ادامه ورکړم!!

کيمياګر وويل: سهي پوی شوی يې، زړه دې ډارېږي چې د خوبونو د ريښتيا کولو په لاره دې ښايي هر څه له لاسه ورکړې،

هلک وويل: نو ولې مې زړه ته غوږ ونيسم؟

- ځکه هېڅکله نشې کولی هغه چوپ کړې. حتی که داسې ښکاره کړې چې هېڅ دې ورته خيال هم نه دی او خبرې يې نه اورې بيا به دې هم په سينه کې وي او دا فکرونه به په ترتيب سره درته بيانوي.
- نو وايې چې که خاين هم وي غوږ ورته ونيسم؟
- خيانت يوه غيرمنتظره ضربه ده، که زړه دې ښه وپېژنې هېڅکله دا کار نشي‐ درسره کولی. ځکه په هيلو او خوبونو به يې پوهېږې. هېڅکله دې له زړه څخه نشې تښتېدلی، نو ښه ده چې يوازې غوږ ورته ونيسې.

هلک خپل زړه ته غوږ ونيو. ورو ورو د خپل زړه له سستی او لټی سره بلد شو. نور نه ډارېده او واحې ته د بېرته تګ خيال يې هم له سره وايست.

يوه شپه چې دواړو بې سپوږمی اسمان ته کتل، هلک کيمياګر ته وويل: زما زړه له دې نه ډارېږي چې يوه ورځ درد و نه ويني!!

کيمياګر وويل: زړه ته دې ووايه چې له درد نه ډارېدل د حقيقي دردېدلو نه ډېر سخت دي.

راتلونکي ورځ لومړني خطر سر راښکاره کړ. درې وسلوال سړي دوی ته رانږدې شول او له دوی نه يې وپوښتل چې دلته څه کوي. کيمياګر وويل چې له باښه‌ګي سره ښکار ته راغلی يم.

يوه يې وويل: دوی تالاشي کړئ چې وسله خو به نه لري.

کيمياګر او هلک په آرامی د خپلو آسونو څخه راښکته شول. هغه سړي چې تلاشي خلاصه کړه ويې ويل: ولې دومره پيسې درسره دي؟

- اهرامونو ته د رسېدلو لپاره مې پکار دي!

بيا يې يو کوچنی بوتل راجګ کړ چې زېړه مايع پکې پرته وه، دا څه دي..؟

- هغـه تیـره د کیمیـاګری ده او دا پـه بوتـل کـې د ژونـد اکسـیر دی، څـوک چـې دا وڅښـي هېڅکلـه نـه مریضیږي او د تیږې یو ټوټه هره وسپنه په طلا بدلوي.

هغـو عربـانو وخنـدل. کیمیـاګر هـم د هغـوی پـه تقلیـد وخنـدل، وروسـته یـې اجـازه ورکـړه چـې خپـل وسـایل واخلي او لاړ شي.

تـر دوو ورځـو سـفر وروسـته، ترشـا یـې دوه آس سـواره پـه تـراټ راغلـل، ویـې ویـل: تاسـو نـور وړانـدې نشـی تللـی، تاسو د جګړې په ساحه کې یاست!

کیمیاګر مخامخ سترګې پکې وګنډلې او ویې ویل: زه هم نور وړاندې نه ځم!

عسکران چوپ شول او د تګ اجازه یې ورکړه،

هلک کیمیاګر ته وویل: څنګه دې سترګو تسلط پرې پیدا کړ..؟

کیمیاګر وویل: سترګې دې د روح قوت ښایي.

وروسته لـه دې چـې د غرونـو لـه لـړی نـه تېرېـدل کیمیـاګر هلـک تـه وویـل: تـر اهرامونـو پـورې یـوازې دوې ورځـې لار پاتې ده.

هلک وویل: که داسې وي چې بیا لاره رانه ښلوې، کیمیاګري راوښیه!!

- تـر اوسـه دې کیمیـاګري زده کـړې ده، کیمیـاګري د نـړی روح تـه ننوتـل او د هغـه خزانـې مونـدل دي چـې تـه یې وړ یې.
- نه، مطلب مې دا نه و. مطلب مې د سربو بدلول په طلا و.

کیمیاګر بیا د خپل عادت له مخې لکه کوبر چوپ شو.

د ډوډی په وخت یې په خبرو پیل وکړ:

نـړی پـه تـدریجي تکامـل کـې ده، د هوښـیارانو پـه خبره طـلا د تکامـل وروسـتی مرحلـه ده. لـه مانـه یـې علـت مـه پوښته ځکه نه پوهیږم ولې داسې ده.

ټولـه ورځ پـه حرکـت کـې وو. لمـر پـه ډوبېـدو و چـې یـوې صـومعې تـه ورسـېدل. کیمیـاګر لـه آس نـه کـوز شـو او هلک ته یې وویل: له دې ځای نه وروسته به یوازې ځې، تر اهرامه یوازې درې ساعته لار پاتې.

هلک وویل: ډېره مننه، تا ډېر شیان راوښودل.

کیمیاګر وویل: زده دې وو، خو درياد مې کړل.

د صـومعې دروازه یـې وډبولـه، یـو قبطـي راهـب راووت کیمیـاګر پـه همغـه ژبـه خـبرې ورسره وکـړې او وروسـته یـې هلـک تـه وویـل چـې دننـه راشي، کیمیاګر موسکی شو او ویـې ویـل ترڅـو چـې دلتـه یـو لـه آشـپزخانې څخـه ګټـه اخیسـتی شـو. دواړه جـوړه آشـپزخانې تـه چـې د صـومعې شـاته وه ننوتـل. کیمیـاګر اور بـل کـړ او راهـب لـږ سرب ورتـه راوړل. کیمیـاګر هغـه سرب پـه یـو اوسـپنیز لوښـي کـې واچـول او پـه اور یـې کېښـودل تـر څـو چـې ویلـې

شول. کیمیاګر لـه جېب نـه یـوه عجیبـه زېړه تیـږه راوایسـتله. یـوه نـری لایـه یـې تـرې ښېلـه کـړه، پـه مـوم کـې یـې وپېچلـه او سربـو تـه یـې ورواچولـه. د دې ترکیـب رنـګ ورو ورو سـور شـو، کیمیـاګر هغـه لـه اور نـه ښـکته کـړه او خپلـه د راهـب سره د قبـایلو د جګـړو پـه اړه پـه خـبرو بوخـت شـو. کیمیـاګر وویـل: فکـر کـوم دا جګـړه بـه ډېـره اوږده شي! راهب وویل: هغه څه به کیږي چې خدای یې غواړي!

کیمیاګر ځواب ورکړ: هو همداسې ده.

کلـه چـې وسـپنیز لوښـی سـوړ شـو، د هلـک ورپـام شـو خـو سـترګې یـې وبرېښېـدې. سربـو د هماغـه لوښـي شـکل نیولی و خو نور سرب نه وو بې جوړې طلا وه. هلک په تلوار وویل: زه به هم کله داسې وکړای شم..؟

کیمیـاګر وویـل: دا زمـا ځـانګړې کیسـه وه، سـتا نـه. خـو مـا غوښـتل درتـه وښـایم چـې څنګـه شـونې ده. کیمیـاګر طلا په څلورو ټوټو ووېشله. یوه یې راهب ته ورکړه او ویې ویل: هه! دا ستا برخه، ستا د سخاوت لپاره.

راهب وویل: خو دا ښخې ډېر څه دي!

- بس وایې خله نور مه پسې ګرځه.

یـوه ټوټـه یـې هلـک تـه ورکـړه . یـوه یـې ځـان تـه واخیسـته او ویـې ویـل: دا یـې زمـا، ځکـه دښـتې تـه ځـم او هلته هم جګړې دي!

څلورمه ټوټه یې راهب ته ونیوله او ویې ویله: دا هم د دې هلکي، خو که یې پکار شي!

هلک د اعتراض په شکل وویل: زه مې اوس خزانې ته ډېر نېږدې شوی یم!

- باور لرم چې پیدا کوې یې!
- نو دا د څه لپاره دي..؟
- ځکـه تـر اوسـه دې دوه ځلـه خپـل شـته لـه لاسـه ورکـړي دي، زه یـو خرافـاتي عـرب یـم او پـه متلونـو بـاور کـوم چـې؛ هـر څـه چـې یوځـل پـېښ شي کـېدای شي بیـا هېڅکلـه هـم پـېښ نـه شي، خـو کـه یـو څـه دوه ځلـې پېښ شي حتما دریېیم ځل هم پېښېږي!
کیمیاګر وویل: خدای پامان!
- خدای پامان!

***

د شـپې پـه وروسـتی برخـه کـې هلکـی د مصرـ لـه اهرامونـو سره ولاړ و، د آس لـه خـورجین څخـه یـې یـوه وسـپنه راواخیسـته او د ځمکـې پـه کېنـدلو بوخـت شـو. نـیم سـاعت د ځمکـې پـه کینـدلو بوخـت و. د کـار پـر وخـت پـه ځمکـه کـې تیـږه راوختـه، دی لا لـه تیـږې سره بوخـت و چـې د چـا د قـدمونو غـږ راغـی. څـو تنـه د

هلـک پـه خـوا راروان وو، هلـک نشـوای کـولی څېـرې يـې سـهي کـړي. هغـوی رانيـږدې شـول. يـوه يـې وپوښتل: دلته څه کوې..؟

هلک په لړزه و، څه يې ونه ويل.

بل يې وويل: موږ د جنگ له ډگر نه راغلي يو او پيسې مو پکار دي، دلته څه پټوې..؟

هلک وويل: هېڅ.... هېڅ نه پټوم!

يـوه يـې هلـک تـر غـاړې ونيـو، بـل يـې جېـب تـه لاس ننـه کـړو او طـلا يـې تـرې راوايسـته. چيغـه يـې کـړه! طلا...طلا!!

مشر يې وويل: لکه چې دلته يې طلا خښه کړې ده!

هلک يـې اړ کـړ چـې نـوره هـم ځمکـه وکنـي، لـر پـه راختلـو؛ پـه هلـک يـې وهـل ډبـول شروع کـړ. کـالي يـې څېـرې څيرې او خولـه يـې پـه وينـو سره وه. کيميـاګر ويـلي وو: کـه مـړ شـې پيسـې دې څـه پـه درد خـوري..؟ ډېری وخت پيسې نشي کولی د چا ژوند وژغوري.

د هلک حوصله سر شوه او لـه وينـو ډکـه خوله يې وويـل: زه مـې پـه خزانـه پسـې يـم! پـه پړسېدلې خولـه يـې هغو ته ټوله کيسه وکړه.

مشر يې وويل: خوشې يې کړی نور څه نه لري، طلا يې هم ښايي غلا کړې وي!

هلک بېهوښه پـه رېگونـو کـې پرېـوت. هغـه سـړی مخکـې لـه تـگ نـه ورتـه راغـی او ويـې ويـل: هـې گـوره مـوږ ځو!! ته نـه مـړ کېـږې خـو وروسـته بـه پـوه شـې چـې نبايـد دومـره لـوده شـې! دوه کالـه وړانـدې مـا هـم پـه دې ځـای کـې څـو ځلـه خـوب وليـد چـې بايـد د اسـپانيا دښـتو تـه سفر وکـړم، هلتـه پـه يـوه ړنگـه کليسـا کـې چـې شپانه له خپلـې رمـې سره شـپه پکـې تېـروي د چنـار د ونـې لانـدې خپلـه خزانـه پيـدا کـړم! خـو دومـره بېعقـل نـه يم چې د يوه خوب لپاره له دښتې نه واوړم!

وروسته لاړل او په تيارو کې ورک شول.

هلـک پـه لـړزا راپاڅېـد او يوځـل بيـا يـې اهرامونـو تـه وکتـل، لکـه ورپـورې خانـدي چـې. ده هـم وخنـدل. زړه يې له خوښۍ باغ باغ و؛ اوس په ريښتيا پوهېده چې خزانه يې چېرته ده !

***

### وروستی برخه

د شـپې پـه لـومړۍ برخـه کـې سـانتياگو وړوکـې کليسـا تـه ورسـېد، چنـار لا هـم دنـگ ولاړ و. هغـه شـپه يـې پـه يـاد شـوه چـې لـه رمـې سره يـې دلتـه تېـره کـړې وه، خـو اوس د رمـې درک نـه و يـوازې لـه ځـان سره يـې يـوه بېلچه راوړې وه.

پـه ځمکـه کېناسـت او پـه آسـمان کـې یـې سـترګې وګنډلې. لـه جېـب نـه یـې وړوکـی بوتـل شراب راوایسـتل او په سر یې واړول. هغه شپه ورياد شوه چې په دښته کې يې له کيمياګر سره څښلي ول.

فکـر یــې کــاوه، د دې ګــنج د مونــدلو لپــاره د خــدای دا جالبــه نقشــه، کــولي مېرمنــه، زوړ پاچــا، غــل، کيمياګر... ټول جالب ورته ښکارېدل!

سـخت خـوب ورغـی، سر یـې کېښـود. کلـه چـې راویښ شـو لمـر سـم راپورتـه شـوی و. بېلچـه یـې راواخیسـته او په کندلو يې پيل وکړ.

خوله یـې اسمان تـه ونیـوه او ویـې ویـل: اې زوړ جـادوګره! تـه لـه پیلـه پـه هـر څـه پوهېـدې! حتـی پـه صومعه کـې دې یـوه ټوټـه طـلا هـم راتـه پرېښـوده چـې وکـړای شـم بېرتـه دلتـه راشـم! هغـه راهـب چـې زه پـه څـیرې څيرې کاليو کې وليدلم سخت يې وخندل، نه کېدل چې له دې خو دې معاف کړی وای..؟

یو غبر یې د باد له څپې سره تر غوږه شو: که مې درته ويلي وای اهرام ته نه تلې، ښکلی و که نه...؟

ویـې خنـدل او کـار تـه یـې دوام ورکـړ. نـیم سـاعت وروسـته یـې د بېـل څوکـه پـه کلـک څیـز ولګېـده، صـندوق یـې راوابېسـت او چـې خـلاص یـې کـړ مخـې تـه یـې پرېمانـه جـواهر، اسـپانوي د طـلا سـکې، قیمتـي ډبـرې... پراته وو.

باد تېز شـو، بـاد و چـې د افریقـا لـه خـوا راتلـو خـو دا ځـل یـې د مغربیـانو د حملـې نښـه نـه وه راوړې او نـه یـې د دښـتې ورږم راوړی و؛ پرځـای یـې داسـې بـوی راوړی و چـې هلـک ښـه پېژانـده، هلـک پـه مینـه وویـل: فاطمې! زه درځم!!

**د ژباړې پای**

**۱۴۰۰\۰۱\۱۰ هـ . لمريز**

**کابل، خوشحال خان مېنه**